مکمل او مدلل

داخترونو او قربانۍ مسئلي

د قرآن او سنّت په رڼا کښې

ليکوال

مولانا محمد رفعت قاسمي
مدرس دار العلوم ديوبند

خپروونکې
مکتبه رشيديه

(ب)

(ک)

• اَللّهمّ اَعِنّا عَلٰی ذِکْرِکَ وَشُکْرِکَ وَحُسْنِ عِبَادَتِکَ •

ټرون او انتساب

زه دا خپله حقيرانه پلټنه د مسلمه امت مؤسس

او اعلى مورث سيدنا حضرت ابراهيم خليل الله ته

په منسوب کولو نيکمرغه کوم . هغه څوک چې د

هغه د قربانۍ ستر روايت به تر قيامته پاته وي.

انشاءالله تعالى

د ليكوال عرض

نحمده و نصلي على رسوله الكريم دا مهال زمابې وزله اووم كتاب (مكمل و مدلل مسائل عيدين و قرباني) كوم چې نژدې شپږ سوه مسئلې پكښې دي وړاندې كوم. د الله ﷻ حضورته د زړه له كومې شكر ويونكى يم چې ماته يې توفيق راكړ څو د دين د خدمت موقع په لاس راغله ... په دې ليكنه كښې هڅه شوېده چې د اخترونو ، قرباني او عقيقې په هكله ټولې هغه مسئلې را ټولې كړم چې د قرباني د مسئلو په لټه كښې لاس ته راغلې دي او يا هم د قرباني احكام او شرائط دي. د همدې ټولو د يو ځاى كولو زيار ايستل شوى دي . الله رب العزت دې داسعي او هڅه قبول كړي او هغه دې ګټور او نافع و ګرځوي . بيا دې هم الله ﷻ د ديني خدمت توفيق راته راكړي. داهم دخداى ﷻ فضل او مهرباني ده چې د دې بيوزله كتابونه يې دومره بريالي او په عامو او خاصو وګړو كښې منلي ګرځولي دي چې د ځينو مدرسو مسئولينو هغوى په درسي نصاب كي داخل كړي دي . د هنددننه او بهر ځينوكسانو خپلې مورنۍ ژبې ته د اړولو اجازه غوښتې ده. الله ﷻ دې ټولو قدرمنو او مرسته كوونكو ته نيك اجر او ګټور علم وركړي . آمين يا رب العالمين د احقر هيله ده ، هغه كسان چې له دې كتاب څخه ګټه اخلى ، ما زما مور او پلار او زما شيخ او روزونكې حضرت مولانا مفتي محمود حسن صاحب (دامت بركاته) د ديوبند د دارالعلوم مفتى اعظم او نورو استاذانو ته هم دعاوكړى .و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين:

١

احقر محمد رفعت (قاسمى)
دديوبند(الهند) د دارالعلوم مدرس
محرم الحرام ١٤١٢ هجرى

تصديق

د جامع شريعت و طريقت. فقيه الامت، سيدی حضرت مولانا مفتی محمود حسن دامت برکاته، چشتی، قادری، سهروردی، نقشبندی
مفتی اعظم دارالعلوم ديوبند

باسمه تعالی

محترم مولانا محمد رفعت صاحب قاسمي، د ديوبند د ارالعلوم مدرس، د خپلو پخوانيو تأليفاتو په څير په دي کتاب کښي د اخترونو، قرباني او عقيقی اړوند مسائل د فتاوا وو له مختلفو کتابونو څخه راټول کړي دي. او په امت يي احسان کړې دي، هيله ده په دي ټولګه سره په اخترونو، قرباني او نورو کښي د بدعتونو مخه ونيول شي. حق تعالی شانه دي ورته قبول کړي، امت ته دي ګټور ثابت کړي. مؤلف دي الله ﷻ په نورو ترقيو سره ونازوي او ورته دنجات ذريعه دې وګرځوي. آمين.

العبد محمود غفرله چهته مسجد دارالعلوم ديوبند
۸ ربيع الثانی ۱۴۱۲ھ – ۱۱۸ اکتوبر ۱۹۹۱
د جمعي ورځ

ارشاد گرامی

حضرت مولانا مفتی نظام الدین صاحب دامت برکاته.
صدر مفتی دارالعلوم دیوبند.

الحمد لله ربّ العلمین والصلوة والسلام علي سيد المرسل
وعلى اصحابه واتباعه التابعين لهم الى يوم الدين ت
ستركو لاندې غوره شوی فتاوې، هغه بيان او هر چات
كټورې دي چی پکښې تولی درج شوي فتاوي ((من اوعر
)) دي چې د معتبرو منشرانو دي. هيله ده. لوی الله
داکتاب هم د نورو په خير مقبول او گټور وگرځوي آمين

فقط کتبه العبد نظام الدين
۱۶ ربيع الثانی ۱۴۱۲ه ۲۵ اکتوبر ۱۹۹۱ع

رأی گرامي

حضرت مولانا مفتی محمد ظفیرالدین صاحب زید مجده ،
مفتی دارالعلوم دیوبند ،

الحمد لله و کفی و سلامٌ علی عباده الذین اصطفی

د اخترونو په اړه ډیرې مسئلې دي. د قربانی او عقیقی په اړه هم ډیر مسائل دي . دا ټولې د فقه او فتاواوو په کتابونو کښې را غونډې شوي دي خو په وخت سره هر چاته د مسئلې موندل څه اسانه خبره نه ده او نه يې هر وخت کوم عالم او مفتی په اسانه سره پیدا کولای شوای. الله ﷻ دې قاري محمد رفعت صاحب ته چې د دیوبند د دارالعلوم استاذ دی نیک اجر ورکړي چې نوموړی د فقه او فتاوا ووله ګڼو کتابونو څخه ډیرې مسئلی له حوالو سره راغونډې کړي دي او په یوه ټوک کښې يې په باب او فصل کښې تر مختلفو عنوانونو لاندې یوځای کړې دي. ما کتاب په سرسری توګه وکوت ، ځینې ځایونه مې پکښې غور و کړ. دا مې محسوس کړه چې قاری صاحب ډیر زیار ایستلی دي او په خپل زیار او هڅه کې بریالی دي. تر دې وړاندې د نوموړی ډیر کتابونه خپاره شوي دي د عامو خلکو مقبولیت يې تر لاسه کړی دي. هیله ده دا کتاب هم لاس په لاس و ګرځي ولوستل شي او مسلمانانو ته د لار ښوونی هم ټولو ته د منلو وړ و ګرځي. زموږ توقع دا ده چې د قاری صاحب دا دنده تر سره کړي. او ورته اسانتیاوې برابرې کړي. الله ﷻ دې ورته دا زیار قبول کړي او د اخرت توښه دې ورته و ګرځوي. آمین یارب العالمین په پای کښې ورته په دې خدمت کې د زیار ګا للو مبارکي وایم.

دعا غوښتونکی

: محمد ظفیرالدین غفرله

مفتی دارالعلوم دیوبند ۱۸ ربیع الثانی ۱۴۱۲ مع

بسم الله الرحمن الرحيم

وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾ رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ
﴿١٠٠﴾ فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي
أَرَىٰ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ۚ قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا
تُؤْمَرُ ۖ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ ﴿١٠٢﴾ فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ
لِلْجَبِينِ ﴿١٠٣﴾ وَنَادَيْنَاهُ أَن يَا إِبْرَاهِيمُ ﴿١٠٤﴾ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا ۚ إِنَّا
كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْبَلَاءُ الْمُبِينُ ﴿١٠٦﴾
وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴿١٠٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴿١٠٨﴾ سَلَامٌ
عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ﴿١٠٩﴾ كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١١٠﴾ (سورة الصافات)

ژباړه : او ويې ويل: زه ځم خپل رب ته ، هغه تعالی به لار راکړي. ای ربه ! وبخښئ ماته نيک زوی) بيا زيری ورکړ موږ هغه. ته د يوه هلک چې وی به د زغم خاوند ، بيا هر کله چې ورسيدو له هغه سره منډې ته ويې ويله: ای زويه ! زه وينم په خوب کښې چې تا ذبح کړم . بيا ته وګوره څه وينې. ويې ويل: ای پلاره ! کوه چې تاته يې حکم کيږي. ته به ما بيا مومې که الله ... و غوښتل د زغم خاوند . بيا چې دواړو حکم و مانه او راويې پرزاوو پرمخی. او موږ هغه ته اواز وکړ داسې ای ابراهيمه ! تا رښتيا وښود خوب. موږ دغسې ورکوو بدله نيکي کوونکوته بيشکه هم دغه دي ښکاره جاج اخيستل او د دې بدله ورکړه موږ يو څاروی د ذبح کولو لپاره لوی او

باقی و لرل موږ په ده باندې په وروستو خلکو کښې چې سلام دې وي په ابراهیم باندې. موږ هم دغسې ورکوو بدله د نیکي کوونکو.

د تفسیر خلاصه: او ابراهیم ﷺ چې د دې خلکو له ایمان راوړلو څخه نا امیده شو.) وېي فرمایل چې زه خو (له تاسو څخه په هجرت کولو سره) د خپل رب (په لارکښې يو) طرف ته ځم هغه به ما (ښه ځای ته) ورسوي (لکه څرنګه چې د شام ملک ته ورسید او دا دعاء یې وکړه) ای زما ربه: ماته يو نیک زوی راکړې نو موږ ورته د يو زغمناک زوی زیری ورکړ (دغه زوی یې پیدا او بیا هوښیار شو) نوکله چې دغه هلک داسې عمرته ورسید چې له ابراهیم ﷺ سره به ګرځیدو راګرځیدو نو ابراهیم ﷺ یوخوب و لید چې زه دا زوي د الله تعالی په حکم ذبح کوم. دا ثابته نه ده چې مرئ یې پریکړې هم وه او کنه؟ غرض دا چې په را بیداریدلو سره یې دا د الله ﷻ حکم و باله. ځکه چې د پیغمبرانو علیهم السلام خوب هم وحی وي او په دغه حکم باندې عمل کولو ته تیار شو. بیا یې د خپل زوی د خوښې او رضا د معلومولو په غرض ور څخه رایه وغوښتله ورته یې و فرمایل: چې برخورداره زه وینم چې تا (د الله ﷻ په حکم) ذبح کوم نو ته هم سوچ وکړه ستا څه رایه ده؟ هغوی وفرمایل: بابا! (په دې کښې له ما څخه د پوښتلو څه اړتیا ده تاسو ته چې د الله ﷻ) حکم شوی دي تاسو یې په داړه توګه ترسره کړي انشاء الله تاسو به ما زغم لرونکی ووینی، غرض کله چې دواړو (د الله ﷻ حکم ومانه او بابایي خپل) زوی (د ذبح کولو لپاره) په اړخ څملولو او (غوښتل یې چې مرئ یې پرې کړي او دغه وخت) موږ ورته اواز وکړ چې ای ابراهیم! (آفرین شه) تاسو خوب ښه رښتیا وښود (یعنې په خوب کښې چې درته حکم شوی دي په هغه دي د خپل لوری پوره عمل وکړ اوس موږ دغه حکم منسوخ کوو. نو اوس یې پرېږدي. غرض دا چې هغوی یې پریښودل يو خوا ژوندي په ژوندي پاته شو او بلې خوا ته

پرې لوړې درجې ورکړل شوې.) موږ مخلصانو ته هم دغسې بدله ور کوو (چې د دواړو جهانونو راحت ورته ورکوو) په حقیقت کښې دا یو لوی امتحان وو چې پرته له کامل مخلص څخه بل څوک یي برداشت کولای نشي. څکه مو په دې ستره ازموینه ستره بدله ورکړه په دې ازموینه کې له ابراهیم ﷺ سره اسماعیل ﷺ هم شریک وو څکه به په بدله کښې هم ورسره شریک وي . او موږ یوه لویه ذبیحه (د حلالولو څاروی) د هغوی په بدله کښې ورکړ (چې ابراهیم ﷺ یي ذبح کړی) او موږ په ورپسې راتلونکو (خلکو) کښې داخبره د هغوی د پاره باقی پریښودله چې په ابراهیم دې سلام وي. (لکه چې د هغه له نوم سره تر اوسه پورې علیه السلام ویل کیږي) موږ مخلصانو ته هم دغسې بدله ورکوو (چې هغوی لره د خلکو د عاګانو او سلامتې دزیرو مرکز جوړ کړو).

دزوی دقربانۍ واقعه

په دې ایاتونو کښې د ابراهیم ﷺ د سپیڅلي ژوند یوه بله مهمه پیښه بیان شوېده چې ابراهیم ﷺ د یوازیني زوی قربانی وړاندې کړه . د واقعې اساسی برخې د تفسیر د لنډیز څخه څرګندیږي. څنې تاریخي تفصیلات بیا داسې دي ((و قال انی ذاهب الی ربی سیهدین)) (او ابراهیم ﷺ وفرمایل: زه د خپل رب لوری ته ځم هغه به راته سمه (لاره وښیي) دا خبره ابراهیم ﷺ هغه مهال وکړه چې هغه د خپل ټاټوبی څخه بیخي ناهیلی شو او هلته د خپل خوریي ، لوط ﷺ څخه پرته بل چا وربانديي ایمان نه راووړ. د رب ته د تللو مطلب دا دي چې د دارکفر په پرېښودلو داسې یو ځای ته ځم چیرې چې د تللو حکم راته الله ﷻ کړئ دي او چیري چې زه د خپل رب عبادت کولای شم هغه خپله بی بی ساره (رض) او خپل خوریي لوط ﷺ له ځان سره ملګری کړل او په سفر روان شول . د عراق له مختلفو سیمو تیر شو شام ته ورسید . د ابراهیم ﷺ تر دا مهاله کوم اولاد نه وو شوی څکه یي

:ا دعا وکړه چي په وروستي آیت کښې راځی ((رب هب لی من الصالحین
)) ای زما ربه ا ماته یو نیک زوی راکړي) دا دعا و منله شوه او الله ﷻ
ورته د یو زوی د پیدا کیدلو زیری ورکړ. فرمایي:((فبشرنه بغلم حلیم))(
نو موږ ورته د زغمناک زوی زیری ورکړ) په((حلیم)) فرمایلو سره الله ﷻ
ې ته اشاره و فرمایله چي. دا ماشوم به په خپل ژوند کښې د صبر او زغم
:ا څرګندونه وکړي چي څوک به یې مثل موندلای نشي . د دې زوی د
پیداکیدلو پیښه داسې وه چي سارې (رض) دا ولیدل چي اولاد یې نه
کیږي فرعون سارې ته خپله لور هاجره (رض) د خدمت لپاره ورکړې وه.
:غه هاجره (رض) ، سارې (رض) ابراهیم ﷺ ته ورکړه. ابراهیم ﷺ ورسره
نکاح وکړه . ددې بی بی هاجرې (رض) څخه یې یو زوی پیدا شو چي نوم
یې ورباندې اسماعیل ﷺ کښیښود .

دابراهیم ﷺ خوب

(فلما بلغ معه السعی قال یبنی انی اری فی المنام انی اذبحک)) کله چي
هدا زوی یې داسې عمر ته ورسید چي له ابراهیم ﷺ سره ګرځیدو
راګرځیدو نو ابراهیم ﷺ و فرمایل: ای زما زویه ا زه وینم چي ذبح کوم
ې . له ځینو روایتونو څخه داسې معلومیږي چي ابراهیم ﷺ دا خوب
ري شپې په پرله پسې توګه ولید (قرطبی) یقیناً چي دپیغمبرانو ﷺ خوب
حی وي. څکه د دې خوب مطلب دا وو چي د الله ﷻ له طرفه ابراهیم ﷺ ته
ا حکم شوی دي چي خپل یو زوی ذبح کړي . دا حکم خو الله په مستقیم
ول یا د ملائکې په واسطه هم ورکولای شوای. په خوب کښې د دې حکم
ورکولو حکمت په ظاهر دا وو چي د ابراهیم ﷺ بشپړه بندګي او
رمانبرداري څرګنده شي. د خوب په واسطه په حکم کښې د انساني نفس
اره د ډیرو تأویلونو او تعبیرونو ځای وي. خو ابراهیم ﷺ د تأویلونو په
ی حکم منلو ته د تسلیم سر ټیټ کړ . (تفسیر کبیر)

له دې سره ، سره د الله ﷻ اصل مقصد د اسماعیل ﷺ ذبح کول نه وو او
ابراهیم ﷺ ته یوازې د هغه د حلالولوحکم ورکول وو . بلکه د دې حکم
ورکولو منشأ داوه چې دهغه دحلالولو پوره انتظام وکړه . او ځان ورته
چمتو کړه . په خوله سره په حکم ورکولو کښې به دا ازمیښت نه وو . ځکه
یې ورته په خوب کښې وښودل چې هغه ﷺ خپل زوی حلالوي . په دې
اشاره ابراهیم ﷺ پوه شو چې د ذبح کولو حکم ورته شوی دی او په پوره
توګه ورته تیار شو . په دې ډول ازمیښت هم پوره شو او خوب هم رشتیا شو
. که دا حکم ژبنۍ وای . یا به ازمیښت نه وو یا به د حکم منسوخ کول را تلل
دا ازموینه څومره ګرانه وه ؟ دې ته د اشارې کولو لپاره الله ﷻ د ((فلمابلغ
معه السعی)) الفاظ زیات کړیدي . یعنې په زاریو د غوښتل شوي زوی د
ذبح کولو حکم داسې مهال ورکړل شو چې کله همدا زوی له خپل پلار سره
د ګرځیدو راګرځیدو جوګه شوی وو او د روزنې څخه د پلار هیله او اسره
ورته وي . مفسرینو لیکلي دي چې په دغه وخت کښې د حضرت اسماعیل
ﷺ عمر دیارلس کاله وو او ځینو لیکلي دی چې بلوغ ته رسیدلی وو .
(تفسیر مظهری)

له زوی سره مشوره

((فانظر ماذاتری)) (ته هم وګوره (فکر وکړه) چې رأیه دې څه ده ؟)
ابراهیم ﷺ دا خبره په دې غرض نه وه پوښتلې چې ګوا کې د الله ﷻ د حکم
په عملي کولو کښې زړه نازړه وو بلکې هغه د خپل زوی امتحان اخیست
چې د دې ازمیښت پوره کولو ته تر کومه حده تیار دي . د نورو انبیاؤ د
طریقه د تل لپاره داوه چې هغوی به د الله ﷻ د حکمونو منلو ته همیشه تیار
اوسیدل خو لاره به یې هغه غوره کوله چې په وس او حکمت سره په اسانی
بناوه . که ابراهیم ﷺ له خپل زوی سره پرته له مشورې هغه ذبح کولای نو
دا به دواړو ته ګرانه تمامیدله . د مشورې په ډول یې ځکه ترې وپوښتل چې

د الله ﷻ حکم ورته له اول څخه لا معلوم شوی وای او د دې سختۍ د تیرولو لپاره به له اول څخه لا تیارو و . که یې زوی څه زره غړولای . هغه به پوه شوی وو. (روح المعانی او بیان القران)

دا زوی هم د الله ﷻ د دوست زوی وو او په خپله هم پیغمبر کیدونکی وو نو یې په خواب کښې وویل : ((یاابت افعل ماتؤمر)) (پلاره ! په درکړل شوي حکم باندې عمل وکړه) له دې خواب څخه خو د اسماعیل ؑ د ځان سپارلو بې مثاله جذبه ثابتیږي او دا هم معلومیږي چې په دې کم عمر کښې الله ﷻ ورته څرنګه ذهن او علم ورکړی وو ؟ ابراهیم ؑ ورته د الله ﷻ حکم بیان کړی نه وو بلکې یوازې خوب یې ورته ویلی وو . خو اسماعیل ؑ و پوهید چې د پیغمبرانو علیهم السلام خوب وحی وي چې په حقیقت کښې د الهی حکم یو صورت وي. لکه چې ده د خوب په ځای د الله ﷻ د حکم یادونه وکړه اسماعیل ؑ خپل پلار په دې هم داده کړ چې ((ستجدونی ان شاء الله من الصبرین)) (انشاء الله مابه له صبر کوونکو څخه و مومي) په دې جمله کښې د اسماعیل ؑ انتهایي ادب او تواضع څرګنده ده یو خو یې په انشاء الله ویلو سره معامله الله تعالی ته وسپارله او په دې وعده کښې چې د دعوی کوم صورت معلومیږي هغه یې ختم کړ. بل دا چې هغه دا هم ویلای شوای چې ((انشاءالله ما به صبر کوونکی ومومې)) خو د دې په ځای یې وفرمایل. ((انشاءالله مابه تاسوله صبر کوونکو څخه ومومی)) په دې کښې دا اشاره ده چې صبر کوونکي یوازې زه نه یم بلکې ډیر صبرکوونکي په دنیا کښې تیرشوي دي زه به انشاءالله پکښې شامل شم. په دې خبره یې د تکبر ، غرور او فخر نښه هم ختمه کړه او خپله کمزوري او عاجزي یې ښکاره کړه. (روح المعانی)

له دې څخه دا سبق اخیستل کیږي چې که د یوه انسان په خپل ځان باندې ډیر باور هم وي خو بیا هم غټې دعوې کول په کار نه دي: داسې چې فخر او

غرور ورڅخه معلوم شي. که د دې ډول خبرو اړتیا محسوس شي نو په الفاظو کښې دا لحاظ ساتل په کار دي چې د خپل ځان په ځای په الله تعالی باندې اعتماد او باور ښکاره شي. ترڅوچې کیدلای شي د تواضع لمن پرېښودل په کار نه دي.

د حکم تعمیل

((فلمااسلما)) (نو کله چې هغوی دواړه تیټ شول) د اسلم معنی راټیټېدل منل او غاړه ایښودل دي. مطلب دا دي چې ، کله هغوی د الله ﷻ دحکم په وړاندې تیټ شول یعنې پلار د زوی د ذبح کولو او زوی د ذبح کیدو اراده وکړه. دلته د ((لما)) ځواب په الفاظو کښې نشته چې ښه نو بیا څه وشول ؟ دلته دا اشاره ده چې د پلار او زوی د قربانۍ احساس او دا جذبه دومره عجیبه وه چې الفاظ یې هغه شان بیانولای نشي . ځینې تاریخي او تفسیري روایتونه داسې راغلي دي چې شیطان درې کرته د ابراهیم ﷺ د تیرایستلو هڅه وکړه. ابراهیم ﷺ هغه هر ځل په اوو ډبرو وویشت او وېي شاړه چې د هغې په یاد کښې تر اوسه پورې په منی کښې درې ځایونه د دې عمل په یادګار کښې په ډبرو ویشتل کیږي. دوی دواړه . پلار او زوی د دې عجیب عبادت د پرځای کولو لپاره د قربانۍ ځای ته ورسیدل. اسماعیل ﷺ خپل پلار ته وویل: پلاره ماکلک وتړه او خپلې جامې هم ساته چې زماپه وینو ککړې نشي . بیابه زماپه ثواب کې فرق راشي. بله دا چې که زمامور زماوینه ووینې ډیره به غمګینه شي. چاړه هم تیره کړه. زما په غاړه یې ژر تیره چې ساه مې ژر وخیژي ځکه مرینه یو سخت شی دي. کله چې زما مورته ورشې زماسلام ورته ورسوی او که مې کمیس د هغې تسلا لپاره غواړې هغې ته یې یوسی. کله چې یومهربان پلار د زوي داسې خبرې واورې نو په زړه به یې څه تیرېږي ؟ خو له ابراهیم ﷺ څخه د استقامت یوغر جوړ شو او ورته په ځواب کښې یې وویل ا

((د الله ﷻ د حکم په تعمیل کښې مې څومره مرسته کوی ؟)) چې دا یې وویل: زوی یې ښکل کړ سترګې یې له اوښکو ډکې شوې ، هغه یې وتاړه او ((وتله للجبین)) (هغه یې پړمخې په خاورو څملاوو . په هر حال په تاریخي روایاتو کښې د دې ډول څملولو وجه دا بیان شوې ده چې په اول کښې یې اسماعیل ﷺ ستوني ستغ څملاوو . خود هغه مرۍ چړې نه خوړله ځکه الله ﷻ په خپل قدرت سره د چاړې اوغاړې تر مینځ یوه فلزي تو ته پیدا کړې وه. دا مهال اسماعیل ﷺ دا غوښتل چې ماپړمخې څملوه. ځکه زما دمخ په لیدلو ستاسو د پلار توب شفقت هځول کیږي بله دا چې زه چاړه وینم نو په زړه کښې مې وېره پیدا کیږي. بیا یې هغه څملولو او چاړه چلول یې پیل کړل. (تفسیر مظهری اونور والله اعلم)

په ازموینه کښې بریالیتوب

((و نادینه ان یابراهیم قد صدقت الرءیا ﷺ)) (او موږ هغوی ته اواز وکړ چې ای ابراهیم ! تاسو خپل خوب رښتیا کړی وښود) یعنې د الله ﷻ د حکم په تعمیل کښې مو هیڅ ډول سستي ونه کړه (په خوب کښې هم ورته چاړه راکښل ښودل شوي وو) اوس دا ازمېښت پوره شو ځکه یې پرېږدي . ((اناکذلک نجزی المحسنین)) موږ اخلاص کوونکو ته هم دغسې بدله ورکوو) یعنې کله چې د الله ﷻ کوم بنده د الله ﷻ حکم منلو ته په پوره اخلاص غاړه کیږدي او د ټولو جذباتو قرباني ته چمتو شي نو موږ هغه د دنیوي ستونزو څخه هم خوندي ساتو او د اخرت اجر او ثواب یې هم د هغه په عملنامه کښې لیکو . ((و فدینه بذبح عظیم)) (او موږ ورته یوه لویه ذبیحه د دې په بدل کښې ورکړه) په روایتونو کښې راغلي دي چې دا هغه پسه وو چې د آدم ﷺ زوی هابیل په قرباني کښې پیش کړی وو . (والله اعلم) په هر حال دا جنتي پسه . ابراهیم ﷺ ته ورکړ شو چې د الله ﷻ په حکم یې د خپل زوی په ځای قرباني کړ . لویه ذبیحه ، ځکه ورته وویله شوه

چي د الله له لوري ورته را استولې شوې وه او په قبليدلو کښې يې هيڅ
د شک ځای نه پاته کيږي . (تفسير مظهری او نور) (معارف القرآن ص ۹۱ ج ۲)

د عيد (اختر) د تسميې وجه

د شوال د مياشتې لومړی نيټه عيد الفطر (وړوکې اختر) او د ذی الحجې لسمه نيټه عيد الاضحی (لوی اختر) او دواړه ((عيدين)) بولي . دا دواړه نيټې په اسلام کښې ((عيد)) او د خوشحالی ورځې وي چې دوه دوه رکعته د شکر لمونځ پکښې ادا کيږي. د اخترونو لمونځ د امام ابو حنيفه رح په نزد واجب دی خو امام شافعی (رح) او نور علماء يې مؤکد سنت ګڼي. د ((عيد)) توری له ((عود)) څخه مشتق دي معنی يې بيا بيا راتلل دي. څکه همدا ورځې عيد بولي چې بيابيا يعنې هر کال راځي . ځينې پوهان وايي چې د دې ورځې نوم څکه عيد دي چې الله ﷻ عود کوي يعنې خپلو بندګانو ته په رحمت او بخشش سره نظر کوي. (مظاهر حق، جديد ج ۲ ص ۲۷۷)
عيد له عود څخه دي چې معنی ئې بيابيا راتلل دي.. همدا مفهوم په دې ورځ کښې پروت دي. دا ورځې هر کال راځي او يوم عيد يې بولي. په همدې ورځ د الله ﷻ نعمتونه په بندګانو راځي او په تکرار سره راځي . دا ورځ هر کال د خوشحالي پيغام راوړي . پدې ورځ د هر چا د عزت او حرمت احساس له خيل چنښتن سره سم تازه کيږي ، نوي کيږي ، الله ﷻ چي خپل بندګان يې درمضان المبارک په مياشت کښې له خوړلو څښلو منع کړي وی. په همدې ورځ ورته په افطار سره د رحمت رجوع او عود کوی . په همدې اسلامي مناسبت کښې د عود مختلف اړخونه ښکاره کيږي څکه په عيد بلل کيږي. په عربی محاوره کښې هم هره د خوشحالي غونډه د عيد په نوم ياديږي. (الصبح النوری شرح قدوری ص ۱۷۷)
جمعه د هرې اونۍ عيد دي او د اونۍ په ترڅ کښې د لمونځونو د نعمت شکرانه ده. په شريعت کښې يې له طاعت سره د نعمت شکر مقرر کړئ دي

او هغه یې له خپل جنس څخه چې د نعمت د زیاتیدلو سبب جوړشي ، خو زکات چې معلوم وخت نه لري . کومه غونډه ورته نه جوړیږي او نه ورته د اداء په وخت کښې مناسب شکر شته. د عید په لفظ کښې یوه بله وجه هم وایي هغه دا چې د بیاراتلو د نیک فالی په نیت همدا ورځ عید بولي. لکه دکاروان (قافلې) په روانیدلو ورته قافله وایي. قافله له قفول څخه جوړه شوېده چې معنی یې بیا راتلل دي یعنې خدای ﷻ دې وکړي چې دا قافله بیرته راوګرځي او راشي .(اشعة اللمعات ص۶۶۰ج۲)

د اخترونو د رواوالی دلیل

د اخترونو لمونځ د هجرت په لومړي کال مشروع وګرځید . ابوداؤد له انس (رض) څخه روایت کوي : ((قال قدم النبیﷺ المدینة ولهم یومان یلعبون فیهمافقال ماهذان الیومان ؟ قالوا کنانلعب فیهمافی الجاهلیة فقال رسول اللهﷺ قد ابدلکم الله بهماخیرا منهمایوم الاضحی ویوم الفطر))

رسول اللهﷺ له مکې څخه مدینې ته هجرت وکړ. د مدینې خلکو دوه ورځې خوشحالۍ کولې او په هغوی کښې به یې د لوبو تماشې کولې. رسول اللهﷺ ور څخه وپوښتل دهمدې دوو ورځو حقیقت او حیثیت څه دي ؟ هغوی عرض وکړ: موږ د جاهلیت په زمانه کښې همدا رسم درلود . رسول اللهﷺ ورته وفرمایل: اللهﷻ تاسو ته د هغو دوو ورځو په بدل کښې تر هغو غوره ورځې مقررې کړې دي. هغه عید الاضحی او عید الفطر دي)

تشریح : د قومونو د خوشحالي ورځې په اصل کښې د هغوی د تاریخ او روایاتو ترجمان او د قومي مزاج هنداره وي . له همدې امله ښکاره دي چې تر اسلام وړاندې د جاهلیت په دوره کښې چې د مدینې اهل کومې د خوشحالۍ ورځې درلودې . د جاهلي طبیعت او تخیل او دناپوهۍ د روایاتو منعکس کوونکې وې . د رسول اللهﷺ په وینا کښې ورباندې صراحت دي چې اللهﷻ هغه پخوانی د خوشحالي ورځې ختمې او په ځای

يي وړوکې اختر او لوې اختر د دې امت لپاره د خوشحالي ورځې مقررې کړې. چي په توحيدي تخيل او تصوراتو او د ژوند له اصولو سره سم د تاريخ او رواياتو هنداري دي. کاشکي مسلمانان همدا خپل اخترونه په سمه توګه او د رسول الله ﷺ له لاربښوونو سره برابر ونمانځي نو د اسلام د روح او پيغام د پوهيدلو لپاره همدا دوه اخترونه بس او کافي دي.

(معارف الحديث ص ۲۹۸ ج ۲ او کتاب الفقه ص ۵۴۸ ج ۱)

اخترونه څه شی دي ؟

هر قوم کوم ځانګړي اخترونه او د خوښۍ ورځې لري. په هغو ورځو کښې خلک له خپل حيثيت او د ژوند له سطح سره سم ښې جامې اغوندي او غوره خوراکونه پخوي او په نورولارو هم خپله خوشحالي ښکاره کوي. دا د انسان د فطرت غوښتنه ده. له همدې امله داسې انساني وطن نشته چي هغوی د اختر او خوشحالۍ ځانګړې ورځې ونلري. په اسلام کښې هم دوه ورځې معلومې شوې دي. يوه د عيد الفطر (وړوکي اختر) او بله دعيد الاضحی (لوی اختر) ورځې. بس همدا دمسلمانانو لپاره مذهبي او ملي ورځې دي. له دې سربيره که مسلمانان د خوشحالي کومې نورې ورځې لمانځي کوم ديني اصل نه لري. بلکې د اسلام له نظره هغه يوازې خرافات دی. د مسلمانانو ټولنيز ژوند هغه مهال پيل شو . کله چي رسول الله ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکړ. د همدې دوو اخترونو لړۍ هم له هغه مهال څخه راپيل شوه. څرنګه چي ښکاره ده وړوکې اختر (**عيدالفطر**) د رمضان المبارک په پای کښې د شوال لومړنۍ ورځ او د لوی اختر (عيد الاضحی) ورځ د ذی الحجی په لسمه نيټه نمانځل کيږي.. رمضان المبارک په ديني او روحاني لحاظ د کال په دوولسو مياشتو کښې مبارکه مياشت ده. په هغې کښې د قرآنکريم نزول پيل شوی دي په دې توله مياشت کښې په امت مسلمه باندې روژه نيول فرض دي. د دې مياشتې په شپو کښې يو مستقل

لمونځ (تراويح) په جماعت سره اضافه شوې دي او د هر ډول نيکيو په زياتوالي کښې ترغيب ورکړل شوی دي لنډه داچې ، دا مياشت ټوله د نفسي غوښتنو قرباني کول او مجاهدې او دهر ډول اطاعت او عبادت د کثرت مياشت ده. ښکاره ده چې د دې مياشتې په پای کښې کومه ورځ راځي د روحاني او ايماني برکتونو په لحاظ د دې مستحق ده چې د اختر او خوشحالي ورځ و بلله شي. او دا ورځ د عيد الفطر ورځ ده. د ذی الحجی لسمه نيټه هم يوه تاريخي ورځ ده چې د امت مسلمه مؤسس او اعلی مورث ابراهيم خليل الله ﷺ د الله ﷻ په امر خپل د زړه سر زوی اسمعيل ﷺ د هغه په خوښه د الله ﷻ حضورته د قرباني لپاره وړاندې کړ. د هغه په غاړه يې چاړه ور کښيښوده او په دې توګه يې د خپلې وفا داري ، تسليمي او رضاثبوت وړاندې کړ. د الله ﷻ په مينه اومحبت په دې قرباني کښې بريالی راووت ، زوی يې اسمعيل ﷺ ژوندې پاته شو الله ﷻ د هغه په بدل کښې د يوه څاروی قرباني ومنله. د ابراهيم ﷺ په سر يې د ((انی جاعلک للناس اماما)) تاج کښيښود. د هغه د دې عمل نقل يې د قيامت تر ورځې د مينې د دود (رسم عاشقي) په خير باقي پرېښود . که کومه ورځ د تاريخي عظمت له امله څوک لمانځي له دې ورځې سره سيالي کولای نشي کومه چې مسلمانان يې د ابراهيمي ملت او دخليلي أسوې په توګه د ذی الحجی په لسمه نمانځي او نه بله ورځ د امت مسلمه لپاره تر دې د لمانځلو مستحق ده. همدا ده چې د دوهم اختر په توګه لمانځله کيږي. چيرې چې په وادی غير ذی زرع (د ښته ، ناودانه ځمکه) کښې د اسمعيل ﷺ د قرباني پيښه را منځ ته شوې ده هلته د مسلمانانو د حج کلنې غونډه کيږي. د هغې مناسک او قرباني ګويا د هغې قرباني اصل او لومړی درجه يادګار دي. په هره اسلامي بنا او کلي کښې د لوی اختر مراسم. لمونځ د قرباني او نور هم

د هغې نقل او دوهمه درجه یادګارونه دي . په هر حال دا دواړه ورځې (د شوال لومړی او د ذی الحجې لسمه) د دې ځانګړتیاوو له امله یوم العید (د اختر ورځ) او د امت مسلمه لپاره د خوشحالي ورځې مقررې شوې دي.
(معارف الحدیث ص ۲۹۷ ج ۳)

د اخترونو د شپو فضیلت

له ابی امامة (رض) څخه روایت دي : ((عن النبی ﷺ قال من قام لیلتی العیدین محتسبا لم یمت قلبه یوم تموت القلوب))
(رواه ابن ماجه) (رسول الله ﷺ و فرمایل: څوک چې د اخترونو دواړې شپې د اجر او ثواب په هیله په عبادت تیرې کړي د هغه زړه به په هغې ورځ نه مري په کومه ورځ چې د خلکو زړونه (له ویرې ، د قیامت په ورځ) مري

تشریح : د قیامت ورځ به دومره له وېرې او خوف څخه ډکه وي چې خلک به د تکلیف له امله مړیني ته ترژوند ترجیح ورکوي. څوک چې د دې ورځو په مبارکو شپو کې خپل زړه له الله ﷻ سره ولري د قیامت په ورځ به ورته امن ، سکون او ارامتیا په برخه شي ځینې پوهان وایي د هغوی زړونه به د دنیا په مینه کښې نه لیوني کیږي چې په حقیقت کښې هغه د زړونو مړینه ده او داسې به له دې بدې مړینې څخه خوندي وي. (الترغیب والترهیب ۳۸۴-۲)
د اخترونو په شپو کښې عبادت او نفلونه کول مستحب دي.
(فتاوی محمودیه ص ۲۲۵ ج ۲)

د ذی الحجې د لسیزې فضیلت

ابن عباس (رض) وایي: ((قال رسول الله ﷺ ما من ایام العمل الصالح فیهن احب الی الله من هذه الایام العشرة)) (رواه البخاری) ((رسول الله ﷺ وفرمایل: څومره چې نیک اعمال الله ﷻ ته په دې لسو ورځو کښې محبوب دي په نورو ورځو کښې ورته دومره محبوب نه دي))

تشریح : لکه څرنګه چي د اونۍ په اوو ورځو کښې جمعه د کال په دوولسو میاشتو کښې رمضان المبارک او په رمضان کښې لس وروستنۍ ورځې خاص فضیلت لري ، همدا شان الله د ذی الحجی لومړی لس ورځې هم د فضل او رحمت ځانګړې ورځې ټاکلې دي . او حج یي هم په همدې ورځو مقرر کړی دي. په هر حال دا د خدای ﷻ د رحمت یوه ځانګړې عشره ده. په دې ورځو کښې الله ﷻ ته د بنده هر نیک عمل خورا محبوب دي او ورته زیات ارزښت لري. (معارف الحدیث ص ۴۱۷ ج ۳)

د قربانۍ په پرېښودلو وعید

((عن ابی هریره (رض) ان رسول الله ﷺ قال من کان له سعة ولم یضح فلایقربن مصلانا)) (له ابو هریره (رض) څخه روایت دی وایي رسول الله ﷺ وفرمایل: که چا وس درلود بیایي هم قربانی ونکړه. زموږ عیدګاه ته دي نژدې هم نه راځي .)

تشریح : د اسلامي شریعت یو مهم شعار او د ابرهیم ﷺ یادګار . که څوک وس لري او بیایي نه کوي ، بې پروایي کوي نو هغه څرنګه ومنل شي چي له نورو سره ګډ اختر جوړ کړي . (ترغیب ص ۲۹۴ ج ۲)

مسئله : ډېر خلک له وس درلودلو سره سره قرباني نه کوي په تېره په کلیو کښې خلک ورڅخه غفلت کوي. خو په حدیث شریف کښې دي ((که وس لرونکي شخص قرباني ونکړي زموږ عیدګاته دې نژدې نه راځي)) . خو عیدګا ته هغه څوک ځي چي مسلمان وي او لرې والی ترې هغه څوک کوي چي کافر وي اوس تاسو فکر وکړئ چي په حدیث کښې د قربانۍ د نه کوونکي په هکله څومره سخت وعید دي .(اغلاط العوام ص ۱۳۲)

یادونه (ځینې ځایونه دا رواج پاته دي چي خلک وزه . پسه یا کوم ستر ځاروی اخلي او قرباني کوي یي ، خو که کله په مالي لحاظ کمزوری شي سره له دې چي د نصاب څښتن هم وي ، هڅه کوي ځان ترې خلاص کړي

وايي هر کال مي قرباني کوله که يي سږ کال ونکړم نو څه مشکل دي ؟ د اسلام دين يو بشپړ دين دي په هغه کښې به انسان تر قيامت پورې دضروریاتو خیال ساتي. د قربانۍ لپاره دسهولت څو لارې شته. غوره او افضل خو داده چي د نصاب څښتن يوه وزه، يو پسه يا بل څه قرباني کړي. که دا همت او وسعت ورسره نه وو بيا دې په لوی څاروي کښې يوه برخه واخلي ترڅو د قربانۍ له امر څخه خلاص شي او دا وعيد ورته متوجه نه وي. که په کومه سيمه کښې لوی څاروی نه موندل کېده يا يي چا غوښه نه خوړه نو دقرباني قيمت دې يوې داسې مدرسې ته ورکړي چي هلته د قربانۍ انتظام شوی وي او په دې توګه دې دوه ګونه ثواب ترلاسه کړي.
(رفعت قاسمي)

په ټولو کښې غوره عمل

عن عايشة ﷺقالت: قال رسول الله ﷺ ما عمل ابن ادم من عمل يوم النحر احب الى الله من اهراق الدم و ان لياتى يوم القيامة بقرونها و اشعارها و اظلافها و ان الدم ليقع من الله بمكان قبل ان يقع بالارض فطيبوا بها نفسا ((ترمذي وابن ماجة))

(له عايشې (رض) څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ و فرمايل: الله ج ته د لوی اختر د ورځې په عملونو کښې تر قرباني زيات خوښ بل عمل نشته. د قيامت په ورځ به د قربانۍ څاروی له ښکرونو او ويښتانو سره (ژوندي) راشي. او دقرباني وينه ځمکې ته تررسېدلو وړاندې الله ج ته دقبول وړ ګرځي. نو ای د خدای ج بندګانو ! د زړه له اخلاصه قرباني کوئ

تشريح : د ځينې عبادتونو په ځانګړو ورځو کښې خاص اجر او ثواب وي. رحمن او رحيم خدای ج ته د عيد الاضحی په ورځ دا عمل ډېر خوښ دي چي د ده په نوم ډېر څاروی قرباني او ډېره وينه و بهيږي. دا په اصل کښې د انسان د جذباتو قرباني او د هغه د فدا کاري ازموينه ده. د دې اساس د امت اسلاميه له اعلی جد او خدای ج ته خورا غوره بنده. ابراهيم عليه السلام له

یوې بې مثاله قرباني څخه ایښودل شوي دي په خپل لاس د خپل خواږه زوی ترحلالولو به بله کومه ستره قرباني وی ؟ ابراهیم ﷺ چي خپل د زړه سر زوی قرباني کاوو ، دومره همت نور څوک کولای نشي . له همدې امله که خدای ﷻ د داسې کار امر کړې نه وي خو قرباني یادګار یې په حنیفیه امت کښې جاري پرېښود . او هر کال په شتمن مسلمان باندې لازم وګرځېد . د الله ﷻ ارشاد دي: ((لن ینال الله لحومها ولا دمائها و لکن ینالہ التقوی منکم)) (الله ﷻ ته (د دې څاروو) غوښه او وینه نه رسیږي بلکي ستاسو تقوی ورته رسیږي.) له همدې امله دا دزړه د تقوی ازموینه ده. که د زړه له اخلاصه وي څمکې ته یې د څاڅکي تر رسېدلو وړاندې منل کیږي . له دې آیت کریم څخه دا حقیقت ښکاره کیږي چي د الله ﷻ د خوشحالي سبب یوازې د څاروو د وینې بهول یا دغوښې خوړل نه بلکې د الله ﷻ د رضااو خوشحالي سبب تقوی ، اخلاص په مینه او جذبه سره قرباني کول دي . د بنده چي څومره په قرباني کولو کښې خوشحالي وي هغومره یې قرباني منلې او مقبوله ده. (الترغیب والترهیب ص۲۹۲ج۲)

د قرباني تاریخ

د الله ﷻ د تقرب حاصلولو په نیت د کوم حلال څاروی حلالول له هغه وخت څخه راپیل شوي دي چي آدم ﷺ دې نړۍ ته راغلې او دنیا اباده شوېده. تر ټولو وړاندې د آدم ﷺ د زامنو هابیل او قابیل قرباني وه((اذ قربا قربانا)) (یعني کله چي دواړو یوه، یوه قرباني وړاندې کړه . (المائده سورة ۶ آیة)

علامه ابن کثیر رح د ابن عباس (رض) په روایت د دې آیت په تفسیر کښې وا یي ! هابیل د یوه پسه قرباني وکړه او قابیل د خپلې کروندې څه غله دانه په قرباني کښې وړاندې کړه. د هغه وخت د دستور مطابق له اسمان څخه اور راغی او د هابیل قرباني یې وسوزوله او د قابیل دا یې پرېښودله. د قرباني د منل کېدلو یا نه منل کېدلو نښه دا وه چي منل شوې قرباني به

سوځول کېدله او دا رسم د ډېرو انبياء و په زمانه کښې وو . د آل عمران
سورت کښې دا يادونه شوېده . ((بقربان تأ كله النار)) يعني هغه قربان
چي اور وخوړله) هغه مهال چي به له کفارو سره په جهاد کښې څه غنيمت
ترلاسه شو . هغه به هم له اسمان څخه راغلي اور سوځول او دا سوځول د
د منلو او مقبوليت نښه وه په محمدي امت باندې د الله ﷻ دا ځانګړی انعام
شوې دي چي د قرباني د غوښې او د غنيمت د مال خوړل ورته حلال بلل
شوي دي . په حديث شريف کښې رسول الله ﷺ په خپله هکله د الله
انعامونه ياد کړي دي او فرمايي : ((احلت لی الغنائم)) يعني ماته
غنيمت مال حلال ګرځول شوې دي . همدا دليل وو چي د رسول الله ﷺ په
زمانه کښې ځيني غير مسلمانانو خلکو اسلام ونه مانه . دا عذر به يې
وړاندې کاوو چي د پخوانيو انبياوو ﷺ په زمانه کښې به قرباني په اور
سوځول کېدله اوس همداسې نه کيږي . له همدې امله موږ تر هغه وخته
پورې ايمان نه راوړو تر څو همداسې ونشي ، د مائدې په صورت کښې
هغوی دې خبرې ته ځواب ورکړل شوي دي چي که د هغو انبياوو په زمانه
کښې قرباني اور سوځوله تاسو کله ورباندې ايمان درلود . تاسو له هغوی
څخه انکار درلود آن هغوی مو وژل . نو ستاسو دا خبره د حق غوښتنې
لپاره نه بلکې يو حيله او غولونه ده د څاروی قرباني کول لومړی د آدم ﷺ
په وخت کښې عبادت او دالهی تقرب ذريعه وپيژندله شوه . د قرباني
ځانګړې طريقه دا وه چي دا سمان له لوری به اور راغی او هغه قرباني به يې
وسوځوله . دا طريقه د رسول الله ﷺ تر زمانې پورې په ټولو انبياوو کښې
مشهوره وه . قرباني يو مهم عبادت او يو له اسلامي شعايرو څخه دي : د
جاهليت په زمانه کښې هم قرباني يو عبادت ګڼل کېده خو قرباني به د
بتانو په نوم کېدله . اوس هم په نورو مذهبونو کښې قرباني کيږي . مذهبي
رسم بلل کيږي . د بتانو په نوم يا د عيسی ﷺ په نوم کيږي قرباني هم د هغه

ذات په نوم کوي. رسول الله ﷺ تر هجرت وروسته ، لس کاله په مدینه منوره کښې تېر کړل. هر کال يي قرباني کړېده. له دې څخه معلومېږي چي قرباني يوازې تر مکې معظمې پورې ځانګړې نه ده. بلکې په هر چا په هر ښار کښې چي وس ولري واجب ده. د جمهور علماوو همدا تاکيد دي چي قرباني کول واجب ده.
(شامی تاریخ قربانی ص ۲۱)

د قربانۍ حقيقت

په اصل کښې د قرباني حقيقت دا ده چي عاشق (مين) خپل ځان د الله ﷻ په حضور کښې قرباني کړي. خو د الله ﷻ رحمت ته ګوري د دې په ځای يي حکم کړې دي چي کوم ځاروی قرباني کړی زه يي داسې منم لکه تاسو چي ځان قرباني کړی وي. لکه چي ابراهيم ؑ ته د الله ﷻ له لوري په خوب کښې لار ښوونه وشوه چي خپل خوږ زوی اسمعيل ؑ قرباني کړه. اوس ګوري چي دا حکم لومړی د اولاد په هکله وو. اولاد هم هغه خوږ زوی وو کوم بې اطاعته نه وو بلکه يو نبي وو. د داسې زوی قرباني کول يو خورا سخت کار دي لکه دا چي په خپل لاس خپل اولاد حلالوی. دا رښتيا هم سخت او ګران کار دي. خودا چي ابراهيم ؑ ته خدای حکم وو په خپله سينه يي د خدای ﷻ حکم وړاندې کړ او د تسليم سريي ټيټ کړ خپل زوی يي د منی منحر (د حلالولو ځای) ته بوت او ورته ويي ويل: ((زويه ! ما ته له ﷻ امر کړی دي ترڅو تا حلال کړم)) اسمعيل ؑ ورته ځواب ورکړ ((افعَلْ مَاتُؤمَرُ)) (يعنې هغه څه وکړه چي درته امر شوی دي) که زما روح د ارتياوی نو يو روح څه شی ده. که زر روحګانې ولرم هم نذرانه دي. ابراهيم ؑ يي لومړی په پړي لاس او پښې ورته وتړل بيا يي چاړه تېره کړه زوی هم خوشحاله وو چي د خدای ﷻ په لار کښې قرباني کيږي. پلار هم خوشحاله وو چي په لاس يي د خپل زوی قرباني وړاندې کوله. د خدای ﷻ

: حکم په تعمیل یې د زوی په غاړه چاړه کښیښوده چاړه پڅه شوه. هم
مهال الهی حکم وشو: (قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ)
(الصافات ۲۳ پاره)
بې شکه تاسو خپل خوب رښتیا کړ. زه نېکي کوونکوته داسې بدله ورکړ
. د دې په بدل کښې له جنت څخه یو پسه راولم او ستاسو د زوی دروح
عوض د بل موجود قرباني مقرروم. همداسې له هغې ورځې څخه اوښ
گاومېښه، غوا، پسه، وزداو نور د قرباني فدیه (بدله) مقرر شول.
(خطبات حکیم الاسلام ص ۲۹۵ ج ۲)

د هغوشیانو قرباني چې ورسره نفس مینه لري

د قرباني هم یو صورت دي او یو د روح. صورت خو یې د یوه څاروي حلال
دي. خو حقیقت یې د نفس د قرباني جذبه پیدا کېدل او تقرب الی الله دې
ښکاره ده چې داروح او حقیقت به د څاروی له حلالولو څخه پرته څرنګ
پیدا شي. وړاندې دا خبره ښکاره شوه چې هر صورت لره ورسره ورته رو
وي. لمانځه ته د لمانځه روح. په زکات کښې د زکات روح او په قربان
کښې د قرباني روح وي. لنډه دا الله ﷻ چې کوم صورت مقرر کړې دي. د
هغه روح یې ورته ورکړي ده. که هغه د څه شي قرباني وغواړي نو هغ
قرباني ورکوي یعنې د قرباني په کولو د قرباني روح ورسره پیدا کیږي
لن تنالوا البِرَّ حَتّٰی تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّوْنَ) : یعنې تاسو به تر هغه خیر ته
نه رسیږي ترڅو موخوښ شی خرڅ کړي نه وي)) مال یو خوږ او خوښ ش
دي. په شتمني کښې څاروی زیات ګران دي ځکه هغوی ژوندي دي ورسر
مینه کیږي. که بې روحه کوم شئ ضایع شي انسان یې بیا خوړولای ش
خو که ژوندي موجود مړشي بیا هغه نه پیدا کیږي. دا مال او شتمني دا
یوشی دي چې که ښکاره دي ، ګټه یې نه رسیږي خو چې مصرف شي ګ
کوي. نو چې دسایې ګټه له مصرف څخه پرته ګټه نلري نو د الله ﷻ رضا

خوشحالي چي خورا لوړه کېږه ده څرنګه و نفس ته د ګرانو شيانو له مصرف څخه پرته به حاصله شي. ځان، اولاد، مال عزت او نور. الله تعالی فرمايي :((اِنَّ اللهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ))
(۱۱ پاره ۲ رکوع سورة التوبه)

بېشکه الله له مؤمنانو څخه ځانونه او مالونه د جنت په بدله کښې اخستي دي) غرض دا چي هرڅه به ورکوي چي د بندګی اظهار وشي. په حقيقت کښې جنت د ايمان بدله ده او اعمال د ايمان د پيژندلو ذريعه ده. د آخرت په سودا کښې جنت د ايمان بدل دي خو زمونږ اعمال يي د پوخوالي نښه ده او نفس ته د خوښو شيانو قربانول لازمي دي. که د مال د خرڅولو امر وو هغه به ورکوو. که دځان د ورکړې امروو هغه به ورکوو او که د عزت اړتيا وه هغه به قربانوو. همدا دميني د پوخوالي نښه ده. (خطبات حکيم الاسلام ص۲۹۱ ج۲)

د قربانۍ حکم عام دي

د ابراهيم ﷺ په کارونو کښې ځيني داسې شيان راپاته دي چي تر ځانګړي ځای پورې خاص دي. يوازې پرحاجيانو باندې لازم دي. لکه په منی کښې درې جمرې ويشتل. د صفا اومروه ترمينځ سعی(چابک تلل) او اود ځله تل راتلل. خو ځيني داسې شيان دي چي تر کوم خاص ځای پورې اړه نلري. هر ځای کيږي لکه دځاروو قرباني کول چي د عام امت لپاره يي حکم عام دي. واجب او لازمه ده. رسول الله ﷺ صحابه وو، تابعينو او ټول امت هر ځای د دې واجب اداء کړېده. دا يوازې يو واجب امر نه بلکه د اسلام له شعائرو څخه ګڼل کيږي((والبدن جعلنا ها لکم من شعائرالله لکم فيها خير))(د حج سورة) يعنې د قرباني ځاروي مو د الله ﷻ له شعائرو ګرځولي دي . د الله ﷻ شعائر د دين شعائر دي.. دا هم ښکاره ده ، که قرباني هلته وشي له کوم ځای څخه چي پيل شوې دي ثواب يي زيات او افضل کار دي. له دې امله رسول الله ﷺ په وروستني حج کښې د سلو اوښانو قرباني وکړه چي

درې اوېا اوښان يې په خپل لاس حلال کړل او نور يې على (رض) ته وسپارل. (مسلم) دا د دومره زيات شمير څاروو قرباني يې د فضيلت لرلوله امله وکړه کنه په مدينه منوره کښې به يې دوه څاروی حلالول. عبدالله ابن عمر (رض) وايي: رسول الله ﷺ په مدني لس کلن ژوند کښې هر کال قرباني کوله (ترمذی شريف) د رسول الله ﷺ معمول داوو چې د اختر لمونځ به يې اداء کړ. په عيدګاه کې به يې قرباني حلالوله تر څوټولو مسلمانانو ته دا شرعي حکم ورسيږي او اداب يې هم وروښي او په دي هم خلک وپوهول شي چې تر لمانځه وړاندې قرباني نه حلاليږي لنډه دا چې د قرآن کريم له لاربښوونې سره سم) رسول الله ﷺ امت ته لومړي د لمانځه داداء او بيا د قرباني د کولو حکم جاري کړی دي. که په مکه کښې وي، که په مدينه کښې. يا دنړۍ په بل ګوټ کښې. د قرآنکريم له آيتونو او نبوی احاديثو ښکاری چې د قرباني عبادت د آدم ﷺ له زمانې ثابت دي خو د لوی اختر په ورځ د هغه واجب والی د ابراهيم ﷺ د يادګار په ډول دي. قرباني په اسلام کښې يو مهم واجب دي چې هر ځای او هر وخت ضرور دي رسول الله ﷺ تل په مدينه کښې قرباني کوله. نن چې څوک قرباني تر مکې مکرمې پورې ځانګړې بولي او هغه عبادت نه بلکه د حجاجو مېلمستيائې بولي نه يوازې دا چې له قرآن کريم او نبوي احاديثو څخه ناخبري ښئي بلکه د انبياوو په تاريخ هم نه پوهيږي که هغه تر مکې مکرمې پورې ځانګړې وای نو بيا تر لمانځه وړاندې وروسته څه خبر ده او د دوو لسمې نېټې له ماښام څخه وروسته يې ممانعت څه معنی درلوده. په يوولسمه ډول ګڼل کيږي نو د رسول الله ﷺ له لوري د قرباني د څاروی د عمر او نورو ضرورت بل څه نه اړينا نسته. که مېلمستيا وايې د بل شي غوښه تر دې

ښه مونده کېدله او نور خوراکی توکي به ورسره ملګري کېدل او هغه به لازم وو .او خاص هغه وخت چي رسول الله ﷺ په خپله او صحابه کرامو (رض) په مدينه منوره کښې هر کال قرباني کوله ،نو اوس له هغوي څخه خلاف بله رايه چلول د اسلام په باره کي بې د يرغښ د ناپوهی جرأت کول دي .
(تاريخ قرباني ص ۲۲ مصنف مفتي محمد شفيع)

په قرباني او صدقه کښې توپير

د ابراهيم ﷺ له واقعې څخه معلوميږي چي اصل مقصد د ځان قرباني کول دي. له همدې امله په انسان کښې د ځان سپارلو او نذرانه کولو جذبه پيدا کيږي . او دا يي روح ده خو دا روح په صدقه کښې کله ترلاسه کيږي د قرباني روح ځان ورکول دی خو په صدقه کښې د مال ورکړه ده. نو د دې عبادت له صدقې سره توپير شته. دا هم ښکاره ده چي صدقې ته کومه ورځ ټاکلې نه ده خو د قرباني لپاره ځانګړې ورځ ده. او د هغې ورځې نوم هم يوم النحر ده او عيد الاضحی يعني د قرباني ورځ اېښودل شوې دي. چيرې چي د قرباني مسئله ده نو هغه په سفلو او خلفو کښې جاري پاته شوي ده د انبياؤو او امت وربانديې اجماع ده. دا بله خبره ده چي د امام شافعي ، امام احمد او امام ابويوسف (رحمهم الله) په نزد قرباني سنت او د امام ابو حنيفه (رح) په نزد واجب ده. دا په حکم کښې اختلاف او د امامانو دقت دي خو د قرباني په مشروعيت کښې ټول اتفاق دي. که دا غير مشروع عمل واي نو بيا ولې په حديثونو کښې د هغې صفات بيانېدل ؟ له صحابه ؤ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ فرمايل: د قرباني د څاروی سترګې او غوږونه ګورئ. داسې څاروي مه قرباني کوي چي غوږ يي غوڅ شوئ وي يا يي په غوږونو کښې سوری وي. نور هم داسې صفات يادشوي د ي چي ورڅخه معلوميږي چي د قرباني احکام له صدقې څخه بالکل بيل دي. په ټول امت کښې ترنن پورې دا عمل را روان دي. د امت تعامل تر ټولو لوی دليل دي.
(خطبات حکيم الامت ص ۳۲۷ ج ۲)

دا ښکاره شوه چې د څاروو قرباني چې هر کال په مسلمانانو لازميږي او د
ابراهيم ﷺ د يادګار په صفت پاته دي دا هم ښکاره ده چې د څاروی بيه
صدقه کول يا په بل نېک کار کښې لګول د مسلمان له ذمې څخه د قرباني
فريضه نه ساقطوي داسې لکه د روژې په ځای لمونځ يا د لمانځه په ځای
چې روژه نه درېږي. يا زکات د حج او حج چې د زکات ځای نه نيسي که کوم
شخص خپل ټول مال د الله ﷻ په لار کښې صدقه کړي يو لمونځ يې ورباندې
اداکېدلای نشي. همداسې که صدقه او خيرات هر څومره وی د ابراهيمي
يادګار ځای نه نيسي او نه ورباندې له قرباني څخه خلاصېږي.
(تاريخ قرباني ص۱۸ مفتي محمدشفيع)

د صدقې په ورکړه قرباني نه اداء کيږي

د ټولو شرعي اعمالو مقصد تقوی دي. مثلا که لمونځ په عاجزی سره
وشي تقوی ترې پيدا کيږي په روژه کښې د نفس د تزکيې په صورت کښې
په جهاد کښې د شجاعت او زړورتوب په حال کښې او په قرباني کښې د
ځان قربانولو په صورت کښې تقوی حاصليږي. که د قرباني په ځای لمونځ
وشي د لمانځه په انکسار او عاجزی کښې تقوی پيدا کيږي خو هغه تقوی
نه پيدا کيږي کومه چې له قرباني څخه حاصليږي نو که څوک د قرباني په
ځای صدقه ورکړي. په قيامت به ورته د صدقې ثواب ورکول کيږي خو د
قرباني غوښتنه ترې کيږي دا پوښتنه ترې کيږي چې قرباني دې ولې نه ده
کړې؟ که څوک لمونځ کوي او روژه نه نيسي. د روژې پوښتنه ورڅخه
کيږي چې ولې دې نيولې نه ده دا داسې مثال لري چې تاسو خپل نوکر ته
ووايا ست. خواړه پاخه کړه. خو هغه د رته کور ښه صفا ستره کړي. هر شي
به خپل ځای منظم کښېږدي. تاسو چې راشي او هغه پاکوالې وګوری
يقينا خوشحاله کيږی. خو دا چې خواړه يې نه وي پاخه کړی ور څخه
پوښتنه کوی چې ولې موخواړه نه دي پاخه کړي. که څه هم هغه کار کړی

دي خو هغه بل کاردې او هغه کار چې ورته ويل شوي هغه بل کار همداسې صدقه او خيرات نفلي عبادت دي او قرباني واجب ، نو د صدقې په ورکړه بيا هم د قرباني پوښتنه کيږي. لنډه دا هر صورت چې اختيارشي. هغه روح پکښې وی د انسان په صورت کې د انسان روح او د څاروی په صورت کښې دڅاروی روح وي. نو د قرباني روح به په صدقه کښې څرنګه راشي ؟ په قيامت به د هر عمل خپل خپل صورت وي. مثلا هغه شخص چې مسجد جوړ کړي په جنت کښې به ورته مانی ورکړه شي. روژه نيوونکي ته به د سترخوان غوړيږي ، همدا شان د قرباني په هکله ارشاد دي چې دقيامت په ورځ به د قرباني څاروی له ويښتانو ، ښنګرو او ښکرانو سره حاضر شي) په حديث شريف کښې د هغو شيانو يادونه شوې ده کوم چې بې کاره بلل کيږي او موږ يې لرې غورځوو . دا چې په بې ګټې شيانو ثواب ورکول کيږي په اصل شي چې غوښه ده څرنګه به ثواب نه ورکول کيږي بل ارشاد دي: ((پخوا تردې چې د قرباني وينه ځمکې ته ورسيږي د الله تعالی په دربار کښې د مقبوليت درجه ورکوله کيږي تاسو دا عمل (قرباني) وکړئ. زړونه ورباندې ساړه کړئ) د مقبوليت همدا درجه هم تر قرباني پورې ځانګړې ده . (خطبات حکيم الاسلام ص۴۰۶-۴۰۷ج۲)

د قربانۍ له امله په څاروو کښې کمښت نه راځي

په قرباني باندې دا اعتراض کيږي چې په دريو ورځو کښې په يوه ورځ په لکونو څاروی حلاليږي. د دې ناوړه اغېزه په اقتصاد پريوزي خکه څاروی کميږي او د کال په اوږدو کښې خلک د غوښې له کمښت سره مخامخ کيږي. خو دا يوه خيالي خبرده چې د انسان ذهن مصروف ساتي او انسان د خلقت له حکمت څخه غافله کوي. په کايناتو کښې د قدرت نظام داسې په حکمت چليږي چې څه شي ته اړتيا ډېره وي ، الله دهغه شي داکيدل هم زياتوي. کومو شيانو ته چې اړتياکمه وي هغه شئ هم کم وي کوم

کوچي څخه چي اوبه ایستلې کیږي اوبه یې نه ختمیږي او که یې د اوبو ایستل کم شي د هغې اوبه کمیږي. هغه قرباني چي پخوا کېدلې اوس نه کیږي د دین د نورو احکامو لکه لمونځ او روژه په دې کښې هم کمښت راغلی دی بلکه په قرباني کښې لاغفلت زیات شوی دی. د اسلام په صدر کښې یوه، یوه شخص سل، سل اوښان حلالول. رسول الله ﷺ یو ځل سل اوښان قرباني کړي چي دري اویا یې په خپل لاس ذبح کړي. هغه وخت له دې زیاتې قرباني سره سره داسې شکایت نه کېده چي څاروي یا کم شول او یا یې بیه لوړه شوه. اوس داسې په قرباني کولو کښې کمښت راغلی دی ډېر داسې کسان دي چي ورباندې واجب وي خو قرباني نه کوي. نو اوس په څارو کښې د قرباني له امله کمښت ښودل د واقعیت خلاف خبره ده. اوس ډېر داسې هیوادونه دي چي نفوس یې په نوم مسلمانان دي خو نه پکښې قرباني کیږي او نه د قرباني له کبله پکښې څاروی کمیږي خو زموږ تر هیواد هلته غوښه ګرانه او کمښت یې محسوس دی. که څوک دانه مني یو کال دې کوم ښار یا هیواد قرباني بنده کړي بیا دې وګوري چي غوښه او شېدې څومره ارزانه کیږي. کوم اسلامي هیواد به داسې تجربې ته هم انشاء الله حاضر نشي. خو زموږ ګاونډي هیواد (هند) دانه چي قرباني پکښې نه کیږي بلکه د کال په جریان کې پکښې د غواګانو غوښه نه خوړله کیږي خو پکښې نه د غواګانو ګلې لیدل کیږي. نه د شیدو ویالې او نه هم د کوچو ارزاني. په ګرد هندوستان کښې چي مسلمانانو او انګریزي بوخیانو به په لکونو غواګانې حلالولې او د اختر قرباني به هم کېدلې خو بل ډېر والی مثال کوری نژدې سل کاله وړاندې تول سفرونه په اسونو کېدل. ګډی به اسونو کېدلې او پوخیانو ته د اسونو څومره اړتیا وه. اوس چي د ..... موټرو نیولې دې ابا د آسونو په قیمت کښې کمښت راغلی دی

او که هغوی کم شوی دي او بیعې بې لوړې شوې دي. دا د قدرت کار خانه او د هغې نظام له انساني فکر او ادراک څخه خورا لوړ دي. کاشکې له قرباني سره نا اشنا کسان ، څه غور وکړي. قرباني د یوه عادت یا د اختر د تفریح په څېرنه بلکې د هغې له حقیقت سره سم او د ابراهیمي سنت په پیروي وکړي چي پکښې د ایمان او عمل برکت وويني. په هر عبادت کښې له ثواب سره سره نور اثار هم ابنبودل شوي دي لکه په لمانځه کې تواضع او خاکساري. په زکات کې د زړه صفایي. په روژه او حج کې له الله ﷻ سره په مينه کې زياتوالې حاصلیږي همداسې په قرباني سره په ایمان او اخلاص کښې قوت. په ستونزمنو کارونو کښې عزم او همت پیدا کیږي.
(تاریخ قرباني - مفتي محمد شفیع ص ۲۶)

مسئله : ځینې خلک په قرباني دا اعتراض کوي چي دا یو د بې رحمي ده. څاروی ته تکلیف هم وي د حقیقي محبوب په حکم هر څه محبوب دي. او د څاروي حلالول ، بې رحمي بلل سخته ستره غلطي ده.
(اغلاط العوام ص ۱۸۱)

د قربانۍ په ځای

دا اشکال چي په قرباني کولو څاروی کمیږي. لومړی خو دا خیال غلط دي ځکه هسې هم په عادي ورځو کښې په لکونو څاروي حلالیږي. که د اختر ذبح ونشي هم خورا کم توپیر به ولیدل شي. خو په دې ورځ داسې خلکو ته هم غوښه رسیږي چې په کال کښې یو دوه ځله غوښه خوړلای شي. د هغوی څرمنې هم په بې وزلو وېشل کیږي چې ورته ګټه شي. ځینې خلک دا خیال کوي چې که همدا د قرباني پیسې مهاجرینو یانورواړو خلکو ته ورکړل شي. په دې کښې شک نشته چې له مهاجرینو سره مرسته ضروري ده. خو د اسلام په هر کار کې انتقاد کیږي ، که همدا کسان خپل خواهشات په کنترول کښې راولي غیر شرعي مصارف بند کړي. سینما ، شراب او نور

اضافي خرڅونه. که همدا و سپمیږي له مهاجرینو او نوروکسانو سره ورباندې مرسته کېدلای شي. په کائناتو کښې هر شئ یو صورت لري او یوه روح. همداسې په شرعی احکامو کښې هم هر یو روح لري. هر صورت ځانګړی روح لري چې په بل صورت کې نه وي. دلته په قرباني کې هم یو روح او روحیه ده چې په بل څه کښې راتلای نشي. (خطبات حکیم الاسلام ص۴۰۵ج۲)

دابراهیمي سنت یادګار

الله د خپل مقبول رسول ابراهیم ﷺ چې کوم افعال خوښ کړي دي. د هغوی یادګار یې تر قیامته ژوندۍ پرې ایښۍ دي. د هغوی نقل یې خپل خوښ عبادت ګرځولي دي او په خپلو بندګانو یې لازم کړې دي. لکه په حج کې د دریو جمرو ویشتل چې د ابراهیم ﷺ یاګار دي. په حجاجو په ځانګړې ډول او په ټولو مسلمانانو په خاصه توګه د ښاروو قرباني کول د هغه یادګار ژوندي پاته کېدل دي او لازم یې ګرزولي دي د صفا او مروا تر مینځ سعې او اوه ځلي تلل را تلل د هاجرې (رض) د عمل یو یادګار او د حج په واجباتو کښې داخل دي. د مشکوة شریف یو حدیث دي: صحابه وو له رسول الله ﷺ څخه وپوښتل د قرباني اصل څه دي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو د نیکه ابراهیم ﷺ سنت او یادګار. صحابه وو عرض وکړ. موږ ته پکښې ثواب شته؟ وي فرمایل: د هر ویښته په بدل کښې یې یوه نېکي ستاسو په اعمالو کې لیکله کیږي. (مشکوة شریف)

اسلامي یادګارونه

په نړۍ کښې د سترو کارونو یادګارونه ساتل پخواني عادت دي. خو په عمومي توګه د هغوی لپاره مجسمي جوړوي یایوه مانۍ ورته کافي ګڼې. په دې سره د هغه کارکوونکي عزت بولي او څه موده پاته هم وی. خو په دې سره د همداسې سترو کارونو روح پخواني عادت پریښود او هغه یادګارونه یې په عبادت کې داخل کړل او په خلکو یې اداء لازمه وګرځوله.

په دې توګه د دې کارونو د کوونکي يادونه هم کيږي او د هغوی د نېکو کړنو جذبه هم په زړونو کښې بيداره پاته کيږي: مجسمې او مانۍ که هر څومره غښتلې او مضبوطې وي اخري پيښې له منځه وړي. خو قرباني چې ابراهيمې يادګار دي په عملي توګه په امت لازم شوېده احکام يې په قرآن او سنت کښې خوندي دي ترڅو دنياوي همدا يادګار به ژوندې وي هر وخت به انسانانو ته دا سبق ښيې چې د الله ﷻ د رضالپاره خپل هر څه قربانول د انسانيت تکميل دی او په دې سره به بيا هم د عبادت مسئوليت رفع شوئ نه وي. ((په دې لاره کښې روح ورکول، بيا هم حق دا دی چې حق يې ادا نه شو.)) (تاريخ قرباني ص ۱۸ - مفتي محمد شفيع).

شيطاني دوکې

د الله ﷻ د عبادت او طاعت دا ستره منظره (د زوی قرباني کول) شيطان څرنګه کتلای شواي. هغه پوهېده چې په دې مقابله کښې د الله ﷻ خليل (ابراهيم ﷺ) د استقامت غر دي شيطان خپل چلونه، نه پرېښودل. لومړی د اسماعيل ﷺ مورته ورغی د يوه مهربانه غم شريک په توګه يې ترې وپوښتل، اسماعيل چيرې تللي دي ؟ هغې ورته ځواب ورکړ: له خپل پلار سره ځنګل ته تللي دي او ورسره لرګي راوړي. شيطان ورته وويل: داخبره نه ده. ته خبره نه يې. هغه يې پلار د ذبح کولو لپاره بيولې دي. هاجرې (رض) ورته وويل: پلار خپل زوی ذبح کوي ؟ شيطان ورته وويل: هغه وايي ماته دالله ﷻ له لوري داسې حکم شوئ دي. دا چې يې واورېدل دوړکوتې زوی مور هم داسې ځواب ورکړ لکه څرنګه چې د ابراهيم ﷺ له مېرمنې سره وړوو، وېي ويل: که خبره داسې وي چې الله ﷻ يې د ذبح کولو حکم کړې دي نو هغه خو به په ځای کوي. شيطان دلته ناهيلې شو. په پلار او زوی پسې د مکې ښار د منی لور ته ورغی. لومړی د يوه دوست په څېر د ابراهيم ﷺ خوا ته ورغی هغه يې منع کاوو خو ابراهيم ﷺ هغه وشاړه.

شیطان دلته هم ناهیلې شو . له جمره عقبه سره د یوې سترې جثې په صورت یې د ابراهیم ﷺ لاره ونیوله. یوه فرشته چې. د ابراهیم ﷺ سره وه ورته ویې ویل. په تیږو یې ووله. ابراهیم ﷺ په اوو تږو هغه وویشت او د خل یې ورسره الله اکبر ویل. شیطان یې پسې واخیست .. بیا د منځنۍ جمرې (جمره وسطی) ترڅنګ ودرېد او لاره یې ونیوله بیاابراهیم ﷺ په اوو تیږو وویشت او هر ځل یې الله اکبر ورسره ویل. شیطان بیا لاړ او بیا یې له جمره اولی (لومړی جمرې) سره لاره ونیوله. ابراهیم ﷺ بیا هغسې وکړل اود قرباني ځای ته ورسید . کله چې پلار اوزوی د دې سترې قرباني لپاره تیار شول. پلار خپل زوی د قرباني لپاره پرمخې په ځمکه څملاوو تر څو هم پکښې تواضع وی او هم یې د زوی د مخ په لیدلو لاسونه د حلالولو په وخت کښې بې اختیاره نشي . په ځینو روایتونو کښې راځی چې ابراهیم ﷺ د ژر ذبح کېدوپه هیله په چاړه ډېر زور وکړ خو د الله ﷻ په قدرت د چاړې خولې کار ونکړ. په ځینو روایتونو کښې وایي . دا مهال اسماعیل ﷺ عرض وکړ. پلار جانه! له تا سره زما دکفن جامه نشته. زما جامې پاکې ستره دي. هغه لرې کړه تر څو د کفن کار وکړي.
(تاریخ قربانی ص ١۴- مفتی محمد شفیع)

د قرباني حکم په خوب کښې ولې وشو ؟

دلته یوه پوښتنه پیدا کیږي چې د اسمعیل ﷺ د قرباني کولو حکم په خوب کې ولې وشو ،حکمت پکښې څه وو؟ په دې راز کښې دحق اصل مقصود د ابراهیم ﷺ د زوی حلالول نه بلکه هلته مقصد د پلار او زوی ازموینه وه خکه یې په صریح الفاظو د ذبح حکم ورنکړ په خوب کښې یې ور وښودل چې دی ذبح کوی. همدا وجه ده چې کله ده هغه عمل مکمل کړ کوم چې یې په خوب کښې لیدلې وو . په غیبی اواز سره ورته په ازموینه کښې دکامیابۍ زیرې ورکړل شو . ابراهیم ﷺ په خوب کښې دا لیدلې نه وو چې

ذبح یې وکړه بلکې د ذبح تیاري کول یې پوره کړي وو. د روح البیان په تفسیر کې یو احتمال بل هم وايي چې په خوب کښې یې پسه د اسماعیل ﷺ په څېره لیدلې وو. لکه علم چې د شیدو په شکل و لیدل شي. په پسه او اسماعیل ﷺ کښې معنوي مناسبت داوو چې پسه د حلالولو لپاره مطیع وي. د هغه د پیدایښت منشأ د حلالولو لپاره ده. د غوايي او اوښ په خلاف چې د خلقت منشأ یې بار، کار او سوارلي دي، کله یې حلالوي او غوښه یې خوري خود پسه دوجود مقصد ذبح کول او خوړل دي. لهذا خبره دا ده چې مقصد دپسه ذبح کول وو خو د ازمیښت لپاره ورته د اسمعیل ﷺ په څېره ښودل شوي وو. خو د ابراهیم ﷺ ذهن د خوب تعبیر ته دازمایلو له کبله ونه ګرځېد. ترڅو ازموینه بریالی تېره شوه.

(تاریخ قربانی ص ۱۵ - مفتی محمد شفیع صاحب)

د حج په مراسمو کښې ګډون

((عن ام سلمه قالت. قال رسول الله ﷺ اذا دخل العشر و اراد بعضکم ان یضحی فلا یأخذن شعرا ولایقلمن ظفرا (رواه مسلم)) له ام المؤمنین ام سلمه (رض) څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ و فرمایل: کله چې د ذی الحجې لومړی لسیزه پیل شي او له تاسې څخه څوک د قربانی اراده وکړي هغه دې ویښتان یا نوکان نه اخلي.

تشریح : په اصل کښې همدا لسیزه د حج ورځې دي. خو د حج لپاره مکې مکرمې ته ځي او په عمر کښې یو ځل هغه هم هغه څوک چې وس ولري. د دې ځانګړې برکت یوازې هغو کسانو ته رسېږي چې هلته حاضرېږي او حج کوي. خو الله ﷻ په خپل رحمت سره ټولو بندګانو ته دا موقع ورکړېده چې د حج د ورځې دا رسم هر څوک په، خپل ځای کې تر سره کړي. په دې سره هم له حاجیانو سره یو مناسبت پیدا کیږي او د هغوی په اعمالو کې به ګډون کوي. د اختر د قربانی یو راز دا دي. چې حجاج کرام چې د ذی الحجې په

لــمه نيته په منی کښې د الله ﷻ حضورته خپله قرباني وړاندې کوي. د
نړۍ په ګوټ ګوټ کښې چې مسلمانان هستوګنه لري او په حج کښې يې
ګډون کړی نه وي. هغوی د الله ﷻ په حکم په خپلو ځايونوکي د الله ﷻ
حضورته خپله قرباني وړاندې کوي. او لکه چې حاجي په احرام کښې
ويښتان او نوکان نه اخلي. همدا مسلمان چې په خپل کور کښې قرباني
کوي هم دې په همدې لسو ورځو کې خپل نوکان اوويښتان نه اخلي. په
همدې طريقه سره هم له حجاجو سره يو مناسبت پيدا کوي. ځومره مبارک
لاربنودنه ده چې د هغې په عمل کولوسره دمشرق او مغرب مسلمانان د
حج په انوارو او برکتونو کې برخه اخلي. (معارف الحديث ص۴۱۸ ج ۳)
خودا ممانعت تنزيهي دي. ويښتان او نوکان نه اخستل مستحب دي او
خلاف کول يې ترک اولی دي. (مظاهر حق، جديد ص۲۰۱ ج ۲)

مسئله : څوک چې قرباني کوي. د هغه لپاره مستحب دادي چې قرباني د
اختر تر لمانځه وروسته وکړي او ترلمانځه وروسته ويښتان اونوکان
واخلي او حجامت وکړي څوک چې د قرباني کولو اراده نه لري. د هغه لپاره
دامې کول مستحب نه دي، هغه د اختر تر لمانځه وړاندې حجامت کولای
شي. (فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۲۰۰)

مسئله : د چا چې د قربانۍ کولو اراده وي. د هغه لپاره مستحب دي چې د
ذی الحجی له پيل څخه د قرباني تر حلالولو پورې خپل نوکان او ويښتان
نه واخلي. قرباني کوونکي د خپل ځان په فديه کښې قرباني کوي. د
حيوان هر جز د انسان د اجزاوو بدله ده. د جسم دي کومه برخه د الله ﷻ د
رحمت د نزول په وخت کښې نه بې برخې کوي. له همدې امله رسول الله
ﷺ همدا حکم کړې دي. خو که تر ځلوېښتو ورځوزيات وخت ورباندې تير
شوی وو بيا دې له کراهت څخه د ځان ساتلو په منظور ځنډ او سستي نه
پکښې کوي ويښتان دې ليرې کوي. (فتاوی رحيميه ص۸۸ ج ۲)

دتشریق د نومونې لامل

د تشریق د ورځو په هکله د علماوو ترمنځ اختلاف دي. ځینې وایي: مشرکانو به ویل ای شبیر ! ته سپین شه چې مور لاړ شو یعنې ته رڼا شه چې مور ستا په رڼا کښې لاړ شو. شبیر د یوغره نوم دي. ترځو به لمر نه راوخوت مشرکین به مزدلفې ته نه روانېدله..... خو د اسلام په راتلو دا قول باطل شو. دوهمه وجه: ځینې خلک دتشریق دنوم دوهمه وجه داګنې چې خلکو به دقرباني غوښه وروله. تودوخې ته به یې وچوله، همدا وچول به يي تشریق اللحم بلل. دریمه وجه: ځینې وایي چې د اختر د لمانځه او قربانۍ ورځ به خلکو تشریق بلله ځکه د اختر لمونځ به یې تر هغه نه کاوو څو به لمر ښه روښانه او ځلاند نه شو مصلی(لمونځ کوونکې) ته به یې مشرق ویل چې د لمر دراختلو انتظار به یي کاوو. ځکه هم د اختر ورځې ته د تشریق ورځ وایي او نورې ورځې د همدې په متابعت کښې همدا نوم لري .له ذونون مصری (رح) څخه چا وپوښتل: د تشریق په ورځو کښې روژه نیول ولې مکروه دي ؟ جواب یې ورکړ: د کعبې زیارت کوونکې د الله ﷻ میلمانه دي. میلمه ته دا نه ښایي چې د چاکورته ورشي اوروژه ونیسي بیاتری وپوښتل شول انسان د کعبې په پردو کې ولی ځان نغاړی ویې ویل: دادپردونیول اوپکښې نغښتل داسې دی لکه کوم ملازم چې دخپل بادارنافرمانی وکړی اوبیادمعافی لپاره دهغه لمن ونیسي زاری کوی اومعافی غواړی. (غنیة الطالبین ص ۴۴۴)

تر پنځګونو لمونځونو وروسته تکبیرونه

د تشریق په تکبیرونو کښې چې د ذی الحجی د نهمې نېټې د سهار له لمانځه څخه پیل اود پنځلسمې ورځې د مازدیګر په لمانځه ختمیږي. د څلوروشیانو پیژندل پکښې ضرور دي.

۱-د دې تکبیرونو حکم څه دي ؟

۲خو خلې ویل کیږي او څه ویل کیږي ؟
۳ د تکبیرونو شرطونه.
۴ د تکبیرونو وخت. د تکبیرونو حکم دا دي چې هغه واجب دي.
د ویلو طریقه یې دا ده چې: الله اکبر . الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبرو لله الحمد. د ویلوشرائط یې دا دي چې مقیم به وي په ښار کې به وي فرض لمونځ به یې کړی وي. د امام ابو حنیفه په نزد . دازادوالی پکښې شرط نه دي. د تکبیرونو پیل د عرفی د ورځې د سهار له لمانځه څخه کیږي. د یارانو په قول د ایام التشریق د وروستني ورځې د دیارلسم نېټې د مازدیګرپر لمانځه ختمیږي چې ټول ۲۳ لمونځونه کیږي. په همدې قول فتوا او عمل هم شوی دي. له سلام ګرزولو سره متصل همدا تکبیرونه ویل کیږي که خبرې وکړي یایې اودس مات شي تکبیران ساقطیږي (عالمګری ص۲ج۲)

دتشریق دتکبیرونو پیل

کله چې ابراهیم ﷺ خپل زوی اسماعیل ﷺ دالله ﷻ په حکم قربانی کاوو. جبرائیل ﷺ له جنت څخه یو پسه د هغه فدیه راوست ورسره ویره وه چې هغه ژرذبح نکړی نو. همدا کلمې یې وویلې الله اکبر الله اکبر. ابراهیم ﷺ چې جبرائیل ﷺ ولیدنو یې ویل لااله الاالله والله اکبر . اسماعیل ﷺ نه چې د فدیې د راتلو معلومات وشو ویې ویل: الله اکبر ولله الحمد.
(درمختار ص۷۹۸لومړی جلد دطحطاوی په حواله)

دتشریق دتکبیرونو مسئلې

د تشریق تکبیرونه تر هر هغه فرض لمانځه وروسته ویل کیږي چې په جماعت سره وشي. له لمانځه سره جوخت ویل کیږي مقصد داسې مانع به نه وي راغلي چې لمونځ دروي. مثلا که تر لمانځه وروسته. خبرې وشي بهر لاړشي ، خوراک څښاک وشی نو تکبیرات ساقطیږي یعنې نه ویل

کیږي. که لمونځ قضا شي د هغه تر ادا ، وروسته هم ویل کیږي لکه قرباني چې په لومړي ورځ ونشي په دوهمه او دریمه ورځ هم کیږي . (د مستحب جماعت قیدله دې امله دي چې ښځې او لوڅ کسان له جماعت څخه وتلي د ي. خو په مریبانو د تشریق تکبیرونه شته. ازادوالي پکښې شرط نه دي. (درمختار ص ۷۹۹ ج ۱)

دلته دفرض عین قیدله دی امله راغلی دی چې کفایې لمونځ تری ووزی لکه دجنازی ترلمانځه وروسته چې تکبیرونه نشته تر کفایې لمانځه وروسته چې په جماعت شوی وي په دریو شرطونو د تشریق تکبیرونه شته:

۱۔ دقضاء لمونځ به د تشریق دورځو لمونځ وي.

۲۔ همدا قضاء به دتکبیر په ورځو کښې راګرځوئ.

۳۔ دا قضائی لمونځ به د همدې کال قضا شوی لمونځ وی نه د تیر کال. که د نورولمنځونو قضا د تشریق په ورځو کښې اداکیږي تکبیرونه ورسره نشته . (قاسمی)

مسئله : د اقتدار له امله د تشریق تکبیرونه په ښځه او مسافر هم واجب دي . ښځه دي تکبیرونه په وروغږ وايي . که له چا څخه یو دوه رکعته لمونځ تیرشوی وو مسبوق وو د لمانځه تر ختم دي وروسته تکبیرونه وايي . خو دومره انتظار دې کوي ترڅو له امام څخه زیات عمل ونه لیدل شي . خبرې ونکړي یا بهر ته لاړ نشي که تر لمانځه وروسته تر تکبیراتو وړاندې امام بې اودسه شو د تکبیراتو لپاره دې اودس کولو ته نه ځي. (درمختار ص ۷۶ ج ۱)

مسئله : د تشریق تکبیر له الله اکبر څخه تر پایه یو ځل ویل واجب دي . تریو ځل زیات ویل یې خلا ف سنت دي . نو غوره دا ده چې په یو ځل ویلو بس والې وکړي . (فتاوی دارالعلوم ص ۲۰۴ ج ۵ د شامی ص ۳۵۶ ج ۱ په حواله)

مسئله : د امام ابو حنیفه په نزد په میرمنو باندې د تشریق تکبیرونه نشته. (تبرماخذ ص ۱۹۷ ج ۵)

مسئله : امام ابو حنیفه په هغو کلیوالو چې د جمعې لمونځ ورباندې نشته د تشریق تکبیر واجب نه بولي خویاران یې واجب بولي . احتیاط د یارانو په قول کښې دي چې هغه کلیوال دې هم د تشریق تکبیرونه وایي:
(فتاوی دارالعلوم دیوبند ص۲۱۷ ج۵)

د امام ابو حنیفه رح په نزد شرائط (مقیم ، دښار هستوګن ، فرض لمونځ چې په مستحب جماعت شوی وي) اتفاقي خبره ده خو که یوازې لمونځ کوونکې یا مسافر دا تکبیرونه ووایي څه حرج ورباندې نشته . ځکه همداسې فتواوی هم شته . (فتاوی دارالعلوم ص۲۱۹ ج۵)

مسئله : که د تشریق تکبیرونه پاته شي قضا نه لري . په توبه به یې د ترک ګناه انشاء الله و بخښله شي. (فتاوی دارالعلوم ص۲۰۷ ج۵)

مسئله : فتوی داسې ده چې که په جماعت لمونځ وشی که یوازې هم سره برابر دي نو له همدې امله په نر او ښځه دواړو واجب د ي خو ښځې دې په ټیټ غږ وایي (شامی)

مسئله : دا تکبیر په متوسط لوړ غږ ویل ضروري دي. د هر کسان یا هغه نه وایي یا یې په ټیټ غږ وایي د هغوی اصلاح ضروری ده . (جواهر الفقه ص۴۴۶ ج۱)

د اختر په ورځ غسل کول

((عن عبدالله ابن عباس (رض) قال: کان رسول الله ﷺ یغسل یوم الفطر ویوم الاضحی))عبدالله ابن عباس (رض) وایي : رسول الله ﷺ به د عید الفطر او عید الاضحی (کوچني او لوی اختر په ورځو کښې غسل کوو. (ابن ماجه)

تشریح: له ګڼو روایتونو څخه معلومیږي چې رسول الله ﷺ به د واړه اختر او لوی اختر په ورځو غسل کاوو . امام مالک رح د عبدالله ابن عمر (رض) معمول را نقل کوي چې هغه به د اختر په ورځ عیدګاته تر تللو وړاندې غسل کاوو . دډین د اهل تل همدا معمول پاته شوی دي د اختر په ورځ به

يې غسل کاوو. خوشبوي يې لګوله او له وس سره سم غوره جامې به يې اغوستلې. (الترغيب ص۳۲۵ ج۱)

مسئله: د اخترونو په ورځ مېرمنو ته هم مستحب دي چې غسل وکړي اوښې جامې واغوندي ځکه همدا د ښکلا ورځ ده. (کبيری ص۵۲۴)

د اختر په ورځ د قبرونو زيارت

پوښتنه: د اختر په ورځ خلک هديرې ته ځي هلته دعاکوي. په دې ورځ هديرې ته تلل څرنګه دي؟

جواب: حامداً و مصلياً. د اختر ورځ د خوشحالۍ ورځ ده. د هر وخت په خوشحالي کښې له اخيرت څخه غفلت کيږي اوقبرونو په زيارت اخيرت ياديږي نو که څوک د اختر په ورځ دقبرونو زيارت کوي مناسب کار دي. څه مشکل نشته. خو هغه داسې عملي کول چې نوروته دا اشتباه پيدا کوي چې دا لازمي کار دي. صحيح نه دي. که څوک د قبرونوزيارت ونکړي، هغه ته بد ويل يا ورته په حقارت کتل سم نه دي. دا احتياط لازم دي. (فتاوی محموديه ص۲۷۷ ج۲)

د اخترونو رسم او رواج

په اخترونو کښې ځينې خلک څه خاص خواړه پخول يو ضروري کار ګڼي. په شريعت کښې دا ضروري نه دي. که يې زړه غواړي پاخه دي کړي خو ثواب دې نه ګڼي. خپلوانو ته څه راکړه ورکړه يا ميلمستيا کول. هغه هم د بدل او پور په څېر. دا ټولې پابندياني زيات قيدونه دي. هسې ستونزې دي. د دې قيدونو پرېښودل په کار دي. دا هيڅ شرعي حيثيت نلري. د قرباني د اختر په ورځ هم غوښه داسې ورکول په کار دي لکه څرنګه چې حکم شوی. په د هرو کسانو قرباني واجب وي خو نه يې کوي. دا ګناه ده. ځينې بيا د قرباني د غوښې دريمه برخه ورکوي ورسره وايي دا د فلاني يا

فلاني حق دي. دا واهيات دي غير شرعي قيدونه دي. چې څومره يې خوبنه وي هغومره دې ورکړي. (بهشتي زيور ص۵۸ ج۶)

داختر په ورځ د جنازې لمونځ

که د اختر لمونځ او د جنازې لمونځ سره يو ځاى شي. لومړى دي د اختر لمونځ کوى ځکه هغه ((واجب عين)) دى. يعنې په هر عاقل او بالغ مسلمان واجب دي او د جنازې لمونځ فرض کفايې دي چې د ځينو په اداء د نورو له ذمې ساقطيږي د جنازې لمونځ دې د اختر د لمانځه له خطبې، د مانبام يا نورو وختونو له سنت لمونځونو څخه وړاندې اداء کوي ځکه د جنازې لمونځ فرض کفايي او خطبه او دمانبام يا نورو سنت لمونځ مسنون دي.

مسئله: داخترلمونځ دى دکسوف ترلمانځه وړاندى کوى خوداسى کيدلاى نه شى ځکه داخترلمونځ دمياشتي په سرکې وى اودلمرنيول دمياشي په اخيرکې وى

مسئله: خو فتوى دا ده چې د جنازې لمونځ دې دوختي لمونځونو تر سنتونو وروسته کيږي تر څو سنت له فرض لمونځونو سره يو ځاى شي او بيا د جنازې لمونځ وشي. (درمختار ص۷۸۶ ج۱)

د جنازې د لمانځه د اداکولو دشرکت طريقه

که کوم شخص د جنازې لمونځ داسې ونيسئ چې يو، دوه، درې تکبيرونه ترې تېر شوي وي.نو مقتدى دى سمدستي تکبيرنه وايى له امام سره دې راتلونکې تکبيرو ځاى ووايى که يې انتظار ونه کړ ، يوست تکبيريي ووايه لمونځ يې نه فاسديږي خو دا تکبيريې د جنازې په لمانځه کښې نه ګڼل کيږي ځکه هغه مسبوق دي يعنې وروسته په لمانځه ورسره درېدلې دي او سلام تر ګرځولو وروسته به پاته تکبيرونه پوره کوي هغه په دې شرط

چې جنازه فورا نه اخستله کیږي که فورا اخستله کېدله نو سلام دې وګرځوي. که مقتدي داسې وخت راغی چې امام څلورم تکبیره ویلې وو خو سلام یې ګرځولې نه وو. صحیح طریقه یې داده چې له امام سره دې شریک شي. تر سلام ګرځولو وروسته دې خپل لمونځ په ګرندي ډول پوره کړي او که جنازه فورا وړل کېدله سلام دې وګرځوي. (کتاب الفقه ص ۸۳۸ ج ۱)

مسئله : د بوټونو یا څپلکو سره د جنازې د لمانځه حکم د نورو لمونځونو په څېر دي. دځای اولباس دپاکوالی حکم دجنازی دلمانځه حکم دنورولمونځونودحکم دی که بوټونه استعمال شوي او ناپاکه وو هېڅ لمونځ ورسره جائز نه دی. نه پینځه وخته لمونځونه اونه هم د جنازې لمونځ او که بوټونه پاک وو نو هر لمونځ ورسره صحیح دي. (عزیزالفتاوی ص ۳۲۶ ج ۱)

د عرفې ورځ

مسئله : عرفه یوه ورځ ده یعنې د ذی الحجی نهمه نېټه.
(فتاوی دارالعلوم دیوبند ص ۲۰۱ ج ۵).

مسئله : دعرفې په ورځ ځینې ځایونه د عرفې کوونکو په څېر اعمال کوی. خلک راټولیږي. د دې هېڅ اصل نشته. (فتاوی عالمګیری ص ۷۵ ج ۱)

ضحی صحیح ده که اضحی ؟

پوښتنه : په ضحی او الضحی کښې کوم توری سم دي ؟ که ضحی وویل شي او لمونځ وکړي هغه لمونځ صحیح دی.

جواب : دلوی اختر لپاره په عربی کښې د یوم الاضحی نوم دی: الاضحی د قربانی په معنی دي. لوی اختر ته ضحی یا الاضحی ویل غلط دي. خولمونځ یې کیږي. (فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۴ ج ۵ د ردالمحتار ص ۲۷۱ ج ۵ په حواله)

پوښتنه: که اختر او جمعه په یوه ورځ وو. ځینې کسان وایي چې د جمعې لمونځ دې نه کوي. او په صحیح مسلم حواله ورکوي. دا خبره صحیح ده؟ د جمعې لمونځ کیږي که نه کیږي؟

جواب: په مسلم شریف کښې دا حدیث ونه موندل شو خو په ابوداؤد شریف کښې د عبدالله ابن زبیر (رض) فعل رانقل شوی دی. خو که لږ فکر وشي د یوه صحابی په فعل سره د رسول الله ﷺ په زمانه کښې هم دغسې ورځ راغله. رسول الله ﷺ د جمعې لمونځ وکړ. دکلیو خلکو ته یې وویل که تاسو ځئ. لاړ شئ. موږ د جمعې لمونځ کوو.

د عبدالله ابن زبیر (رض) په فعل کښې علماؤو تأویل کړی دی ضرور دی د جمعې لمونځ وشي. د جمعې لمونځ د قرآن کریم له آیت څخه ثابت دی.
(فتاوی دارالعلوم ص ۱۴۵ ج ۵)

درسول الله ﷺ دافرمان چې خپلو کلیوالو ته یې فرمایل: (که تاسو ځئ موږ د جمعې لمونځ کوو) له دې امله ووچې دکلیوخلک به سهارلاراتلل او دکلیوپرخلکولمونځ لازم نه وو، که یې وکړی جمعه یې صحیح کیږی دماپښین دلمانځه ضرورت یې نشته، خوله سهارڅخه دجمعې دلمانځه انتظارکول هغه هم دجمعې په ورځ؟ ځکه ئی ورته دتلواجازه ورکوله چې دکلیوپرخلکودجمعې لمونځ فرض نه ده (محمدرفعت قاسمی)

مسئله: که جمعه د واړه یالوي اختر ورځ وه د دواړو لمونځونو ادا کول واجب دي. (امدادالفتاوی ص ۶۴۰ ج ۱)

دامامت او خطبې مسائل

په د ېرو کلیو او بانډو کښې، ځینې خایونه خودجمعې او پنځه وخته لمونځونو امامت د ریاست په څېر موروثي بنه لري. که امام اهلیت درلود او که یې نه درلود ځینې ځایونه خو امام قرآن کریم سم لوستلای نشوای. په دې صورت کښې دټولو لمونځونه باطل وي. که یې صحیح هم وایي خو

امامت یې خلکو ته ناخوښه وي. جبرا او کرها د فتنې دمخنیوي په خاطر ورسره ګذاره کوي امام په سخته ګناه کښې دي. په حدیث شریف کښې د داسې سړي د لمانځه په هکله راغلی چې نه قبلیږي . امام هغه څوک وي چې د چا په کوم ډول کار کښې نه وي. څوک چې کار کوي هغه مزدوري کوي او په امامت سره د الله ﷻ د دربار وکالت کوي ، امامت د الهي دربار وکالت دي نو دغسې خلک چې ارزل الناس او اخس الناس وي څرنګه به د امامت لپاره غوره وي د مصرف دکمولو له امله د داسې کسانو په امامت خوښ وي چې ډېر ذلیل ، بدنیت د نی الطبع وي او دي غلطی ته نه ګوري چې د څرنګه سړي غوروالی یې کړی دي .دلګښت دکفایت لپاره داسی کسان ساتی چې خوراذلیل بدنیته اوذی طبع وی آن هغه مثال ګرزوی خوخپلې غلطی ته فام نه کوی چې دداسی خلګوغوراوی ئې کړی دی چې فطرتاً پست حوصله وی په پای کې ئی داحال وی چې په کوزده ،واده اوبسم الله کې اوړده اوږده فهرستونه جوړوی خودامام اومؤذن نمونه پکښې نه وی.

تنبه : څومره د ظلم خبره ده چې د دنیایي کار لپاره باهنره او لائق سړي غواړي آن چې دېښ ، معمار او سازکوونکی لا د هغه یوه په پلټنه کښې وي چې پکښې مشهور او پوه وي خو د خداي ﷻ په وړاندې چې د ټولو دوکیل په صفت دریږي هغه داسې څوک غوره کوي چې نه کمال لري نه جمال په ټوله محله کښې چې بېکار ، بدکار ، حواس خرابی ناپوه او غرضي او دبل کار نه وي هغه دامامت لپاره غوره کوي.(اغلاط العوام مکمل ص ٧٠)

امام او خطیب په خپل ځای مهم مسئولیت په غاړه لري. د رسول الله ﷺ په زمانه کښې دا دنده رسول الله ﷺ په خپله ترسره کوله خو چې کله ناروغ شو دا ستر منصب یې ابوبکر (رض) ته وسپاره. همداسې د امامت منصب یو په بل کښې راشده خلفاوو ته رسېده همدا وجه ده چې د امامت منصب په ټولو کښې غوره شخص ته د سپارلو تاکیدشوی دي. دمولانا تهانوی په

وینا د افسوس خبره ده چې نن یي دا منصب خورا راټیټ کړی دي. بېکاره شخص ورته غوره کیږي. خواص او عوام ورباندې خوښ وي خو دغسې مناسب نه دي. د دې احکامو د تفصیل لپاره زما کتاب (مکمل و مدلل مسائل امامت) وګورئ. (محمدرفعت قاسمی)

مسئله : که داختر دلمانځه امامت یو شخص وکړی او خطبه بل څوک ووایي لمونځ کیږي خو غوره داده چې امامت او خطبه یو سړی ووایي.
(ردالمحتار باب الجمعة ص ۷۷۱ ج ۱)

مسئله : دا خبره غلطه ده چې له ساداتو پرته څوک د امامت وړ نه دي د امامت استحقاق په علم او تقوی پورې اړه لري. هغه شخص چې په شرعي مسائلو پوهیږي تر هغه سید چې په مسئلو نه پوهیږي اهل او مستحق دي .(فتاوی محمودیه ص ۱۰۸ ج ۱)

مسئله : په اجوره سره د اخترونو او جمعې د امامت حکم دا دي چې فقهاؤو په امامت د اجورې اخیستل جائز بللي دي.

مسئله : د هېڅ لمانځه امامت یو شخص دوه ځلې کولای نشي او که داسې وکړي د دوهمې محلې د مقتدیانو لمونځ نه صحیح کیږي ځکه د امام دوهم ځلې لمونځ نفل دي او په نفل کوونکي پسې د فرض او واجب کوونکي لمونځ نه کیږي.(فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۵ ج ۵ د ردالمحتار باب الامامت ص ۵۴۲ ج ۱ په حواله)

مسئله : په حنفی مذهب کښې د اختر په لمانځه کښې زوائد تکبیرات ویل کیږي هغوی په هر رکعت کښې درې دي تکبیر اولی او درکوع تکبیرونه پکښې شمار نه دي. که مقتدي شافعي مذهبه وو د خپل مذهب موافق دې تکبیرات پوره کړی .که ني په مذهب کي دارواوو چي په حنفي امام پسی تکبیرات پوره کولاي شي حنفی امام ته د بل مذهب اتباع ضروري نه ده. خو که امام د مقتدي په مراعات د هغه د مذهب موافق تکبیرات ووایي څه حرج نشته. (فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۹ ج ۵ د ردالمحتار باب العیدین ص ۱۱۴ ج ۱ په حواله)

مسئله : حنفي مذهبه مقتدي که په شافعي مذهب امام پسې اقتدا کړېوه. د شافعي په مذهب دې تکبیرونه پوره کړي خو په شافعي مذهبه یا بل امام پسې دې په مستقل ډول د سهار په لمانځه کښې د قنوت ویلو. رفع یدین او د جنازې په لمانځه کې تر څلورو زیات تکبیراتو په ویلو کښې متابعت نه کوي ځکه دا منسوخ دي. (فتاوی رحیمیه ص ۲۷۳ ج ۱)

مسئله : د اختر په لمانځه کښې دې امام اعوذ بالله تر تکبیراتو وروسته وايي ځکه قرائت تر زوائدو تکبیراتو وروسته دي. د امام ابو حنیفه او امام محمد په نزد اعوذ بالله د قرائت تابع دي او دا مسلک صحیح دي. (درمختار ص ۳۷ ج ۱)

مسئله : امام که دومره اوږده سورتونه ووايي چې له مسنوني طریقې هم زیات وي یا رکوع او سجده ډېره اوږده کړي تحریمي مکروه دي. امام ته لازم دي چې د مقتدیانو ضرورت او ضعف په خیال کښې ولري ځوک چې ډېره اړتیا لري د هغه رعایت وکړي. په قرائت کښې که په همدې خیال تر مسنون حد هم لنډون وکړي عفوه دي تر څو په خلکو حرج نه وي او جماعت کم نشي. (طحطاوي مع مراقي الفلاح ص ۱۶۵)

مسئله : امام ته لازم دي چې مقتدیانو ته د صفونو د سموالي امر وکړي یعنې خلک په صف کښې، وروسته وړاندې نه وي او تر خپل مینځ فاصله نه پرېږدي سره نژدې و دریږي (مراقي الفلاح ص ۲۱۱)

مسئله : اکثر عوام لېدل کیږي چې د پښو ګوتې سره لګوئ صف سیده کوئ خو صف داوږي او بیډیو په برابرولو سمیږي. (اغلاط العوام ص ۷۱)

مسئله : که له امام څخه زوائد تکبیرات هېر شول. په رکوع کښې ورته یاد شول بېرته دې قیام ته نه ګرځي. که وګرځي هم لمونځ نه فاسیدیږي خو د خلکو د ډېروالي له امله دې سجده سهوه نکوي. (بهشتي زیور ص ۸۷ ج ۱۱)

مسئله : مقتدیانو ته سنت ده چې هر رکن دې له امام سره یو ځای ادا کوي تحریمه ، رکوع ، قومه ، سجده او هر فعل دې د امام له فعل سره یو ځای کوي ځنډ دې پکښې نه راولي . که په رکوع او سجده کښې مقتدي تسبیحات پوره کړي نه وو او امام راپورته شو مقتدي دې هم ورسره پورته کیږي خو که مقتدي په لومړی قعده کښې التحیات پوره کړي نه وو امام جګ شو . مقتدي دې التحیات پوره کړي بیا دې جګ شي . که په اخیره قعده کښې هم مقتدي التحیات پوره کړي نه وو او امام سلام وګرځاوو مقتدي دې التحیات پوره کړي بیا دي سلام واړوي .په رکوع او سجده کې که مقتدیان تسبیح پوره هم نکړی له مام سره دی پورته کیږي.
(کبیری ص ۵۶۹)

مسئله : که له امام څخه په لومړی رکعت کښې زوائد تکبیرات پاته شول تر فاتحې او سورة وروسته ورته یاد شول یا د دوهم رکعت په رکوع کښې ورته یاد شول. تکبیرونه دې نه وایی خو د سهو سجده دې وکړي . که د خلکو : ګڼه ګوڼې له امله په لمانځه کښې خلل پیښیږده . سجده سهوه دې هم نکوي. که امام رکوع پریږدي بېرته د تکبیرونو لپاره قیام ته وګرځي په یوه قول لمونځ فاسد دي خو غوره دا قول دي چې نه فاسد یږي . خو په دې صورت کښې دې بیا رکوع نه کوی. کنه د لمانځه اعاده (راګرځول) واجب کیږي . که دسورت تر پوره کولو وړاندې ورته تکبیرونه یاد شول . تکبیرونه دې ووایي فاتحه او سورت دې دوهم ځلې ووایي . که ازدحام دېرنه وو سجده سهو دې وکړي. (احسن الفتاوی ص ۱۱۶ ج ۴ د ردالمحتار ۷۸۱ ج ۱ په حواله)

مسئله : که امام زوائد تکبیرونه هېر کړل او په رکوع کښې ورته یاد شول بېرته دې نه جګیږي چې تکبیرونه ووایي. (درمختار ص ۵۸۵ ج ۱)



مسئله : که امام د اختر په لمانځه کښې سهو شي دسهو سجده دې نکوي خو که لمونځ کوونکي لږوو او د سجده سهو له امله په لمانځه کښې خلل نه پیښېده بیادې و کړي. (طحطاوی ص۲۵۲)

مسئله : د اختر ، جمعې ، فرض او نفل په لمونځونو کښې د واجب په ترک کېدلو سره د سهو سجده لازمیږي خو متأخرین علمأ وايي چې که د اخترونو او جمعې په لمانځه کښې اذدحام زیات وو بیا د سهو سجده ځکه نشته چې فتنه او فساد پیدا کیږي. (عزیز الفتاوی ص۴۹ ج۲)

مسئله : که د اختر لمونځ یو شخص ورکړی او خطبه بل ولولي لمونځ کیږي خو غوره داده چې دواړه یو شخص ترسره کړي. (عزیزالفتاوی ص۳۰۹ ج۱)

د اختر د لمانځه شرطونه

په وړو کلا ګانو کښې د جمعې او اخترونو لمونځ کول تحریمي مکروه دي . په ښارونو او یا سترو کلیو کښې چې د اخترونو او جمعې لمونځونه جواز لري بیا هم یوازې کول یې جواز نلري ځکه یو شرط پکښې دا هم دي چې په جماعت سره ادا شي. (دامداد المفتی ص۴۰۷ ج۲)

مسئله : د جمعې او اخترونو په لمونځونو او تراویحو کښې قرائت په جهر ویل واجب دي. (کفایت المفتی ص۴۱۰ د درمختار ص۲۹۲ ج۱ په حواله)

په اخترونو کښې سنت او مستحب شیان

د اخترونو په ورځو کې دیارلس شیان سنت دي:

۱- له شریعت سره برابر ځاني ښکلا

۲-غسل کول

۳-مسواک وهل.

۴-ښې جامې نوې یا پاکې اغوستل.

۵-عطر وهل.

۶-سهار وختي پاځېدل.

۷-عیدګاه ته وختي تلل.
۸-عیدګاه ته ترتللو وړاندې څه شرین شیان خوړل.
۹ عیدګاه ته ترتللو وړاندې د فطر صدقه ورکول.
۱۰-عیدګاه ته تلل یعنې بې عذره د اختر لمونځ په ښار کښې نه کول.۱۱ په کومه لاره چې راځې له عیدګاه څخه په بله تلل.
۱۲-عیدګاه ته پیاده تلل.
۱۳-د عیدګاه په لاره الله اکبر ، الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد ویل. په کوچني اختر دې په ټیټ آواز ویل کیږي.
(بهشتی زیور ص ۸۵ ج ۱۱ د شرح التنویر ص ۱۱۳ ج ۱ په حواله)
(په لوی اختر کښې که قرباني کوي که یې نه کوي عیدګاه ته ترتللو وړاندې څه نه خوړل مستحب دي. خو په لوړ اواز تکبیرونه ویل سنت دي. (محمد رفعت)
مسئله : د اخترونو په شپو کښې بیدار اوسېدل ، عبادت او تلاوت کول ، درود ویل مستحب دي. د اختر په ورځ عطر لګول او ځان پاکول مستحب دي. که میرمنې د اختر لمانځه ته تللې هغوی ته دا امور مستحب نه دي ځکه د فتنې د پیدا کېدلو احتمال وي . که عیدګاه ته نه ځي بیاورته مستحب دي. همداسې که څوک د اختر لمانځه ته نه تلل ځان پاکول او عطر لګول ورته مستحب دي ځکه دا شیان د اختر دورځې لپاره مستحب دي نه د لمانځه لپاره. د امام ابو حنیفه(رح) په نزد دا امور سنت دي. سړی او میرمنې دې نوې یا پاک کالي اغوندي. رنګ که یې سپین وو که نه وو فرق نلري . نوکان اخیستل ، وېښتان سمول او ځان ښکلې کول ټول مستحب. دا هم مستحب دي چې د سهار تر لمانځه وروسته عیدګاه ته وختي لاړشي. خو دا حکم د امام لپاره نه دي. امام ته دا مستحب دي چې عیدګاته وروسته لاړشي امام دې هلته کښېناستل او انتظار نه کوي. عیدګاته پیاده تلل مستحب دي. دا هم مستحب دي چې که له مسلمان سره

مخامخ کېږي په خلاصه ټنډه او ښـشـه څهره ورسره مخامخ شئ. که وس سره سم صدقه ورکړئ. که په چا باندي د فطر واجب وي عیدګاه ته تر تللو وړاندې دې ورکړي. (کتاب الفقه على المذاهب الاربعه له ص ۵۵۵ تر ۵۵۸-)

د اختر لمونځ په عیدګاه کښې افضل دي

((عن ابى سعيد الخدرى قال كان النبى ﷺ يخرج يوم الفطر و الاضحى الى المصلى فاول شئ يبدء به الصلوة ثم ينصرف مقابل الناس و الناس جلوس على صفوفهم)) له ابی سعید الخدری (رض) څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ د کوچنی او لوی اختر په ورځو کښې عیدګاه ته تشریف یوړ. تر هر څه وړاندې به یې لمونځ کاوو . له لمانځه څخه ترفراغت وروسته به یې خلکوته مخ راواړاوو (د خطبې لپاره به ودرېد) او خلک به په صفونو کښې ناست وو)

تشریح : له دې حدیث څخه څرګندیږي چې د رسول الله ﷺ معمول داوو چې د اختر په ورځ به له مدینې منورې بهر هغه ځای ته وتي چې هغه یې د لمانځه لپاره غوره کړې وو . هلته کوم د بوال نه وو . صحرا او میدانی وه. ویل کیږي دا ځای له نبوی مسجد څخه یوزر قدمه لرې وو (معارف الحدیث ص۲۹۹ ج ۲)

مسئله : له سنت سره موافق تر ښار بهر د اختر لمونځ کول غوره دي او فضیلت یې کښې د بر دي تر دې چې په ښار کښې وشي.
(فتاوی دارالعلوم ص ۲۰۸ ج ۵ د ردالمحتار باب العدین ص ۷۷۶ ج ۱ په حواله)

مسئله : عیدګاه تر ښار بهر غوره کول مؤکد سنت دي. ځکه رسول الله ﷺ تل د اختر لمونځ له ښار څخه بهر کاوو آن د معذورو کسانو د بېولو اهتمام یې هم کاوو . یوازې یو ځل د اورښت له امله د ښتې ته نه دي وتلي .
(ابوداؤد فی سننه)

اصل داده چې له ښار څخه بهر یوه ستره غونډه جوړه شي په دې توګه د اسلام د شوکت یوه ننداره او مظاهره کیږي. په سترو ښارونو کي که له

ـ ځخه بهر وتل ستونز من کاردي. هلته دې په يوه ميدانی کښې لمونځ
ديږي. که ضرورت وو بيا په مسجد کښې هم کراهت نلري. خو په هره محله
کښې دې دغه وشی چې د دوو غونډو په ځای ستره غونډه جوړه شي.
(احسن الفتاوی ص۱۱۹ ج ۴ درد المحتار ص ۷۷۶ ج۱) په حواله
د اختر د لمانځه لپاره بهر تلل سنت دي. که څوک عذر نلري او نه ځي د
ملامتی وړ دي او که يې نه تلل عادت وي ګنهکار دي.. که عيد ګاه ليرې وه
. کمزورو او ناروغانو ته تلل تکليف وو فقها ژو په مسجد کښې د هغوی
لمونځ جائز بللي دي. (فتاوی رحيميه ص۲۷۶ ج۱)

داوربښت له امله د اخترونو لمونځونه په مسجد کښې کول

((عن ابی هريره (رض) مطر فی يوم عيد فصلی بهم النبی ﷺ العيد فی المسجد)) (ابوداؤد ابن ماجه) (له ابوهريره (رض) څخه روايت دي يووار د اختر په ورځ اوربښت وو رسول الله ﷺ راسره په مسجد کښې لمونځ وکړ.)

تشريح: د اخترونو چې د امت مسلمه لپاره د دين حسن او خوشحالي د نورو قومونو د جشمونو او ميلو په څېر دا غونډه بايد په خلاص ميدان کښې وشي د رسول الله ﷺ همدا معمول وو او دا سنت دي خو د ابو هريره (رض) له حديث څخه معلوميږي چې که باران (يا بل سبب) وو نو بيا په مسجد کښې کېدلای شي. (معارف الحديث ص ۴۰۶ ج ۳ اومظاهرحق ۲۹۴ ج۲)

په عيدګاه کښې په ګډ اواز تکبيرونه ويل

پوښتنه: دلته داسې دستور دي چې د اختر تر لمانځه وړاندې يودود تنه منبر خوا ته ځي ولاړوي په زوره تکبيرونه وايي بيا حاضرين په ګډ اواز هغوی ته جواب ورکوي ايا دلته څه حرج شته؟

جواب: په عيدګاه کښې په لوړ اواز تکبيرونه ويل يو رسم دي. له رسول الله ﷺ راشده خلفاؤ، تابعينو، ادهغوی په لارتلونکو مجتهدينو مشانخو او فقهاؤ څخه ثابت نه دی، په دين کښې کوم

اصل او ثبوت نلري. دا خو د ساخته عمل اوباطل دي. دین د چا تابع نه دي . ټول د دین تابع دی هېڅوک په دین کښې د کموالي او زیاتوالي حق نلري. څرنګه چې رانقل شوی او ثبت دي همغسې ورباندې عمل کول ضروردي. ګوره ا د جمعې په ورځ په مناره باندې اذان کيږي خو د اختر په ورځ نه کيږي ځکه منقول نه دي. د جمعې د خطبې په مهال اذان کيږي خو د اختر په ورځ نه کيږي ځکه ثابت نه دي د جمعې د لمانځه لپاره اقامت ویل کيږي خو د اختر د لمانځه لپاره نه ویل کيږي ځکه منقول نه د ي په عیدګاه کښې تر لمانځه وړاندې ، علی (رض) یو شخص د نفل له کولو څخه منع کړ . د نفل لمونځ خو څه د عذاب کارنه دی نو ولې یې منع کړ ؟ ځکه علی (رض) وویل: دا کار رسول الله ﷺ کړې نه دي اونه یې څوک ورته هڅولي دي . نو دثواب کار نه دي او دا فعل عبث دي. په دین کښې عبث حرام دي. وبره ده چې د رسول الله ﷺ د سنتو په خلاف کار کولو کښې الله ﷻ عذاب راکړي. اوس چې همدا د ګډو تکبیرونو ویل رسم دي. غلط او د سنتو خلاف دي پرېښودل یې لازم دي (فتاوی رحیمیه ص ۵۲ ج ۵)

عیدګاه ته د مېرمنو تلل

په دې له فتنو ډک وخت کې. مسجد او عیدګاه ته د مېرمنو د تللو اجازه نشته فقها دا انکار نه کوی چې د رسول الله ﷺ په زمانه کښې مېرمنې د پنځولمونځونو او اخترونو د لمانځه لپاره جماعت ته نه حاضرېدلې خو هغه د خیرالقرون زمانه وه له فتنو خوندي وه. رسول الله ﷺ په خپله حاضر وو . وحی راتله . نوی نوی احکام راتلل . نوي مسلمانېدل ، د لمانځه او روژې د احکامو زده کړې ته اړتیاوه لویه خبره داوه چې په رسول الله ﷺ پسې د لمانځه کولوشرف ورته حاصلېده ، رسول الله ﷺ به ورته د خوبونو تعبیرونه ویل. عجیب او غریب علوم به یې ورته ښودل او مېرمنوته یې دراتللو اجازه ورکړې وه خو د راتلو په حکم کښې یې ورته تاکید کړی نه وو

مېرمنو ته د سړو په څېر جماعت ضرور نه دي. د رسول الله ﷺ ارشاد دي:
مېرمنو لپاره تر ټولو غوره مسجد د هغوی د کور ګوښه ده. (الترغيب ص۱۸۸ ج۱)
رسول الله ﷺ د مېرمنو د کور لمونځ د نبوی مسجد تر لمانځه په درجو فضل
بللې دي او په دې اړه د اخترونو لمونځونه ورڅخه بېلېدلای نشي. که
کورونه مسجد ته نژدې وي بيا هم په کورونو کښې لمونځ ورته غوره دي.
عيدګاه خو لېرې او ترښار بهروي پنځه وختونه او د جمعې لمونځ فرض
دی خو مسجد ته ورتګ يې د فضل نه ده، د اختر لمانځه ته را تګ به يې
څرنګه افضل او غوره وي؟ که کله رسول الله ﷺ مېرمنو ته عيدګاه ته
د راتلو ويلي واي، هلته وجوب او استحباب ثابت نه دي.
(کفايت المفتی ص۴۲۱ ج۵)

متفقه فتوی

نن سبا فتوی داده چې د مېرمنو تګ ټولو لمونځونو ته منع دي. که څه د شپې
وي که د ورځې، که ښځې ځواني وي او که زړې. (درمختار مع الشامي ص ۵۲۹ ج۱)

مسئله: په دې زمانه کښې مسجد ته د ښځو تلل مکروه دي. ځکه د فساد
او فتنې وېره ده د رسول الله ﷺ په زمانه کښې يې تلل د مسئلو د زده کړې
لپاره وو او هغه مقصد پاته نه دي. ځکه شرعي احکام په عام ډول خپاره
دي او مېرمنو ته په پرده کښې او سېدل غوره او مناسب دي، (د تفصيل
لپاره اشعة اللمعات ۲۳۳ مخ) وګورئ (فتاوی رحيميه له ص۵۶ تر ۷۱ ج۵)
دا حکم عام دي. حرم شريف دي که نبوی مسجد. هندوستان وي که
عربستان ټولو ته دا حکم دي. د مېرمنو د عزت او ايمان خوندي پاته کېدل
په دې کښې دي چې د اختر لمانځه ته هم بهر لاړې نشي، په هغوی د
اخترونو لمونځ واجب نه دي. (ملابد منه ص۵۵)

د عیدګاه او مسجد ترمنځ توپیر

د اقتداء په جواز کښې عیدګاه د مسجد په حکم کښې ده. په نورو احکامو کښې د مسجد په حکم کښې نه ده. بلکه د مسجد د پنا په حکم کښې ده یا د مدرسې حکم لري. هر څه چې د مسجد په پناه او مدرسه کښې جائز وي هغه په عیدګاه کښې هم جائز دي او څه چې هلته ناجائزوي په عیدګاه کښې هم ناجائز دي. څرګنده ده چې د مسجد پناه او مدرسه د ښارورو او عامو خلکو لپاره لاره کېدلای نشي نو عیدګاه هم ورڅخه خوندي ساتل ضروردي. ماشومان په عیدګاه کښې لوبې کولای شي خو مستقل استعمال یا هغه د لوبو میدان ګرځول نشي کېدلای. که هلته قبرونه نژدې او د مسجد د ځای په خوا کښې وي هلته لمونځ تحریمي مکروه دي. خو که نبې، کینډ یاد شاه لورته وي کراهت یې کم دي. که وابن د ډېر وي کراهت نشته. (فتاوی محمودیه - ص ۳۱۶ ج ۸)

په عیدګاه کښې د لمونځ کوونکو انتظار

۱-د اختر د لمانځه وخت هغه ده چې د سهار له لمانځه څخه خلک فارغ شي او په مسنونه طریقه تیاری و نیسي عیدګاه ته ورسیږي ۲- د اختر په ورځ د ځینو خلکو وروسته رسېدل احتمال لري نو امام او حاضرین دې بېړه نه کوي. ترمعلوم وخت دې هم پنځه شپږ دقیقې نوره معطلي کوي حاضرین دې په داسې وخت کښې لږ صبر او حوصلې څخه کار اخلي. امام نه دې مشوره ورکوي خو په لمانځه کښې دې د بېړې تېنګار نه کوي. امام ته هم لازم دي چې د حاضرینو د تکلیف فکر وکړي. په قرائت او خطبه کښې په لنډون سره د معطلي تلافي وکړي. په کال کښې همدا دوې ورځې دي چې داسې کسان هم راځي چې نور لمونځونه نکوي. کمزوري او ناروغان هم پکښې وي که لمونځ ورڅخه تېر شي له ډېرو برکتونو څخه بې برخې کیږي نو څه انتظار ورته په کار دي. خو هغوی چې په ناوخته راتلو عادي دي :

هغوی په هکله دې حاضرینو ته تکلیف نه ورکول کیږي نه هغوی د دې تکلیف احساس لري . هغوی د لمانځه په غم کښې هم نه وي . که ورته انتظار وشي نور هم غافل او سستیږي او همدا عادت یې پسې پاته کیږي.
(فتاوی رحیمیه ص ۷۴ ج ۲)

د عیدگاه اړوند مسئلې

مسئله : په شریعت کښې د عیدگاه لپاره د کوم لوري ځانګړتیا نشته سنت صرف دادہ چې له ښار څخه بهروي نور که د ښار ښي ، کیڼ یا کوم بل لوري ته وي بې توپیره ده کوم ځای چې سهولت وي هلته دې جوړه شي.

(فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۰ ج ۱۵ و ۲۲۳ ص دمشکوة شریف باب العیدین ص ۱۲۵ ج ۱ په حواله)

مسئله : د هندو (غیرمسلم) څمکه د عیدگا لپاره داسې منله کېدلای شي چې هغه یې بیله کړي کوم مسلمان یې مالک شي او هغه مسلمان یې عیدگاه ته وقف کړي. ځکه د هندو (غیرمسلم) په وقف کښې په فقهې روایاتو کښې تردد دي (فتاوی دارالعلوم ص ۲۱۰ ج ۵)

مسئله : عیدگاه وقف ده هلته کوم تعمیر یا بل څه جوړېدلای نشي. خو که د لمونځ کوونکو دارامتیا لپاره چې له اوربنت او تودوخې څخه خوندي وي که کومه برخه مسقفه شي (بام ولري) څه حرج پکښې نشته . (فتاوی دارالعلوم ص ۲۱۴ ج ۵)

مسئله : که عیدگاه ورانه وي مسلمانان کولای شي د هغو سامان (گاډر یانورڅه) نوي عیدگاه ته یوشي هلته یې ولګوي. خو پخوانې عیدگاه که له سېلاب یانور زیان څخه وساتله شي هم هغسې وقف ده هلته هېڅ ډول تصرف جائز نه دی.(فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۴ ج ۵ د ردالمحتار کتاب الوقف ص ۵۱۴ ج ۳ په حواله)

مسئله : د اختر د لمانځه لپاره هم د ځای پاکوالي شرط دي که ناولې ځای لمونځ کیږي جواز نلري. (فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۲ ج ۵)

مسئله : په یوه ښار کښې دوې عیدګاوې او دوه ځایه د اخترونو لمونځونه کول کوم حرج نه دي. (فتاوی دارالعلوم ص ۲۰۸ ج ۵ درد المحتار ص ۷۸۳ ج ۱ په حواله)

مسئله : د اختر لمونځ په څو مسجدونو کښې کېدلای شي. ځکه په ښار ګوتي کښې چې یو ځای د جمعې او اخترونو لمونځونه جائز وي هلته څو ځایه هم جواز لري. خو غوره داده چې یوځای د جمعې او اخترونو لمونځونه وشي او د اخترونو لمونځونه له ښار څخه بهرا دا کول سنت دي (فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۸)

(مطلب دا دی چې څوځایونه هم صحیح دي هغه که دځای د تنګوالي. دعیدګاه د لیرې والي او یا د فسادونو له وجې وي. محمد رفعت قاسمي

مسئله : د اختر لمونځ په مسجدونو کښې کېدلای شي خوپه صحرایي ادا کول سنت دي. که عذرنه وي او پرته له عیدګاه څخه بل ځای د اختر لمونځ وشي د سنت خلاف کار دي. (فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۶ ج ۵)

مسئله : که په عیدګاه کښې بدعتي امام وي. بل ځای دي په دښته کښې لمونځ اداکړای شي. (فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۹ ج۵ ددرمختار ۱۱۴مځ اج په حواله)

مسئله : په مشترکه ځمکه له اجازې څخه پرته عیدګاه جوړول جواز نلري. او نه په واړه کلي کښې چیرې چې د جمعې لمونځ نه کیږي هلته د اختر لمونځ کول یا عیدګاه جوړولو ضرورت دي. (عزیز الفتاوی ص ۵۷۹ ج ۱)

مسئله داخترلمونځ په کلی کې تحریمی مکروه ده ځکه هغه شرائط ورته ضروری دی کوم چې دجمعې دلمانځه لپاره ضروری دی نو که داخترلمونځ نه وی بیانفل گرزی اونفل دډیروخلگوکول په جماعت مکروه دی .(عزیزالفتاوی۱-۳۰۸)

مسئله : که څوک د نشې په حالت کښې عیدگاه ته لاړشي او خلکوته یې له بدبوی څخه تکلیف رسیده که خلکو هغه له عیدگاه څخه وایست شرعا جائز د ی .(عزیزالفتاوی ص۳۰۸ج۱)

مسئله : په عیدگاه کښې د جنازې لمونځ کول جائزدی(فتاوی محمودیه ص ۲۷۵ج۲)

مسئله : کوم ځای چې د جنازې د لمانځه یا د اختر دلمانځه لپاره جوړ شوی وي هغه یوازې د اقتدا د جواز له امله د مسجد دننه حکم لري. که څه هم صفونه سره لیرې وي. له اقتدا پرته په بل حکم کښې د مسجد نه ځې نه دي همدا فتوا ده. د ناولي او حائضې ورتلل ورته جواز لري.

(درمختار ص ۶۰۰ج۱)په خینوامورو کې لکه وقف مثلاً دمسجد حکم لری .- محمدرفعت قاسمی غفرله

مسئله : عیدگاه ته په تللو کښې داسې تکبیرونه ویل چې یو خل یې یو کس وو ایې بیایې نور په گډه سره ووایې ترڅو لمونځ دریږي دا کار جواز نلري او مکروه دي. (فتاوی دارالعلوم ص۲۱۷ج ۵)

دمشکوة شریف (۱۲۷) مخ لومړی جلدحدیث هم ددی مسئلې تائیدکوی چې داخترپه ورځ دې په عیدگاه کې دخلگودرابللولپاره کوم غږ نه کوی (محمدرفعت)

مسئله : که قصابانو کومه عیدگاه جوړه کړه د نورو خلکو لمونځ پکښې صحیح دي. (فتاوی دارالعلوم ۲۰۸مخ ۵ج

مسئله : د مېرمنو تلل عیدگاه ته دا وخت بلکه بیخي پخوا لا ممنوع وو. د صحابه وو په زمانه کښې په جماعت کښې د هغوی گډون منع شوی وو. ،
الدرالمختار ص ۸۳ ج ۵) دتفصیل لپاره مکمل ومدلل نمازجمعه کتاب له ۱۲۷ مخ څخه تر ۱۳۰ پوري وگورئ

مسئله : (۱) که یوه عیدگاه کافی وه د بلې جوړول د شریعت د منشأ خلاف دي.

(۲) که کلي دومره وړوکي وو چې هلته د جمعې لمونځ نه کېده د اختر لمونځ هم نه کیږي .نوچې داخترلمونځ نه کیږي دعیدگاه جوړول هم ضروری نه دی اودوئ دسنت تارکین نه دی خوکه په سترکلی چې دجمعې لمونځ جائزوی اوعیدگاه نه وه نوجوړول ئي ضروري دی که ئي جوړه نه کړی دسنت دترک ویره شته.

۳- که کومه ویره وه یا دا اندېښنه وه چې کمزورویا ماشومانوته زیان رسیږي نو د عیدگاه پرېښودل جواز لري . یوازې په احتجاجي توگه د عیدگا پرېښودل جواز نلري.داحتجاج لپاره نورې لارې هم شته.

(۴) که ښار پراخ وو خلک لیری رسېدلای نه شوای. د تکلیف د کمېدلو لپاره نورې عیدگاوې جوړول جواز لري .

(۵) که عیدگا پرېښودله شوه بل ځای لمونځ وشو انشأ الله د سنت ثواب ورته رسیږي. (فتاوی رحیمیه ص ۳۵۸ ج ۶)

مسئله : که عیدگاد تعمیرونو په منځ کښې راغلله یعني ښار پراخ او کورونه ډېر شول بیا د صحرا حکم نلري. (فتاوی دارالعلوم ص ۱۹۵ ج ۵ دغنیة المستملي باب العیدین په حواله ،

مسئله : په کليوکې چيرې چې دجمعې لمونځ نه کيږي داخترلمونځ مکروه تحريمي ده ځکه داخترلمونځ په هغولمونځونوکې دی چې په کليوکې نه دي صحيح بناًورته ضروري دي په واړه کلي کې جواز نه لري (درمختار ص ۷۸۵ ج ۱)

مسئله : عيدګا په ډېرو امورو کښې د مسجد په حکم کښې ده. هلته د لوبو کتل غيږه نيول ، ساز غږول او نور ټول محرمه امور حرام دي. متولي دي داسې شيانوته اجازه نه ورکوي. داکارونه په اجازه او نه اجازه هلته جواز نلري (فتاوی دارالعلوم ص ۲۱۵ ج ۵ په حواله دشامي احکام المسجد ج ۱ ص ۶۱۵)

مسئله : په هدېره کښې که عيدګاه ودانه وه هلته لمونځ جائزدي.

(فتاوی دارالعلوم ۲۲۴ ج ۵ درالمختار ۲۵۲ ج ۱ په حواله)

مسئله : د احنافو په نزد که د لمونځ کوونکو څنګ ته قبر وو لمونځ بې مکروه دي. ځکه په قبر بې سترګې لګيږي او حضور خرابوي. که د لمانځه له ځاې څخه قبر کښته وو بيا مکروه نه دي: واضح ده چې که په هديره کې داسې ځای موندل کيده چې له نجاست څخه پاک ووبيامکروه ده اوکه بل ځاې پاک نه موندل کېده بيا مکروه نه دي . خو د انبياءوقبر خواته مکرونه دي. (کتاب الفقه ص ۴۲۱ ج ۱)

مسئله : په عيدګاه کښې که فاصله د دوو صفونو په اندازه يا زياته وه اقتدا،صحيح ده. (عالمګيری ص ۴۲ ج ۱)

مسئله : د اختر تر لمانځه وروسته په هغې عيدګاه کښې تر زوال وروسته د جمعې لمونځ جواز لري خو غوره داده چې د جمعې لمونځ له معمول سره

سم په جامع مسجد کښې وشي ځکه عیدګاه ته تلل او هلته لمونځ کول د اختر تر لمانځه پورې ځانګړې دي.(عزیزالفتاوی ص۴۵ ج۳)

مسئله :دمسجدفرش پوزي يانورشيان عيدګاه ته وړل صحيح نه دي (عزیزالفتاوی ۵۹۲-۱)

مسئله : کوم ځای چې د اخترد لمانځه لپاره وقف دي او عيدګاه بلل کيږي. هلته تصرف کول ، مدرسه ، کتابخانه يا بل څه جوړول . ورزش کول د خوړلو څښلو مجلس جوړول جائزنه دي. (عزیزالفتاوی ص۷۹۱ ج۱)

مسئله : له ضرورت څخه پرته په شخصي خصومت دوهمه عيدګاه جوړول اسراف او د تفرقې لپاره اساس اېښودل دي.(عزیزالفتاوی ص۴۰۸ ج۲)

مسئله : په کوم ښار ، قصبه يالوی کلي کښې چې هلته د جمعې او اختر د لمونځو جواز علماؤو ورکړې وي هلته له ودانيو بهر په ځنګله کښې دعيدګاه جوړول ضروری وي ژر دې عيدګاه جوړه کړي او تر هغودې له ښار څخه بهر د اختر د لمانځه لپاره يو ځای وټاکي. (فتاوی رحیمیه ص۷۶ ج۲)

د اختر په لمانځه کښې ځنډ

که په څه ملحوظ د عيد الفطر لمونځ په لومړی ورځ ونشي ، مثلا وريځ وي ، مياشت ونه ليدله شي ، بله ورځ امام تر زوال وروسته يا ترزوال وړاندې خبر شي چې مياشت ليدل شوې ده خو داسې وخت وي چې خلک راټولېدلای نشي. يا يې په اوريځ کښې لمونځ وکړ وروسته وپوهېدل چې تر زوال وروسته مولمونځ کړی د ي . دوهمه ورځ دې لمونځ وکړي خو وروسته دې لمونځ نه کوي که وخت وو او که تېر شوی وو ځکه د اختر د

لمانځه قضاء نشته که یې بل ځای جماعت نیولای شوای هلته دې لاړشي.
دوهم جماعت دې نه کوي.(محمدرفعت قاسمي)

د لوی اختر (عید الاضحی) په ورځ که یې دکوم عذر له امله لمونځ ونکړای شوای دوهمه او دریمه ورځ کېدلای شي. په لوی اختر کښې د عذر قید شته چې بیاکراهت نلري که پرته له عذر څخه په دوهمه یا دریمه ورځ وشي جائزده خوښه نه ده .په واړه اختر کې یوازې دعذر له امله خنډیدلای شي کنه دوهمه ورځ جواز نه لري په دوهمه ورځ هم دلمانځه هغه وخت ده چې په اوله ورځ ني ده .

مسئله : که امام دکوچني اختر لمونځ و کړ وروسته ، ترزوال وړاندې وپوهېد چې اودس یې نه درلود لمونځ دې بېرته را وګرځوی. که تر زوال وروسته وپوهېد دوهمه ورځ دې دوهم لمونځ وکړي. که په دوهمه ورځ ترزوال وروسته وپوهېد لمونځ دې نه کوي. که په لوی اختر کښې داسې پېښه وشوه اوله زواله وروسته داخبره معلومه شوه او خلکو قرباني کړې وې. قرباني یې جائزدي. لمونځ دې سبا راوګرځوي او که دریمه ورځ تر زوال وړاندې ورته یاد شول لمونځ دې را وګرځوي خوتر زوال وروسته یابله څلورمه ورځ لمونځ جائز نه دي.

مسئله :که دلوی اختر په ورځ تر زوال وړاندې معلومه شوه چې امام بې اودسه لمونځ کړ ی دي. خلکو ته دې اعلان وکړي که څوک خبر نه وو او قرباني یې کړېوه ، هغه جائزه ده خو تر معلومېدلو وروسته تر زوال پورې قرباني جائز نه ده. (فتاوی عالمګیری ص٧٥ ج١)

د اختر لمانځه ته د تللو فضيلت

رسول الله ﷺ فرمايي: ((چې د اختر ورځ شي فرښتې په لارو ولاړې وي او غږ کوي اې مسلمانانو ! راشئ د خپل کريم پروردګار دربار ته چې په

خپل کرم او احسان سره يې خپلو بند ګانو ته د نېکيو توفيق ورکړې دې او بيا ورته ستر اجر ورکوي تاسو ته چې د شپې د عبادت حکم شوی وو. هغه موپوره کړې دي. تاسو ته چې د ورځې د روژو حکم وو هغه مو پوره کړې دي اوس د امر د پوره کولو انعام وګورئ. بيا چې له لمانځه څخه فارغ شي . يو اعلان کوونکې غږ کوي. خلکو ! په رښتيا سره ستاسو رب تاسو ټول بخښلي ياست. ځئ خپلو ، خپلو کورونو ته بريالی وګرځئ. له همدې امله دا ورځ يوم الجائزه دي په ملااعلی کې هم ددې ورځې نوم يوالجائزه دی.

(الترغيب والترهيب ص ٣٨٨ ج ٢)

مسئله : د جمعې او اخترونو په ورځو کښې لمانځه ته سپاره تلل کومه خبره نه ده خوکه پياده لاړشي دا غوره او افضل دي. (عالمګيری ص ٧٢ ج ١)

عيدګاه ته د تلو راتلو د لارو بدلول

((عن جابر قال كان النبي صلى الله عليه وسلم اذاكان يوم عيد خالف الطريق)) (له جابر (رض) څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ به د اختر په ورځ لاره بدلوله). (صحيح بخاری)

تشريح : مطلب دادي چې رسول الله ﷺ به په کومه لاره عيدګاه ته تشريف وړو په راتلو کښې به يې هغه لاره پرېښودله او په بله لاره به يې تشريف وړو. علماؤو د دې ډېر حکمتونه بيان کړي دي . له هغوی څخه يو حکمت

مسلمانانو اجتماعی حالت او شوکت ښه څرګندیږي. او دا چې د اختر ورځ د مسلمانانو د خوشحالي ورځ ده نو دتفریح لپاره هم غوره دا ده چې په مختلفو لارو او له مختلفو کلیو څخه تیر شي . (معارف الحدیث ص ۴۰۷ ج ۲)

ځيني دا وايي که رسول الله ﷺ په کومه لاره تلای بېرته په هغې راتلای په ټولو به دا پیروي لازمه وه او صحابه کرام به په نورو لارو تلای نه شوای. رسول الله ﷺ د امت د اساني لپاره داسې وکړل چې تر لمانځه وروسته ی خلک په هره لاره غواړي لاړدې شي. (غنية الطالبين ص ۴۸۳)

د اختر تر لمانځه وروسته یاوړاندې څه خوړل

(عن بريدة (رض) قال كان النبي ﷺ لايخرج يوم الفطر حتى يطعم يوم الاضحى حتى يصلى .)) (له بريدة (رض) څخه روايت دي چې وايي درسول الله ﷺ معمول داوو چې د واړه اختر په ورځ به یي څه شي خوړل بیا به لمانځه ته روانېده خو دلوي اختر په ورځ به یي تر لمانځه پورې څه نه خوړل. (جامع ترمذی سنن ابن ماجه)

د لوي اختر په ورځ تر لمانځه وروسته د څه خوړلو وجه غالبا داوی چې په دې ورځ تر هر څه وړاندې د قرباني غوښه وخوري چې د الله ﷻ یو ډول ددې لپاره وی چې درمضان ټوله میاشت دورځې څه نه خوړل کېدل ، نن چې ورته اجازه شته د رضا او خوشحالي د ښکاره کولو لپاره چې یو بنده یې لري سهار له نعمتونو څخه خوند واخلي. د بندګي مقام هم دغه دي. (معارف الحدیث ص ۴۰۶ ج ۲)

د رسول الله ﷺ معمول

((عن انس قال کان النبی ﷺ لایغد ویوم الفطر حتی یاکل تمرات و یا کلهن وترا)) (رواه البخاری) (انس (رض) وایي: رسول الله ﷺ به د عید الفطر په ورځ د څوخرماوو له خوړلو پرته عیدګاه ته تشریف نه وړ او خرماوې به یي په طاق شمیر خوړلې)

تشریح : رسول الله ﷺ به د اختر په ورځ عیدګاه ته تر تللو وړاندې څودانې خرماوې خوړلې ګواکې په خوړلو کښې به یي ښېږه کوله تر څو درمضان له ورځو څخه فرق راشي. لکه څرنګه چې په رمضان کښې د ورځې نه خوړل واجب دي د اختر په ورځ دورځې خوړل واجب دي. رسول الله ﷺ به طاق دانې ، درې ، پنځه . اوه یازیات او کمې خورماوې خوړلې خکه په هر کار کښې د طاق شمېرې خیال ساتل غوره دي. رسول الله ﷺ به په دې معامله کښې هم د طاق شمېرې لحاظ درلود. وجه یي داده چې :((ان الله وتر یحب الوتر)) (الله ﷻ طاق دي او طاق خوښوي) د عیدالفطر په ورځ به رسول الله ﷺ خرماوې خوړي ، هغه به هغه مهال موجودې وې ځینې وایي چې د خرماوو په خوړلو کښې داحکمت دی چې هغه خوږې او د تقویې ذریعه دي په تېره که په تښه معده و خوړلې شي د سترګو په تقویه کښې ژر اغېز کوي . د روژې له امله چې کومه کمزوري پیدا شوې وي هغه ختموي او خواږه دایمان د مقتضا موافق دي علماء لیکي: څوک که په خوب کښې شیریني (خوږه) ووینې هغه ته به د ایمان حلاوت ورپه برخه شي. شیریني زړه نرموي له همدې امله په شیریني سره روژه ماتي (افضل دي (مظاهر حق ص۲۸۸ ج۲)

مسئله : د واړه اختر په ورځ عیدګاه ته تر تللو وړاندې. درې ، پینځه یا اوه خرماوې خوړل مستحب دي. که کمې یا زیاتې وي خو چې طاق وي که

خرماوې وچې یا لمدې نه وي نور خواږه شیان دې وخوري. که ترلمانځه وړاندې څه ونه خوري ګنهکار نه دی خو که تر لمانځه وروسته هم تربېګاپورې څه ونه خوري مواخذه لري. د لو ی اختر حکم هم د غسې دی خو د اختر تر لمانځه وړاندې دې څه نه خوري.

د لوي اختر په ورځ د اختر تر لمانځه وړاندې څه خوړل کراهت نلري خو تر لمانځه وړاندې څه نه خوړل مستحب دي ځو په دې ورځ لومړي د قرباني غوښه وخوري چې د الله ﷻ ضیافت دي. (فتاوی عالمګیری ص ۷۲ ج ۱)

د لوي اختر په ورځ د روژې تول شرائط مستحب دي

پوښتنه: د ذی الحجی په لسمه ورځ د اختر تر لمانځه وړاندې یو ازې څه نه خوړل مسنون دي که د روژې ټول شرایط مراعاتول؟

جواب: ترقربانۍ وړاندې د روژې د ټولو شرطونو لحاظ ساتل مستحب دی. په درمختار کښې دي چې که څه هم څوک قرباني نه کوي خو تر لمانځه وړاندې څه نه خوړل ورته مستحب دي او که څوک څه وخوري کوم کراهت نشته. له شامی څخه معلومیږي چې له ټولو هغو شیانو ځان ساتل مستحب دي کوم چې روژې ته زیان رسوي یعنې روژه ماتوي.

(فتاوی دارالعلوم ص ۱۹۲ ج ۵ درالمحتار باب صلوة العیدین ۷۸۴ مخ ۱ جلد په حواله)

مسئله: ځینې عوام وایي چې تر قربانی وړاندې روژه نیول کوم اصل نلري. خو تر قربانی وړاندې څه نه خوړل مستحب دي او دا روژه نه ده نه خوړل فرض دي. نه د روژې ثواب او نه د روژې نیت دي. (اغلاط العوام ص ۱۳۳)

داختر د لمانځه وخت

((كان النبى ﷺ يصلى بنا يوم الفطر والشمس على قدرر محين و الاضحى قدررمح .)) (رسول الله ﷺ به له خلکو سره لمونځونه داسې کول چې په عید الفطر کښې به لمر د دوو نېزو په اندازه هسک وو او د عیدالاضحی لمونځ به يې داسې وخت کاوو چې لمر به یوه نېزه هسک وو . (معارف الحدیث ص۴۰۲ ج۲)

د اختر د لمانځه وخت چې لمر یوه نېزه هسک شي بیا تر زوال پورې دي. که دیوې نېزې تر اندازې لمر ټيټ وو او لمونځ وشو هغه صحيح نه د ی بلکه يو حرام فعل دي(د يوې نېزې اندازه درې ګزه يعني شپږذراع(لاسونه) ده.) نو که تر دې وړاندې د اختر لمونځ وشو فاسد دي لکه د جمعې لمونځ چې ماز دیګر وشي. د فاسد والي مطلب دا دي چې هغه لمونځ و نه شو خو د نفل د لمانځه ثواب ورته رسيږي

(درمختار ص۷۹۱ ج۱)

داختر د لمانځه وخت دنفلی لمانځه دجوازتر وخت وړاندی دی که د اختر د لمانځه په وخت کښې زوال وشو لمونځ فاسدیږي (كتاب الفقه ص۵۴۹ ج۱)

د اختر لمونځ پر چا باندي واجب دي ؟

د احنافو په نزد د اختر لمونځ په داسې چا واجب دي چې د جمعې د لمانځه د شرطونو په پوره کولو د جمعې لمونځ ورباندې فرض وي .د جمعې دوجوب یا صحت په شرایطو کښې د اختر لمونځ داتوپير لري چې د اختر خطبه تر لمانځه وړاندې او دجمعې خطبه تر لمانځه وروسته ویله کیږي. بل توپیر دادي چې که داختر د لمانځه لپاره يو شخص حاضر وي صحیح دي خو د جمعې په لمانځه کښې به لږ ترلږه درې کسان ګډون کوي. د اخت

په لمانځه کښې جماعت واجب دي ترک يې ګناه ده خو د اختر لمونځ کيږي ، خو د جمعې لمونځ له جماعت څخه پرته نه کيږي. (کتاب الفقه ص ۵۴۸ ج ۱)

په چا چې د جمعې لمونځ لازم وي د اختر لمونځ هم ورباندې واجب دي. له خطبې سره سره کوم شرائط چې د جمعې دلمانځه دي د اختر د لمانځه لپاره هم دي خو د اختر تر لمانځه وروسته هم جواز لري خو مکروه ده که خطبه تر لمانځه وړاندې وويله شي تر لمانځه وروسته يې بيا لوستل نشته. (فتاوی عالمگیری ص ۷۴ ج ۴)

د اختر د لمانځه لپاره ډول (نغاره) وهل

که د نوم او شهرت لپاره وهل کيږي جواز نلري خو که د لمونځ کوونکو د خبرتيا لپاره وهل کيږي بيا جائز دي. (فتاوی دارالعلوم ص ۲۰۵ ج ۵)

د اختر په لمانځه کښې د مقتديانو انتظار

د اختر د لمانځه وخت تر زوال وړاندې دي نو تر زوال وړاندې انتظار کول څه ستونزه نه ده خو وروسته انتظار کېدلای نشي.

(فتاوی دارالعلوم ص ۲۰۵ ج ۵ د رد المحتار ۷۷۹ مخ جلد ۱ په حواله)

مسئله : ځينې خلک په عيدګاه کښې تر لمانځه وړاندې په لوړ غږ تکبيرونه وايي. دمسلم شريف له حديث څخه څرګنديږي چې د اختر په ورځ په عيدګاه کښې غږ يا تکبير په لوړ غږ په دې هيله ويل نشته چې خلک راوبولي. (عزيز الفتاوی ص ۳۰۹ ج ۱)

د اختر په ورځ نفلونه

(عن ابن عباس ان النبی ﷺ صلی یوم الفطر رکعتین لم یصل قبلهما ولا بعد هما (بخاري و مسلم))(له ابن عباس (رض) څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ به د عیدالفطر په ورځ دوه رکعت لمونځ کاوو ترهغه وړاندې او وروسته به يې کوم نفل لمونځ نه کاوو. (معارف الحدیث ص۴۱ ج۳)

مسئله: د احنافو په نزد د اختر تر لمانځه وړاندې نفل کول مکروه دي که هغه په عیدگاه کښې وي او که بل ځای، خو داختر تر لمانځه وروسته یوازې په عیدگاه کښې لمونځ مکروه دي په کور کښې مکروه نه دی. (کتاب الفقه ص۵۶۰ ج۵)

د اختر تر لمانځه وړاندې مطلقا نوافل مکروه دي. خو تر لمانځه وروسته دا حکم دي چې په عیدگاه کښې دې نه کوي. که کورته لاړشي او نوافل وکړي صحیح دي. (فتاوی دارالعلوم ص۲۲۷ ج ۵ ردالمحتار ص۷۷۷ ج۱)

مسئله: د اختر تر لمانځه وړاندې دسهار د لمانځه قضایی اداءکول جواز لري خو په کور کښې په پټه دې اداکړي ترڅو د خلکو ورباندې بدگمانی رانشي.

مسئله: په عیدگاه کښې د نفلونو کول له دې امله مکروه دي چې د اختر په لمونځونو کښې د زیاتوالي وېره نه وي. د اختر د لمانځه وخت تر زوال پورې دي. ځکه هم په هغه مسجد کښې چې د اختر لمونځ شوی وي ترزوال وروسته د نفلونو کول مکروه نه دی. (احسن الفتاوی ص۱۲۰ ج۵)

مسئله: که چاد سهار لمونځ کړی نه وو، د اختر لمونځ ئي جائزدی داختر ترلمانځه وړاندی د تیر قضاشوی لمونځ اداء صحیح ده خو غوره دادہ ده چې داختر تر لمانځه وروسته قضا اوړی. (عالمگیری ص ۷۳-ج ۵)

د نفلونو د ممانعت لامل څه شی دي؟

پوښتنه: د اخترونو په ورځو کښې د اشراق او څاښت لمونځونه ولې نه کیږي وجه یي څه ده؟

جواب: د دې وجه داده چې له رسول الله ﷺ څخه یي کول ثابت نه دي. نو که دڅاښت لمونځ د اختر له لمانځه ترراګرځېدلو وروسته وکړي څه حرج نشته. (امدادالفتاوی ص ۶۷۴ج ۱)

داختر په لمانځه کښې به ماشومان چېرې دریږي

دنا بالغو ماشومانو په هکله حکم دادی چې که په جماعت کښې شامل وو نو شاته دې ودریږي. که د اختر لمونځ وو او که عادي لمونځ. که د مجبوري له کبله په عیدګاه کښې وړاندې تللي وو . که په جماعت کښې ودریږی . که د لمانځه مخته کښيناستل یا نیي. کین لوري ته ودرېدل لمونځ کیږي. خو د سنت خلاف او تنزیهي مکروه ده. (فتاوی دارالعلوم ص ۱۹۶ ج ۵ د ردالمحتار باب امامت ۵۳۴مخ ۱جلد په حواله)

مسئله: نن سبا عیدګاه ته د ماشومانو بیول یو عام رواج دي. هریو له ځان سره ماشوم بیایي سره له دې چې هر کال تکلیف وینې خو احساس او تمیز نشته. ضرورده چې ناپوه ماشومان عیدګاه ته بو تلل نشي. بولې وکړي نور ضرورت ولري. نو (اغلاط العوام ص ۱۱۹)

داختر د شپږو تکبیرونو جواز

د احنافو دلیل. د اختر په لمانځه کښې د زوائدو تکبیراتو په هکله دا حدیث دي: ((عن سعید بن العاص (رض) انه سأل اباموسی الاشعری و حذیفه بن الیمان کیف کان رسول الله ﷺ یکبر فی الاضحی و الفطر فقال ابو موسی کان یکبر اربعا فی الرکعة الاولی مع تکبیرة الاحرام و فی الثانیة مع تکبیرة الرکوع تکبیرة و علی الجنائز. فقال حذیفه صدق.

(رواه ابو داؤد، مشکوة شریف باب صلوة العیدین ۱۲۶ج۱)

(په دې روایت کښې په دواړو رکعتونو کښې نه تکبیرونه راغلي دي مراد ورځنه زوائد تکبیرات دي. په اول رکعت کښې د تحریمې او رکوع تکبیرونه داخل دي او په دوهم رکعت کښې د رکوع تکبیر داخل د ی.

(فتاوی دارالعلوم ص ۲۰۶ ج ۵)

په ((شرح منیه)) کښې لیکلي: د اختر د لمانځه په هر رکعت کښې د تحریمې له تکبیر ځنه پرته د دریو تکبیرونو روایت له ډېرو سترو صحابه وو ځنه ثابت دي او له رسول الله ﷺ ځنه منقول دي. (فتاوی دارالعلوم ص ۱۹۵ ج ۵ بحواله غنیة المستملی باب العیدین)

داختر د لمانځه نیت

پوښتنه: که د اختر د لمانځه نیت داسې وشي، ((نیت کوم د دوو رکعتو نو سنت لمانځه له شپږو تکبیرنو سره)) په دې صورت کښې لمونځ صحیح کیږي که نه ؟

جواب: په دې نیت لمونځ صحیح کیږي ځکه ځینې علما د اخترونو لمونځونه سنت بولي خو صحیح داده چې واجب دی. نو احتیاط دا دي چې

د واجب لفظ وویل شي. خو که په نیت کښې د سنت لفظ وویل شي بیا هم لمونځ صحیح دي. (فتاوی دار العلوم ص ۲۲۲ ج ۵ په حواله درد المحتار باب العیدین مغ ۷۷۴ ج ۱)

داختر د لمانځه طریقه

د احنافو په نزد د اختر د لمانځه د ادا په وخت کښې له زړه نیت کول او په ژبه ویل چې ((زه د الله ﷻ لپاره د اختر د لمانځه نیت کوم)) مقتدي دې د امام د متابعت نیت هم کوي. بیا تکبیر تحریمه ویل کیږي او لاسونه د نورو لمونځونو په څېر ترنامه لاندې نیول کیږي. بیا امام او مقتدیان ثناء (سبحانک اللهم) تر اخیره وایی بیاامام درې زوائد تکبیرونه وایي مقتدیان ئې هم وایي هر ځلې د تحریمې د تکبیر په څېر لاسونه غوږونو ته رسوي او تر تکبیرویلو وروسته یې ځوړند کوي ، تر دریم تکبیر ویلو وروسته لاسونه تړي. ترهر تکبیر وروسته د درې ځله تکبیرو ویلو په اندازه ځنډ کیږي. په ثنا کښې نور مسنون ذکر نشته بیا امام اعوذ بالله او بسم الله پټ وایي. فاتحه او کوم سورت په جهر سره وایی. مستحب دادي چې ((سبح اسم ربک الاعلی)) سورت وویل شي. بیا امام او مقتدیان رکوع او سجدې کوي. بیا دوهم رکعت پیل کیږي امام فاتحه او کوم سورت وایی. مستحب داده چې د ((هل اتاک)) سورت وویل شي. ترسورت وروسته د تېر په څېر درې زوائد تکبیرونه ویل کیږي او په څلورم تکبیر رکوع ته ځي. نور لمونځ پسې پوره کیږي.

(کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه ص ۵۵۰ ج ۱)


مسئله : د اختر د لمانځه تکبیرونه په لومړي رکعت کښې ترقرائت وړاندې او په دوهم رکعت کښې ترقرائت وروسته ویل کیږي. په دې توګه د دواړو قرائتونو ترمینځ حایل نه جوړیږي. (درمختار ص ۲۹۱ ج ۱)

مسئله : د اختر دلمانځه د زوائدو تکبیرونو تر مینځ کوم مسنون ذکر نشته ځکه دا حکم دي چې د تکبیر تر ویلووروسته دې لاسونه ځوړند کوي لاسونه تړل هغه وخت وي چې کوم مسنون ذکر وي. د تکبیرونو تر مینځ دومره چوپتیا باید وي چې درې ځله سبحان الله پکښې ویل کېدلای شي. که خلک ډېر وو دا چپتیا ډېره وی تر څو اشتباه پاته نشي.(درمختار ص ۷۹۲ ج ۱)

د عیدالاضحی (لوی اختر) احکام

د واړه اولوی اختر احکام یو ډول دي. د دواړو وخت یو شان دي. شرائط یې یو شان دی. دومره فرق شته چې د لوی اختر لمونځ تر دریمې ورځې هم کېدلای شي. د لوی اختر لمونځ که پر ته له عذر څخه تر دریمې ورځې (دوولسم تاریخ)ورسیرې کیرې خو مکروه دی او د کوچنې اختر لمونځ که پرته له عذر څخه دوهمې ورځې ته پاته کیږي صحیح نه دي.(درمختار ص ۷۹۶ ج ۱)

مسئله : په لوي اختر کښې د لمانځه طریقه د واړه اختر د لمانځه په څېر ده یوازې په نیت کښې د عید الفطر په ځای عید الاضحی ویل کیږي. د واړه اختر په ورځ تر لمانځه وړاندې څه خواړه شیان خوړل سنت دي خو په لوی اختر کښې نشته. په واړه اختر کښې لمانځه ته په لاره د تکبیرونو ویل په وروغږ دي او په لوی اختر کښې په جهر ویل کیږي. د واړه اختر لمونځ ناوخته کول او د لوی اختر لمونځ وختي کول دي. د لوي اختر په ورځ د فطر صدقه نشته بلکه تر لمانځه وروسته قربانی شته خو په هغه چا چې وس یې لري. اذان او امامت نه د وړوکي اختر په لمانځه کښې شته او نه د لوی اختر. (بهشتی زیور ص ۸۵ ج ۱۱ د شرح التنویر ص ۶۲ ج ا په حواله)



دلوی اختر خطبه

د لوي اختر (عيد الاضحی) په خطبه کښې امام د تشريق دورځو او قرباني احکام بيانوي تر څو خلک وپوهيږي. طحطاوی ليکي. تر لوی اختر په وړاندې جمعه کښې د قربانی او نورو احکامو بيانول مناسب دي.
(درمختار ص ۸۰۰ ج۱)

عيدګاه ته په تللو کښې تکبيرونه

عيد ګاته په تللو کښې په لاره په لوړ غږ تکبير (الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر ولله الحمد) ويل کيږي په دې کښې د چا اختلاف نشته.

مسئله: په لوی اختر کښې دا مستحب دي چې تر لمانځه وروسته څه شی وخوري خو که څوک تر لمانځه وړاندې څه وخوري هغه هم تنزيهي مکروه نه ده ځکه په بدايع کښې په صراحت وايي. که څوک څه خوري که يي نه خوري خو مستحب داده چې تر لمانځه يي وروسته وخوري.
(درمختار ص ۷۹۶ ج۱)

د لوی اختر تر لمانځه وروسته تکبيرونه

د لوی اختر تر لمانځه وروسته د تکبيرنو په ويلو کښې څه حرج نشته. ځکه مسلمانانو همداسې کړي دي او دا طريقه راروانه ده. نو د لوی اختر تر لمانځه وروسته تکبيرونه ويل مستحب دي. (درمختار ص ۸۰۰ ج۱)

د اختر لمونځ له اذان او اقامت څخه پرته سنت دي

((عن جابر بن سمرة قال صليت مع رسول الله ﷺ العيدين غير مرة ولا مرتين بغير اذان ولا اقامة)) (رواه مسلم) (له جابر بن سمره (رض) څخه روايت دي ماله رسول الله ﷺ سره يو يا دوه ځلې نه بلکه څو ځلې لمونځ کړې دي تل پرته له اذان او اقامت څخه. (صحيح مسلم معارف الحديث ص ۴۰۰ ج ۳)

له دې حديث شريف اونورو فقهي روايتونو څخه معلوميږي چې د اخترونو په لمونځونوکښې اذان ، اقامت او الصلاة الصلوة نارې وهل هيڅ نشته. همدا مسنونه طريقه ده . (فتاوى دارالعلوم ص ۲۳۷ ج ۵)

د نفلو په نيت بيا د اختر لمونځ کول

د نفلونو په نيت په جماعت کښې ګډون کول کومه ګناه نه ده . ځکه شرعا ځينې ځايونه د د اسې کولو حکم دي. د فقهې په کتابونو کښې دي چې که چا د ماپښين او ماخستن لمونځونه کړي وو او د اقامت ويلو په وخت کښې په مسجد کښې وو له مسجد څخه دې نه ځي بلکه د نفلو په نيت دې په جماعت کښې شامليږي.

(فتاوى دارالعلوم ص ۲۲۷ ج ۵ در دالمحتار باب ادراک الفريضة ۶۶۸ مخ جلد۱ په حواله.

د جمعې او اخترونو په خطبوکښې فرق شته

۱-د اخترونو خطبه د جمعې په شان د لمانځه لپاره شرط نه ده. بلکه پرته له خطبې هم د اختر لمونځ صحيح د ی.

۲-د اخترونو خطبه فرض او واجب نه ده بلکه سنت ده.

۳ـ د اختر خطبې تر لمانځه وروسته ویل کیږي.

د علامه شامی (رح) الفاظ دادي: ((د جمعې او اخترونو د خطبو تر منځ فرق دادي چې د اخترونو خطبه سنت ده. شرط نه ده او د جمعې د خطبې په خلاف تر لمانځه وروسته ده)) په بحر الرائق کښې راځي: که د اخترونو لمونځ له خطبې ویلوړ ته وشي صحیح دي. خوترک د سنت ده. همدا شان تر لمانځه وړاندې د خطبې ویل خلاف سنت او ګناه ده. خو لمونځ صحیح کیږي. که یاد شویو شیانو ته وګورو. که داختر په خطبو کښې عربي وویله شي او په نورو ژبو یې ژباړه واوروله شي کوم حرج نه دي. ځکه د دې خطبې هغه شان نه دي چې د لمانځه لپاره شرط یاد دوو رکعتونو په ځای ده. بلکه دا چې خطبه تر لمانځه وروسته ده. که عربي خطبه ختمه شي. د اختر لمونځ او ورسره سنت خطبه بشپړ شوې دي. وخت خالي وي د تبلیغ په توګه دې د احکامو ژباړه واورول شي. اوږده خطبه ویل هم لازمه نه ده. که د ترجمې په وخت کښې که کوم سړې خي کوم الزام وربانديې نشته. خو د جمعې د خطبې په خلاف چې خامخا به دلمانځه انتظار کوي.

(خلاصة الاجوبه فی العروبقمولانامفتی محمد شفیع)

د اختر خطبه څرنګه ویله کیږي ؟

د اختر په خطبه کښې مستحب دا دي چې په لومړۍ خطبه کښې نه او په دوهمه خطبه کښې اوه ځلې الله اکبر وویل شي. دا سنت دي او مستحب دا دي چې له منبر څخه تر کوزېدلو وړاندې څوارلس ځلې الله اکبر وویل شي. د اختر د خطبې لپاره چې منبر ته خیژي په منبر دې نه کینيني. زموږ په نزد داسنت طریقه ده. په منبر کښيناستل د اذان ختمېدلو ته انتظاردي خو داختر په لمانځه کښې اذان نشته نو نه دې کښیني. (درالمختار ص ۷۹۴ ج ۱)

مسئله: د دواړو خطبو تر مینځ دې څه زیاته شبېه کښېني. (فتاوی عالمگیری ص ۷۲ ج ۱)

مسئله: تر لمانځه وروسته دې امام په منبر دریږي او خطبه دې وايي. دا سنت دي د لمانځه او خطبې ځای یونه دي. په لمانځه کښې امام کښېنته ولاړ وي او خطبه په منبر ویله کیږي. (دا غلطه ده چې چیرې لمونځ کیږي هلته په خطبه هم وايي. (فتاوی دارالعلوم ص ۱۹۲ ج ۱)

خطیب به څه بیانوي؟

په خطبه کښې د فطر د صدقې احکام بیانیږي او دا بنودل کیږي چې صدقه په چا واجب ده؟ چاته یې ورکړه واجب ده؟ څه وخت واجب ده؟ څومره واجب ده؟ څه شی ورکول واجب دي؟ د لوی اختر په ورځ خطیب الله اکبر او سبحان الله وايي. وعظ کوي د قربانۍ او ذبح احکام بیانوي د تشریق تکبیرونه ښيي. کله چې امام الله اکبر او درود وايي مقتدیان یې په زړه کښې وايي او پټه خوله کښېناستل سنت دي. (فتاوی عالمگیری ۷۲ مخ اجلد)

مناسب داده چې تر اخترونو په وړاندې جمعه کښې د فطر د صدقې احکام بیان کړي تر څو خلک پوه شي او په وخت صدقه ورکړي. رسول الله ﷺ دوه ورځې وړاندې وعظ کاوو او د صدقې د اداء کولو حکم یې وکړ.

(درمختار ص ۷۹۴ ج ۱)

د اختر تر لمانځه وروسته امام (یاخطیب) دوه خطبې وايي او دا سنت دي که یې خطبه تر لمانځه وړاندې وویله د سنت خلاف عمل یې وکړ. کوم شیان چې د جمعې په لمانځه کښې مسنون او مکروه دي. د اختر په لمانځه کښې هم مسنون او مکروه دي. یو ازې دوه شیان سره فرق لري. یو دا چې د اختر تر خطبې وړاندې د تکبیرویل سنت دي خو په جمعه کښې سنت نه دي

وهم داچې د جمعې په خطبه کښې تر خطبې وړاندې په منبر د امام کښيناستل سنت دي خو په اخترونو کښې مسنون نه دي. (درمختار ص ۷۹۲ ج۱)

مسئله: د احنافو په مسلک د اختر په خطبه کښې ترخطبې وړاندې امام په منبر کښيناستل مکروه دي بلکې منبر ته له ورتللو سره سم دې خطبه پيل کوي او نه دې کښيني. (کتاب الفقه ص ۵۶۰ ج ۱)

مسئله: د احنافو په نزد د اخترونو خطبې د جمعې خطبې ته ورته دي په خطبو کښې يوازې يوز کن دي. هغه د الله ذکر دي که کم وي او که زيات. نو په خطبو کښې يوازې حمد يا تسبيح او تهليل کافي دي. خو په يو د امر باندې انحصار کول تنزيهي مکروه دي. د احنافو په نزد دوهمه خطبه له شرطونو څخه نه بلکه سنت ده. (کتاب الفقه ص ۵۶۱ ج ۱)

دتفصيل لپاره مکمل اومدلل دجمعې دلمانځه مسائل نهم باب وګورئ.

مسئله: د احنافو مذهب دا دي چې د اختر لمونځونه په صحرا او بيابان کښې کول افضل او مستحب دي. منبر هلته وړل اختلافي خبره ده. علامه شامي ليکي منبر هلته وړل مکروه دي خو که هلته منبر جوړشي کوم حرج نه دي دا خبر غلطه ده چې د اختر خطبې په منبر درېدل ناجائزدي.

(فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۶ ج ۵)

مسئله: د خطبې ډېراوږدول مکروه دي خو خطبه که هرڅومره وي.. د خطبې د اوږدوالي کراهت د خطيب په حق کښې ده. په اورېدنکو د ټولې خطبې اورېدل واجب دي. (فتاوی دارالعلوم ص ۱۹۴ ج ۵)

مسئله : د اختر په خطبه کې که ضروري مسائل بيانيږي هغه دې کم وي خو تر خطبې وروسته وربانديې کوم قيد نشته. (امداد الفتاوی ص۲۱۱ج۱)

مسئله : د اختر خطبه ويل او اورېدل مؤکد سنت دي خو که خطبه ويل کېدله او څوک هلته حاضرو غوږ نيول ورته واجب دي. هغه مهال خبرې کول ناجائز او شراو شورجوړول سخته گناه ده. (امدادالمفتين ص۷۸)

مسئله : که څه هم د اختر خطبه سنت ده خو اورېدل اورته پته خوله کښيناستل واجب دي. داپه داسې حال کښې چې خطبه اورېدله کيږي او که نه اورېدله کيږي (درمختار۵۸۵ج۱)

مسئله : د اختر په خطبه کښې که په صفونو کښې په خپلو خايونو کښيناستل شي بهتر او غوره دي. صحابه کرام (رض) به په خپلو خايونو ناست وو. (بلوغ المرام ص۵۵)

مسئله : خطبه په ولاړو ويل سنت دي. که د عذر له امله په ناستو ولوستل شي صحيح ده، خو مداومت يې ښه نه دي بله چاره يې ضرور ده
(فتاوی رحيميه ص۲۷ج۵

مسئله :که خطيب تکبيرونه ويل حاضرين دي تکبيرونه ورورو ووايي او که خطيب د ((ان الله وملئکته)) آية ولوست حاضرين دې په زړه کښې درود ووايي. (فتاوی رحيميه ص۹۰ج۵)

مسئله : که تر لمانځه وړاندې يا تر خطبه وروسته چنده (مرسته) ټولېدله پروا نه لري. خو د خطبې ويلو په وخت کښې جواز نلري(فتاوی رحيميه ص۸۸ج۵؛

که څوک تر قرائت وروسته په لمانځه کښې شریک شي

که مقتدي د امام د قیامي په حال کښې راغی امام تکبیرونه ویلي وو هغه دې د خپل مذهب موافق زوائد تکبیرات ووایي او بیا دې د امام ملګرتیا وکړي. که له مقتدي څخه یو رکعت تېر وو نو کله چې همدا تېر شوی رکعت پوره کوي نو لومړی دې قرائت ووایي او بیا دې تکبیرونه ووایي او رکوع ته دې لاړ شي تر څو دا تکبیرونه پرله پسې نشي او قرائت یي تر منځ فاصله شي. (درمختار ص۲۹۱ ج۱)

مسئله: که مقتدي تکبیرونه لانه وو ویلي او امام رکوع ته لاړ په دې صورة کښې دې مقتدي په قیام کښې تکبیرونه نه وایي بلکه هغه دې له امام سره رکوع ته لاړ شي او په رکوع کښې دې زوائد تکبیرات ووایي. دا صحیح قول دي خکه رکوع د قیام حکم لري. ددې مسنون تر اداء دا غوره ده چې واجب اداء شي. په رکوع کښې تسبیح سنت دي خو زوائد تکبیرات واجب (په رکوع کښې د تکبیراتو ویل هغه وخت صحیح دي چې که مقتدي وبرېږ چې که تکبیرونه په ولاړه وایم امام له رکوع څخه راپورته کیږي اوزه د رکعت پوره کولاي نشم.)

مسئله: که امام د اختر د لمانځه په دوهم رکعت کې د زوائدو تکبیراتو له ویلو پرته رکوع ته لاړ تکبیرونه دې په رکوع کښې ووایي. د تکبیرونو لپاره دې بېرته قیام ته نه خي.

مسئله: د اختر په لمانځه کښې د زوائدو تکبیرونو د ویلو طریقه داده چې د تکبیر په وخت کښې دواړه لاسونه تر غوږو پورې هسک کړي. که څه هم امام د لاسونو لوړولو ته قایل نه وي. خو که یي تکبیرات په رکوع کښې ویل لاسونه دې غوږونو ته نه وړي. دا مختار مذهب دي څکه په رکوع

کښې خنګونو نیول سنت دي او په تکبیراتو کښې لاسونه غوږونو ته رسول هم سنت دي ، خو دايي محل نه دي هغه چې محل يې(خنګونو نیول) دي هغه دې غوره شي . (درمختار ص۲۹۲ ج۱)

مسئله : که څوک دزوائدو تکبیراتو ترویلو وروسته په لمانځه ودرېد حکم يې دا دي چې تر تحریمه تکبیر وروسته دې زوائد ووايي که څه هم امام قرائت وايي . که امام رکوع ته تللې وو ، تکبیرات دې ووايي او رکوع ته دې لاړشي . که مقتدي وېرېده چې که تکبیرونه وایم امام له رکوع څخه پورته کیږي بیا دې تکبیرونه په رکوع کښې ووایي . که يې په رکوع کښې تکبیرات پوره نه کړل امام هسک شو . ورسره جګ دې شي او پاته تکبیرونه ترې ساقط دي . که په دوهم رکعت کښې په لمانځه ورسره ودرېد . د امام تر سلام ګرځولووروسته دې ولاړ شي بل رکعت دې وکړي خو زوائد تکبیرونه دې تر قرائت وروسته ووايي خو که يې په تشهد ویلو کښې لمونځ ونیو د امام تر سلام وروسته دې هسک شي او داسې دې دوه رکعته لمونځ وکړي لکه له امام سره چې به يې کاوو.

(احسن الفتاوی ص ۱۴۲ ج ۴ درمختار ص۷۸۱ ج ۴ په حواله)

مسئله : که امام له رکوع څخه را پورته شو او څوک ورسره په لمانځه شریک شو تکبیرات دې نه وایي . دامام له سلام اړولو وروسته دې تېر شوي رکعت له تکبیراتو سره پوره کړي .(کتاب الفقه ص ۵۵۱)

مسئله : د اختر په لمانځه کښې دز وائدو تکبیرونو په مهال د لاسونو پورته کول (رفع يدين) سنت دي . که رفع يدين ونکړي لمونځ خو کیږي خوبيا دې داسې نه کوي او دا سنت دې په ځای کوي. (عزيزالفتاوی ص۳۰۱ ج۱)

مسئله : د اختر د لمانځه تکبیرونه واجب دي. که کوم تکبیر پاته شي ترک دواجب دي او د سهوسجده لازمیږي خو دا چې داختر په لمانځه کښې سجده سهو نشته نو د اختر لمونځ کیږي. (عزیزالفتاوی ص۳۰۹ ج۱)

مسئله : که عیدګاه ته څوک داسې وخت ورسېد چې لمونځ کېده خو دده اودس نه وو ، که پوهېده چې د اودس له کولو سره د لمانځه یوه برخه نیولای شم اودس دې وکوي او په لمانځه کښې دې ورسره شریک شي او که نه تیمم دې وکړي او لمونځ دې ورسره پیل کړي. (طحطاوی ص۶۴)

مسئله :که داختر په لمانځه کې دچااودس مات شوسمدستې دی تیمم وکړی او په لمانځه کې دی شریک شی .(طحطاوی۶۳)

مسئله :که څوک دکوچنی یالوی اختر په لمانځه کې داسې مهال شریک شی چې امام له تکبیرونو څخه فارغ شوی وو ، که په قیام کې شریک شوله تکبیرتحریمه سره دی سمدستې زوائدتکبیرونه ووایي که څه هم امام قرائت وایي که درکوع په مهال ورسره شریک شوتحریمه اوزوائدتکبیرونه دی ووایی اوپه رکوع کې دی ورسره شریک شی که درکوع دپاته کیدلوویره وه تحریمه دی ووائي په رکوع کې دی شریک شی اودسبحان ربی العظیم پرځای دی زوائدتکبیرونه ووائي ،لاسونه دی غوږوته نه پورته کوي ،که مام له رکوع څخه پورته شوځومره تکبیرونه چې نې ویلې دی له امام سره دی پورته شی پاته تکبیرونه دی پریږدي ورته معاف دی.

مسئله : که چا د اختر د لمانځه دوهم رکعت له امام سره ونیو تر سلام وروسته دې دوهم رکعت داسې پوره کړي چې لومړی دې قرائت ووایي او

بیا تکبیرونه دا خیال دې نه کوی چې دا خو زما لومړی رکعت دي او
تکبیرات به لومړی ووایم. (درمختار ص ۵۸۴ ج ۱)

که داختر په لمانځه کښې جماعت ونه نیسي

که له چا څخه داختر لمونځ تېر شو. که دوهم ځای یې لمونځ نیولای شوای هلته دې لاړ شي او لمونځ دې وکړي. ځکه داخترنولمونځونه په په یوه ښاریاقصبه کې څوځایه اداکول په اتفاق سره کیدلای شی خو که هلته تلای نشي هغه دې څلور رکعته لمونځ د ثابت د لمانځه په څېر وکړي. دا داختر لمونځ نه دي. انشأ الله د ثواب د کموالي تلافی به یې وشی.

(درمختار ص ۷۹۵ ج ۱)

مسئله: د احنافو په نزد داخترنودلمونځونودصحت لپاره دجمعې په څېرجماعت شرط دی که ئې په امام پسې داخترلمونځ ونکړ قضا نلري نه په وخت کې اونه بیا. که یې قضا یوازې راوړه څلور رکعته لمونځ دې پرته له زوائدو تکبیراتو څخه وکړي. تر فاتحې وروسته دې په لومړی رکعت کښې (الاعلی) په دوهم کښې (الاضحی) په دریم کښې (الم نشرح) او په څلورم کښې دې (والتین) ووایي. (کتاب الفقه ص ۵۵۵)

که څوک رکوع ونکړي

پوښتنه: که په دوهم رکعت کښې امام زوائد تکبیرات پرېښودل او رکوع ته لاړ مقتدیان ولاړ وو. امام سجدې ته لاړ مقتدیان هم ورسره لاړل او رکوع ترې پاته شوه. امام د سهو سجده وکړه. د مقتدیانو لمونځ څرنګه شو ؟

جواب: د امام او هغه مقتديانو لمونځ صحيح شو کومو چې رکوع کړې وه او له هغو مقتديانو څخه چې رکوع پاته وه د هغوی لمونځ ونشو.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۱۷ ج۱)

داختر په لمانځه کښې د دوهم جماعت حکم

په يوه عيدګاه کښې په دوهم خلې جماعت کولو سره لمونځ کيږي خو د ځينې عوارضوله امله په يوه مسجد کښې دوهمه پلا جماعت کول مکروه دی. دلته هم دغسې ده. او زياته بده خبره لاپکښې داده چې په انتظام کښې خلل راځي او په عوامو کښې دبې اتفاقي خطره وي. له دې امله دې وروسته راغلي خلک په بله عيدګاه يابل مسجد کښې جماعت وکړي.
(احسن الفتاوی ۱۲۵ ج۴)

[غوره داده چې بل جماعت ونکړی چيرې چې جماعت ناوخته کيده هلته دې جماعت وکړي. (رفعت قاسمی)

د دوهم جماعت حکم

که په عيدګاه کښې يا تري بهر ځای نه وو او خلک له جماعت څخه پاته شول. خلک دې په داسې مسجد کښې بل جماعت وکړي چې هلته د اختر لمونځ شوی نه وي. که دغسې مسجد نه وو بل ځای دی لمونځ وکړي خوداسې چې هلته هر چاته دورتلو اجازه وي په عيدګاه کښې دوهم جماعت مکروه دی. په دوهم جماعت کښې به بل امام وي کوم چې اول جماعت کړی دې هغه به بيا لمونځ نه ورکوي. (فتاوای رحيميه ص۳۰ ج۵)

د مجبوریت له امله دوهم جماعت

پوښتنه : که چیرې لوی ځای نه وو . واړه ځایونه (مسجدونه یا سالونونه) وو چې ټول خلک پکښې نه ځایدل آن نیم یا زیات کسان پاته کېدل . که هلته په تکراري ډول د اختر لمونځونه وشي حکم يې څه دی ؟

جواب : چیرې چې عیدګاه نه وي او په مسجد کښې هم ګنجایش نه وي . په ځنګل کښې دې یو میداني ومومي او هلته دې لمونځ وکړي . که دغسې میدان نه وو . په ښار کښې دې یو خوندي میدان ومومي یادې ستر سالون یا تعمیر پیدا کړي . که بیا هم خلک نه ځایدل دوهم ځای دې د لمانځه لپاره غوره کړي یعني دوه ځایه دې د اختر لمونځ وکړي . که مجبوریت او شرعي عذر نه وو په یوه ځای کښې دې دوهم او دریم جماعت نه کیږي . که بیا هم بل ځای نه پیدا کېده او د لمونځ د نه کېدلو احتمال وو بیا دې هلته دوهم جماعت وکړي خو په بل امام پسې . لومړی امام بیا جماعت نشي ورکولای . په عیدګاه کښې د امام لپاره د مرستې اعلان غلط کار دی که چا له خپل وس سره سم مرسته کوله یا يې هدیه ورکوله څه حرج پکښې نشته .

(فتاوی رحیمیه ص ۳۶ ج ۵)

مسئله : د جمعې او اخترونو د لمونځونو د صحت لپاره مسجد شرط نه دی . په ښار یا د ښار په پنا کښې اداکېدلای شي . (هدایه ص ۸۴ ج ۱ - طحطاوي علی مراقي الفلاح ص ۲۹۳)

مسئله : د لمانځه لپاره د ځای وقف کول هم ضرور نه دي . په شخصي ځای یا کرایي ځای کښې هم کېدلای شي خو شرط دا دی چې هلته د هر چا دورتلو اجازه وي یعني هرڅوک هلته د لمانځه دکولو اجازه ولري .

(درمختار مع الشامي ص ۷۶۱ ج ۱ فتاوی رحیمیه ۲۷۴ ج ۱)

د اخترونو لمونځونه واجب او د قضايي نه لرلو وجه

پوښتنه: د اخترونو لمونځونه واجب دي که نفل ؟ قضايي ولې نشته په داسې حال کښې چې دوترو قضايي شته.

جواب: د اخترونو لمونځونه واجب دي. که چا په جماعت سره ونکړل بيا يې قضا نشته ځکه جماعت ورته شرط دي خو په وترو کښې جماعت شرط نه دي او دوخت تحديد پکښې نشته.

(فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۱ ج۵ - ردالمحتار ص ۷۷۴ باب العيدين)

د اختر تر لمانځه وروسته دعا

زموږ د مشرانو لکه مولانا رشيداحمد گنگوهی ، مولانامحمد قاسم نانوتری ، مولوی محمديعقوب نانوتوی ، مولانا محمودالحسن (قدس الله اسرارهم) دا معمول وو چې د اختر تر لمانځه وروسته به يې هم لکه د نورو لمونځونوداسې لاسونه پورته کول (دعابه يې کوله . په حديثونو کښې هم تر لمانځه وروسته دعا کول ثابت دی چې د اخترنو لمونځونه هم پکښې شامل دي. زموږ په نزد راجح قول دا دي چې د اختر تر لمانځه وروسته دعا کول مستحب دي. او په نورو حديثونو کښې هم تر هر لمانځه وروسته د دعا کول ثابت دي او د اخترونو لمونځونه هم ورځخه مستثنی نه دي. (فتاوی دارالعلوم ص۸۸ او ۱۹ ج۵)

په حصن حصين کښې هغه احاديث چې د دعا په اړه دي راغلي دي او زموږ د مشرانو هم معمول وو چې د اختر تر لمانځه وروسته به يې دعا کوله. څوک چې يې بدعت گڼي هغه صحيح نه دی ځکه ترلمانځه وروسته ددعا

استحباب ثابت دی نو د اختر د لمانځه د بیلولو وجه نشته. په مکوة او حصن حصین کې مشهور احادیث راغلی دی. (فتاوی دار العلوم ص ۲۲۵ ج ۵)

یادونه: دلته به یوه خطبه رانقل کړو. دا یوه نمونه ده ضروري او لازمي نه ده خو چې څوک خطبه وایي په هغې کښې به د الله ﷻ حمد په رسول الله ﷺ درود ویل د صحابه، راشده خلفاؤ، اهل بیتو او نور یادونه باید وشي.

(محمد رفعت قاسمی)

د کوچنی اختر خطبه

الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد المنعم المحسن الديان ذی الفضل الجود والاحسان ذی الکرم والمغفرة والامتنان، الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد، ونشهد ان لا اله الاالله وحده لاشريک له ونشهد ان سيدنا ومولانا محمدا عبده ورسوله الذي ارسل حين شاع الکفر فی البلدان صلی الله عليه وعلي اله واصحابه مالمع القمران وتعاقب الملوان الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد، امابعد فاعلموا ان يومکم هذا يوم عيد لله عليکم فيه عوائد الاحسان. ورجآء نيل الدرجات والعفو والغفران، الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد وقال رسول الله صلی الله عليه وسلم ان لکل قوم عيدا وهذا عيدنا. الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد وقد قال رسول الله صلی الله عليه وسلم فاذاکان يوم عيدهم يعني يوم فطر هم باهی بهم ملئکته فقال ياملئکتي ماجزاء اجيروفي عمله قالوا ربناجزآئه ان يوفی اجره قال

ملئکتی عبیدي وامائی قضوا فریضتي علیهم ثم خرجوا یعجون الی الدعاء وعزتي وجلالي وکرمي وعلوي وارتفاع مکاني لاجیبنّهم فیقول ارجعوا قد غفرت لکم وبدلت سیآتکم حسنات قال فیرجعون مغفورا لهم. الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد . وهذالذی ذکر في ذلک الیوم کان فضله واما احکامه من صدقة الفطر والصلوة والخطبة قد کتبناها في الخطبة التي قبله نعم بقیت المسئلتان فنذکرهما الآن ، الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد الاول قال (۱) علیه الصلوة والسلام من صام رمضان ثم اتبعه ستاً من شوال کان کصیام الدهر الثانیة: کان النبی صلی الله علیه وسلم یکبر بین اضعاف الخطبة یکثر التکبیر فی خطبة العیدین ، الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد اعوذ بالله من الشیطن الرجیم قد (۲) افلح من تزکی وذکر اسم ربه فصلي ....

اخرج عبدبن حمیدوابن المنذرعن سعیدالخدری قدافلح من تزکی قال اعطی صدقة الفطر قبل ان یخرج الی العیدوذکراسم ربه فصلی قال خرج العیدفصلی کذافی الدرالمنثور قلت لوفی علی هذاذکراسم ربه بالتکبیرفی الطریق لم یبعد۱۲

مسلم ۱۲ - (۳) عین ابن ماجه ۱۲ ـ

په خطبه کښې دراغلو ايتونو او حديثونو ژباړه

لومړی حديث ((د رسول الله ﷺ ارشاد دي هر قوم يو اختر (عيد) لري دا زموږ اختر دي)) (متفق عليه)

دوهم حديث ((او رسول الله ﷺ فرمايي: کله چې د عيد الفطر ورځ وي الله ﷻ په فرشتو باندې فخر کوي او فرمايي: اى زما فرشتو ! د هغه شخص بدله څه وي چې خپل کاريې بشپړ کړی وي . ملائيکې عرض کوي . اى زموږ ربه ! د هغه بدله دا دي چې ثواب ورته بشپړ ورکړل شي. الله فرمايي: زمابندگانو (سړو او ښځو) زمافرض پوره کړي دي کوم چې ورباندې اينبودل شوي وو بيا راوتلي او زاري کوي. زما په عزت او جلال. زما په کرم او لوړ شان او د مرتبې په لوړوالي قسم دي چې زه د هغوی سوال ضرور منم بيا خپلو بندگانو ته فرمايي: مادرته مغفرته کړی دي او ستاسو بدي مې په نيکيو بدله کړې دي او هغوی به وګرځي داسې چې بخښل شوي وي)) (بيهقى فى شعب الايمان)

دريم حديث: ((رسول الله ﷺ ارشاد فرمايي: څوک چې د رمضان روژې ونيسي بيا وروسته د شوال شپږ ورځې روژه ونيسي داسې دي ګواکې تل (ټول کال) يې روژه نيولي ده . (مسلم)

ف : د دې وجه دا ده چې که ديوې نيکي په بدل کښې لس نيکئ وموندل شي نو رمضان د مياشتې ثواب لس مياشتې کيږي شپږ ورځې د شوال شپيته ورځې (دوه مياشتې) کيږي

څلورم حديث: ((رسول الله ﷺ به د اختر د لمانځه په خطبه کښې تکبيرونه ويرويل)) (عين ابن ماجه)

آیت شریف: ((بیشکه هغه څوک خلاص شو چاچې زکاة (د فطر صدقه) ورکړه او د الله نوم یاد کړي (تکبیر ووایي) بیا لمونځ وکړی (عبیدبن حمید او ابن المنذرله حضرت ابو سعید خدری (رض) څخه په روایت د زکاة مطلب د فطر صدقه ده او له لمانځه څخه یې مقصد د اختر لمونځ بللې دي (همداسې په الدرالمنثور کښې دي) خ. مؤلف رح وايي که له (ذکر سم ربه څخه مطلب په لاره د تکبیرونو ویل را اخلو هم بعید نه ده)

زیاتوالی: الف – اوانس ﷛ فرمایي: رسول الله ﷺ (مدینې منورې) ته تشریف راوړ، دمدینې خلګودوې ورځې درلودی (چې میلې ئې پکښې کولې) رسول الله ﷺ وفرمایل: دادوې ورځې څه شی دي ،هغوئ وویل: موږ به په دې دوو ورځوکې دجهالت په زمانه کې میلې کولې. رسو ل الله ﷺ وفرمایل: تاسوته الله ﷻ ددې دوو ورځوپه بدل کې غوره ورځې درکړې دی. دالاضحی داختر ورځ اودالفطر داختر ورځ. (ابوداؤد)

ب – اودرسو لله ﷺ ارشاددی: کله چې داخترورځ وی ،فرښتې دلاروپه دروازوکې کښینې ناري وهی چې ای دمسلمانانوډلې ! دکریم خدای ﷻ لورته ولاړ شئ له ښه والې سره احسان کوی اوبیاورباندی ثواب ورکوي (یعنی په خپل دعبادة توفیق ورکوي اوبیاپه خپله ثواب ورکوي) تاسوته دشپې دقیام حکم کوی اوتاسوقیام کوئ ،دروز ي رانیولوحکم کوی اوتاسو روزې رانیسئ اودخپل پرودګار اطاعت کوي نو تاسو انعام ترلاسه کړی .بیاچې لمونځ وشي منادی ناری وهی خبراوسئ ! ستاسورب درته برخه درکړه ولاړ شئ خپلوکورنوته کامیاب لاړشئ .نودایوم الجائزة ده اوپه اسمان کې ددې ورځې نوم یوم الجائزة (اودانعام دورځې نوم اېښودل شوی دی) (عين جمع الفوائدعن الكبير)

دلوی اختر خطبه

الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد الحمدلله الذی جعل لکل امة منسکا لیذکروا اسم الله علي مارزقهم من بهيمة الانعام وعلم التوحيد وامر بالاسلام ، الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد . ونشهد ان لااله الاالله وحده لاشریک له ونشهد ان سيدناومولانا محمدا عبده ورسوله الذی هدانا الی دار السلام ، الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد صلي الله عليه وعلي اله واصحابه الذين قاموا باقامة الاحکام وبذلوا انفسهم واموالهم في سبيل الله فيالهم من کرام. وسلم تسليما کثيرا ، الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد . اما بعد فاعلموا ان يومکم هذا يوم عيد شرع لکم مافيه مع اعمال اخر قد سبقت في الخطبة قبل هذا العشر ذبح الاضحية بالاخلاص وصدق النية وبين نبيه وصفيه صلی الله عليه وسلم وجوبها وفضائلها ودون علماء امته من سننه فی کتب الفقه مسائلها الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد ، فقد قال عليه الصلوة والسلام ما عمل ابن آدم من عمل يوم النحر احب الي الله من اهراق الدم و انه ليأتی يوم القيمة بقرونها واشعارها واظلافها وان الدم ليقع من الله بمکان قبل ان يقع بالارض فطيبوا بها نفسا الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد . وقال اصحاب صلی الله عليه وسلم يارسول الله ماهذه الاضاحی قال سنة ابيکم ابراهيم عليه السلام قالوا فمالنافيها يارسول الله قال بکل شعرة حسنة قالوا فالصوف يارسول الله قال بکل شعرة من الصوف حسنة الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد . (۱)وقال عليه الصلوة والسلام من وجد سعة لان يضحی فلم يضح فلايحضر مصلانا الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد .(۲) وقال ابن عمر الاضاحی يومان بعد يوم الاضحي . (۳)وعن علی مثله وهذا بعض من الفضائل وتعلموامن العلماء المسائل اعوذبالله من الشيطن الرجيم لن ينال الله لحومها ولادماءها ولکن يناله التقوی منکم کذلک سخرهالکم لتکبروا الله علی ماهداکم وبشر المحسنين .

---

(۱) عين ترغيب عن الحاکم مرفوعامن التصحيح وموقوفاولعله اشبه وهومع ذالک مرفوع حکما۱۲

(۲) مالک۱۲

(۳) مالک۱۲

د لوی اختر په خطبه کښې د راغلو ایاتونو او حدیثونو ژباړه

لومړی حدیث ((د رسول الله ﷺ ارشاد دي. د لوي اختر د ورځې هيڅ عمل (دقرباني) د وينوتر بهولو محبوب نه دي . بېشکه وينه ځمکې ته ترر سېدلو وړاندې د الله ﷻ په دربار کښې منل کيږي. نو په همدې

(قرباني) خپل زړونه خوشحاله کړئ. (ترمذی ابن ماجه ،

دوهم حدیث: صحابه وو عرض وکړ: دا قرباني څه شي دي ؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: ستاسو د نیکه ، ابراهیم ؑ سنت ده. د الله څومره ستر رحمت دی چې هغه خپل زوی ذبح کاوو او موږ یو پسه یا یو بل څه ذبح کوو خو له دی سره ني هم موږ دهغه پیروان کړی یو. بیا صحابه وو وویل: موږ ته پکښې څه شي دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: د هر ویښته په بدله کښې یوه نېکي ده.، احمد او ابن ماجه ،

دریم حدیث ((او رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې وس لري

(دنصاب څښتن وي) بيا قرباني نه کوي . هغه دې زموږ عيدګاه ته نه راځي)) (عين الترغيب ....)

څلورم حدیث: ((ابن عمر رض وویل: قرباني د اختر تر لومړی ورځ دوه ورځې وروسته هم صحیح ده))

پنځم حدیث: او له علی رض هم دغسې روایت دي)) (مالک رح) آیة الله ﷻ فرمايي : ((الله ﷻ ته نه دهغې غوښه رسيږي او نه وينه بلکه هغه ته ستاسو تقوی رسيږي. همداسې يې څاروي ستاسو لپاره حلال کړل . له

همدې کبله تاسو الله ﷻ په لويي سره ياد کړئ ، هغه تاسو ته يي(د قرباني) توفيق درکړ (اى محمد ﷺ) نيکي کوونکو ته بنه زيرئ ورکړه))

زياتوالى: رسول الله ﷺ وويل اى فاطمې ! له خپلې قربانى سره ودريږه ورسره حاضره اوسه ځکه ددې بدل تاته داده چې دوينې اول څاڅکې لويږي تاته تيرې ګناوې بخښل کيږي فاطمې رضى الله عنهاعرض وکړيارسول الله ايادا خبره خاص زموږ داهل بيتولپاره ده او که موږ اوټولو مسلمانانو ته ؟ (عن البزاروابى الشيخ)

ف : که هلته کوم غير محرم نه وو . مېرمن دې له خپلې قربانى سره ودريږي او دا مستحب ده خو که غيرمحرم وو بيا پرده ضرور ده.

ب: اودرسول الله ﷺ ارشادى: څوک چې قربانى کوى دزړه په خوشحالى دثواب په نيت همدا قربانى ئى ددزخ له اوره دساتلو ضمانت کوى.

(عين الترغيب عن كبير الطبراني)

دوهمه خطبه

الحمد الله نحمده ونستعينه ونستغفره ونؤمن به ونتوكل عليه . ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنامن يهده الله فلامضل له ومن يضلله فلاهادي له . ونشهد ان لا الاالله وحده لاشريک له . ونشهد ان محمدا عبده ورسوله. اعوذبالله من الشيطن الرجيم ط ان الله وملئكته يصلون علي النبي يآيهاالذين آمنوا صلواعليه وسلموا تسليمااللهم صل على محمدوعل آل محمد بعدد من صلىٰ وصام. وصل علي محمد وعلي آل محمد بعدد من قعد وقام . وصلي الله عليه وعلي جميع الانبياء والمرسلين والملئكة المقربين والخلفاء الراشدين خصوصا علي خير

البشر بعد الانبياء بالتحقيق. امير المؤمنين ابي بكر الصديق رضى الله تعالي عنه. وعلي مزين المنبر والمحراب. امير المؤمنين عمر بن الخطاب رضى الله تعالي عنه. وعلي كامل الحياء والايمان امير المؤمنين عثمان بن عفان رضى الله تعالي عنه. وعلي مظهر العجائب والغرائب امير المؤمنين علي بن ابي طالب كرم الله وجهه. وعلي الامامين الهمامين السعيدين الشهيدين ابى محمد. الحسن وابى عبدالله الحسين رضى الله تعالى عنهماوعلي عميه المكرمين بين الناس ابى عمارة الحمزة وابي الفضل العباس رضى الله تعالى عنهما وعلى الستة الباقية من العشرة المبشرة وسائر المهاجرين والانصار. والتابعين الابرار الاخيار الي يوم القرار رضوان الله تعالي عليهم اجمعين. اللهم اغفرلي ولوالدي ولجميع المؤمنين والمؤمنات والمسلمين والمسلمات. انک سميع مجيب الدعوات. اللهم ايدالمسلمين بالامام العادل والخير الطاعات. واتباع سنن سيدالموجودات. اللهم انصر من نصر دين محمد صلي الله عليه وسلم واجعلنا منهم. واخذل من خذل دين محمد صلي الله عليه وسلم، ولاتجعلنامنهم. عبادلله رحمكم الله. ان الله يأمر كم بالعدل والاحسان وايتاء ذي القربى وينهى عن الفحشاء والمنكر والبغي يعظكم لعلكم تذكرون ط اذكرو الله يذكركم وادعوه يستجب لكم ولذكر الله تعالى اعلي واولي واعز واجل واتم واهم واكبر ط

تر خطبې وروسته دعا کول ثابت نه دي

داختر تر لمانځه وروسته دنور لمونځونو په څېر دعا کول مستحب دي خو تر خطبه وروسته دعا باید پرینبودله شي. یوازې تر لمانځه وروسته دعا وشي چې هغه ثابته ده. (فتاوی دارالعلوم ص ۲۲۱، ۲۱۹، ۱۲۵او۲۱۳ ج ۵ او عزیز الفتاوی ص ۴۹ ج ۲)

داخترترلمانځه وروسته ددعامستحب والی ثابت دی خوترخطبه وروسته ثابت نه دی نومعلومه ده چې درسول الله ﷺ متابعت داخترلمانځه وروسته په دعاکولوکې ده اوترخطبه وروسته دسنت اتباع په دعانه کولوکې ده نودداسی مستحب امورو ترک کول دملامتی وړنه دی (عزیزالفتاوی ۴۹-۳)

یعنی داخترلمانځه وروسته که څوک دعاونکړی نودملامتی وړنه دی خوترخطبه وروسته دی دعانه کوی.

داختر تر لمانځه وروسته لاس یا غیږ ورکول

پوښتنه:۱-د اختر تر لمانځه وروسته مصافحه کول(د پوښتنې لپاره لاس ورکول) جائزده که ناجائز ؟ که ناروا وي نو عام خلک ورځخه منع کول ضرور دي کنه ؟

۲-دا ممانعت څرنګه ده او په کومه درجه کې ده.

۳-دا ممانعت له لمانځه سره متصل وي او که ټوله ورځ.

۴.ایا معانقه (یو بل ته غیږ ورکول) په دې کښې شامل نه دي ؟.

جواب ۱-دا طریقه غوره کول بدعت دي.

۲-دا ممانعت له لمانځه سره متصل دي ځکه دا فعل له شارع ﷺ څخه ثابت نه دي.

۳-معانقه هم په دې کښې شامل ده. تر لمانځه وروسته سمدستي معانقه صحیح نه ده د اختر په ورځو کښې مصافحه او معانقه (لاس او غیږ

ورکول) صحیح دي. بدعت یا ګناه د هیڅ مصلحت په بنا جائز نه دي. د نورو منع کول هغه وخت ضروردي چې د منلو هیله یي وي. کنه نهي عن المنکر ضرور نه ده. لنډه دا چې په خپله دې تر لمانځه وروسته سمدستي له چا سره مصافحه او معانقه نکوي. خو که چا تر لمانځه وروسته ملاقات درلود هغه ته صحیح ده اما له بدعت سره د مشابهت له امله ځان ساتل ورځخه غوره دي. (احسن الفتاوی ص۳۵۴ج۲)

کلي قاعده دا ده، دعباداتو په هکله چې کوم کیفیت له رسول الله ﷺ څخه روایت شوي دي په هغه کښې تغیر او تبدل روانه دي. مصافحه (په لاس پوښتنه کول) سنت ده خو له دې قاعدې سره سم باید د هغې په منقول ځرنګوالي کښې تغیر رانشي. شارع ﷺ به یوازې د ملاقات او کتنې په لومړي وخت کښې مصافحه کوله او دا اتفاقي خبره ده. او درخصت په وخت کښې مصافحه کول یي اختلافي خبره ده که له دې دوو ځایونو پرته بل ځای کیږي، په عبادت کښې تغیر راوستل دي او دا ممنوع دي. نو ځکه هم د اخترونو تر لمانځه یا پنځه وخته لمونځونو وروسته مکروه او بدعت ده.

(شامی ص۳۳۶ج۵ په باب الاستبراء کی داتصریح موجود ده امدادالفتاوی ص۷۰۸ ج۱)

د اختر په ورځ د خوشحالۍ ځرګندول

ام المؤمنین عایشه (رض) فرمایي: د لوي اختر په ورځ ابوبکر (رض) راغی، د انصارو دوونجونو هغه شعرونه ویل چې د بعاث د جګړې په هکله وو رسول الله (ص) ځېره پټه کړې وه، ابوبکر (رض) هغه نجونې منع کولې. رسول الله ﷺ خپله ځېره لوڅه کړه ابوبکر (رض) ته یي وویل: ابوبکر: هغوی پرېږده ځکه اختر ده او اختر د خوشحالۍ ورځ ده. (بخاری، مسلم)

د دف (ډول) دوهلو مسئله

د ډول په هکله د علماؤو دوه قوله دي: یو دا چې ډول وهل مطلقا مباح دی. یعنې هر څوک یې هر وخت وهلای شي. دوهم قول دا دي چې مطلقا حرام دي. په دې هکله صحیح مسئله دا ده چې ځینې ځایونه لکه نکاح، ولیمه یانور داسې مراسموکښې چې په همدې حکم کښې وي یا د اختر په ورځو کښې د ډول وهل مباح دي. په ډول کښې هم علماؤو فرق کړی دي که ډول ورسره جامن (ږوږغې) درلودل مکروه ده او که یې هغه نه درلودل مکروه نه دي . بیا هم په بې جامن ډول کښې اختلاف دي. په هر حال نجونو چې کوم اشعار ویل هغه د فواحشو ، ښکلا او مینې اشعار نه وو چې ویل یې معیوب او ممنوع دي. هغه د جنګ د کار نامووو او داسې اشعار د زړورتیا داستانونه لري چې هغه د دین په خپرولو کښې مرسته کولای شي . کنه د نجونو څه وس رو چې د عایشې (رض) کره یې د رسول الله ﷺ په حضور کښې ویل هغه بد او معیوب اشعار نه وو ... د هغو نجونو کسب او شغل هم ساز او اواز نه وو چې ورڅخه فتنه او فساد پیداکېده بلکې دا هغه اشعار وو چې ځینې شریف خلک یې په خپلو کورونو کښې وایې او پاک خیالات پکښې ځاي شوي وی. لنډه خبره دا ده هغه شعرویل او غناء چې اواز ویونکي یې د فن او کسب په توګه غوره کوي یوازې د خلکو طبیعتونه خوشحا له کوي یوازې محرمات پکښې وایې دا حرام دي. هغه چې سپیځلي مضامین ولري. د محرماتو ذکر پکښې نه وي. زړونو ته روحاني استنباط ورکوي حمد ، نعت یا د نورو سپیځلو شیانو یادونه وي .داسې اشعار په ترنم جائز دي بلکه تریوه حده مستحب دي څکه د نیکیو لپاره د خوشحالي سبب جوړیږي. (مظاهر حق ص۲۸۳ ج۲)

(خلاصه خبره دا ده چې له دې حديث شريف څخه دا ښکاره کيږي چې دا
اختر په ورځ داسې خوشحالي ښکاره کول مباح دي کومه چې د شريعت د
حدودو په چوکاټ کښې وي. هغه که اشعار ويل وي که بل د ول خوشحالي
وي چې له نورو قومونو سره مشابهت نه وي. مباح ده (معمدرنعت)

اختر دې مبارک شه ويل

پوښتنه: نن سبا د اختر په ورځ په څانګړې توګه د اختر تر لمانځه وروسته
يو بل ته اختر مبارکي ويل رواج دي. په شريعت کښې دا څه اصل لري څه
بد والي خو پکښې نشته ؟

جواب: په شريعت کښې د دې هيڅ ثبوت نشته. که عوام په دې کار التزام
کوي نو مکروه ده. او که يې ثواب وګڼي نو په شريعت کښې زياتوالي او د
بدعت له امله پکښې سخته ګناه ده. فقها ؤو د اختر د ورځې سنت او
مستحبات په تفصيل سره بيان کړي دي. که (اختر مبارکي) ويل مستحب
وای حتما به يې يادونه شوې وه. که دا عمل مستحب وای علماؤو او
نورو نيکانو به ورباندې عمل کړې وو خو هغسې نده يوازې په عوامو
کښې دا رواج دي. که يې رښتيا هم په حديث شريف کښې استحباب
ثبوت شي نو د برکت دعا مستحب ده او د ځانګړو الفاظو التزام بدعت دي
. مثلا د پوښتنې په وخت کښې مختلف الفاظ لکه (سلامت اوسې) د الله
ج دې درڅخه راضي شي) يا نور او د دعاء الفاظ وايي. مثلا الله ج دې په
اختر کښې برکتونه واچوي. الله ج دې مبارک کړي الله ج دې برکت ورکړي
. په دې کښې څه بدي نشته. په هره موقع (اختر دې مبارک شه) ويل
دا نبيې چې دا الفاظ مقصود بلل کيږي. دا په دين کښې زياتوالي دي ځکه
مکروه ده. (احسن الفتاوی ص ۳۸۴ ج ۱)

په اختر کې مبارکي ورکول (اختر دې مبارک شه ويل) جائزدي خو همېشه دا لفظ بايد استعمال نشي تر څوېې عوام سنت يا ضروري ونه ګڼي محمدرفعت قاسمي) په اختر کښې د خوشحالي څرګندول او د هر خيرات کول هم مستحب دي. مبارکي ويل هم مستحب دي. داسې چې الله دې زموږ او ستاسو اخترونه قبول کړي . له داسې مبارکي ويلو څخه انکار کېدلای نشي. څکه د ((حليه)) ليکوال په صحيح اسناد و داسې کولو او ويلو د ډېرو صحابه وو اثار رانقل کړي خو په (محيط) نومي کتاب کښې راځي د اختر تر لمانځه وروسته په هر حال مصافحه کول مکروه دي. څکه له صحابه کرامو څخه دا څه ثابت نه دي. دا د روافضو طريقه ده. د اختر تر لمانځه وروسته چې په هندوستان کې معانقه کول رواج دي هغه هم په اصل کښې مکروه ده. (درمختار ص ۷۸۸ ج ۱)

داخترپه ورځ يوبل ته مبارکی ورکول جائزدی - تقبل لله مناومنکم ،ياستاسودی اخترمبارک وی يانورداسی الفاظ ويل

(درمختار مع الشامی ۷۷۷ج ۱ .فتاوی رحيميه ص ۱۸۱ ج ۱)

قربانی پر چا واجب ده ؟

قرباني په هغه مسلمان واجب ده چې عاقل ، بالغ او مقيم وي. په شتمني کښې او ه نيم تولې سره زر يا دوه پنځوس نيم تولې سپين زر يا د هغوی بيه ولري. دا شيان تر ضروري اړتيا زيات وي. دغه شتمني که سره يا سپين زر يا د تجارت مال يا د کور زيات سامان ، تر خپلې هستوګنې زيات کورونه او يا نور جايداد وي. د قرباني لپاره په دې شتمني د کال تېرېدل هم شرط نه دي . او نه يې تجارتي شرط پکښې شته. که څوک د قرباني په درېو ورځو کښې د مال خاوند شو هم ورباندې واجب ده که د ماشوم يا لېوني

دومره شتمني وه چې د قرباني د وجوب حال ته رسېدله بیا هم نه په دوی واجب ده او نه یې په ولي. که څوک په شرعي قاعده برابر مسافر وو یعنې د قرباني په ورځو کښې د دریو ورځو په واټن یا زیات له کور څخه لرې وي قرباني وربانديې نشته. که د قرباني په ورځو (لسمه، یوولسمه یا دوولسمه نېټه) کښې تر لمر لوېدلو وړاندې کورته راغي او دنصاب مالک وو قرباني پرې واجب ده او که د نصاب څښتن نه وو شرعا وربانديې قرباني واجب نه ده. خو که یې د قرباني په ورځو کښې د قرباني په نیت کوم څاروي اخیستي وو: د هغه څاروي قرباني وربانديې واجب ده څکه که بې وسه شخص د قرباني په نیت کوم څاروی واخلي هغه وربانديې نذر دي او پوره کول یې واجب دي. اصلي ضرورت هغه شیان دي چې له ځان یا عزت سره تړلي دي. هغه څه چې که پوره نه رو ځان یا عزت ته یې زیان رسیږي لکه خوړل څښل جامې اغوستل، د هستوګنې ځای او د کسب د څښتن د هغه کسب وسائل. نور ستر ستر دېګونه. ستر فرشونه. رېډیو، ټایپ، ټیلی وېژن، وی سی آر او نور اسباب په اصلي ضروریاتو کښې داخل نه دي. نو که یې قیمت نصاب ته ورسیږي قرباني وربانديې واجب ده. لکه څرنګه چې په سړیو قرباني واجب ده هغسې په مېرمنو هم واجب ده. په دې شرط چې و رسره شخصي ګېنه وي یا دومره مال او جایداد ولري چې د نصاب برابر وي قرباني د ځان له لوري واجب ده. د اولاد یا بل عزیز له لوري واجب نه ده که د چا لس اولاده وي. ټول یو ځای اوسي د پلار په ژوند یوازې په پلار قرباني واجب ده یوازې پلار دې په خپل نوم کو ي. که مېرمن او د مېرمنې قرباني د مېړه لپاره کافي نه ده. د هریوه لپاره بېله بېله قرباني لازمه ده. څینې خلک داسې کوي چې یو کال یې په خپل نوم او بل کال یې د مېرمنې په نوم کوي داسې جائز نه دي. که د نصاب څښتن وي له خپله لوري دې قرباني وکړي که یې د بل چا په نوم وکړي د ده په ذمه

واجب پاته دي. که پلار وفات شي د هر يوه برخه يي نصاب پوره کولای شواى. په بالغ زوى ځانته قرباني واجب ده . که کوم يوه د نورو ورونو له لوري وکړه په هغوى پاته ده. که په مور يا پلار قرباني واجب وه خو ويي نکړه. وصيت کول يي ضروري دي. که يي وصيت وکړ وفات شو. د هغه مال څخه يي قرباني کول واجب ده . که يي وصيت ونکړ ، د هغه له لوري قرباني واجب نه ده. که چا د هغه له لوري قرباني وکړه هغه نفل ده. واجب يي نه اداکيږي خو د نفل ثواب ورته ور سيږي. (تاريخ قرباني ص له ۴۰ تر ۴۲-)

د مشترک مال حکم

که د څلورو ورونو شتمني مشترکه وه. د هر يوه برخه له نورو سره برابره وه . په هغه باندې قرباني واجب ده چې اصل حاجات يي پوره وي. د نصاب مال يي موجود وي. نو که د هر يوه برخه تر قرض پوره کولو وروسته د نصاب اندازه وه په بالغانو قرباني لازمه ده. په کومو چې لازمه ده هغوى به هر يو يايوه وزه ، يو مږ يا په غوا ، ګاومېښه او اوښه کښې اوومه برخه قرباني کوى. په مشترک مال کښې پسه قرباني کول کافي نه ده. که دوه کسان د قرباني په نيت واجب يانفل يو پسه ذبح کړي جائز نه دي. قرباني يي نه کيږي ځکه پسه او وزه يوه برخه ده اولاد يا مېرمن که په خپله د نصاب خاوندان وي ورباندې قرباني واجب ده که د نصاب خاوندان نه وي د هغوى قرباني په مېړه يا پلار واجب نه ده. (کفايت المفتي ص ۱۷۶ ج ۸)

په يوه شخص قرباني واجب دي

په يوه شخص يوه قرباني واجب ده. که هر څومره شتمن وي که هر څومره ډېر والي د نصاب خاوند وي بيا هم يوه قرباني لازمه ده.

پور اخستل او قرباني کول

قرض اخستل او قربانی کول بنه نه دي خکه واجب نه ده (کفایت المفتی۹۷مخ)

مسئله: که تر ضرورت زیات شیان خرڅ کړي بیا واجب دي. او کنه نه ده.
(امدادالفتاوی ص ۵۵۲ ج ۲)

مسئله: قرضدار خلک دي قرباني نه کوي خو که يي وکړي صحیح کيږي.

(کفایت المفتی ص ۲۰۷ ج ۸)

ځینې خلک داسې پوهـ شوي چې په قرض اخیستلوقرباني جائز نه ده،اوثواب نه لري داغلطه ده ثواب ضرورلري ،دابیله خبره ده چې پوراخیستل اوقرباني کول غوره نه دي ترڅوچې کیدلای شي له قرض ځخه دې ځان وساتي. (محمدرفعت قاسمی)

مسئله: څوک چې قرضدار وي ، هغه دې د قرض فکر کوي قربانې دې نه کوي خو که قربانې وکړي ثواب لري. (امدادالمفتین ص ۹۶۱ ج ۲)

مسئله: طالب العلم ته تر نفل قربانې د کتابونو اخستل غوره دي
(فتاوی محمودیه ص ۳۳۴ ج ۴)

د وفات شوي شخص له لوري قرباني کول

((وعن حنش قال رئيت عليا يضحى بكبشين فقلت له ماهذا ؟ فقال ان رسول الله ﷺ اوصاني ان اضحى عنه فانا اضحى عنه)) حنش (رض) وایي: ماعلی(رض) ولید چې دوه پسونه يي قرباني کړل. ما عرض وکړ دا څه دي (یعنې دا چې د یوه پسه په ځای دوه قربانې کوې) هغه وفرمایل . ماته

رسول الله ﷺ وصیت کړې وو چې (د هغه تر وفات وروسته) د هغه له لوري قرباني کوم نو یوه قرباني مې د هغه ﷺ له لوري وکړه. (ابوداؤد، ترمذی)

تشریح: علی (رض) یوه قربانی د ځان له لوري وکړه او یوه د رسول الله ﷺ په ځای. داسې ښکاره کیږي ګواکې علی (رض) هر کال د رسول الله ﷺ له لوري قربانی کوله. (مظاهر حق ص ۲۰۲ ج ۲)

د مړه شوي شخص له لوري د قربانۍ کولو مطلب

پوښتنه: د مړه شوي شخص له لوري د قربانۍ مطلب څه دي؟ داسې ده چې له خپله لوري یوه برخه قربانی وکړي او ثواب یې ورته وبخښي او داسې لکه د نورو ژوندو په څېر د هغه په نوم بېله قربانی وشي؟ جواب: دواړه ډوله صحیح دي. (امداد الفتاوی ص ۵۳۳ ج ۲)

مسئله: د وفات شوي شخص له لوري قربانۍ کول جائزدي او مړه شوي شخص ته یې ثواب رسیږي. (کفایت المفتی ص ۲۰۴ ج ۸)

څوتنو ته ثواب رسیږي؟

داچې د بل چاله لوري قربانۍ تبرعا کوي او دي د قربانی د مال مالک دي او بل ته یوازې ثواب رسیږي داسې یوه برخه هم کیږي. لکه په مسلم شریف کښې شته چې تاسویوه برخه قربانۍ وکړی او ډېروته یې ثواب وبخښئ او داصحیح دي. (امدادالفتاوی ۵۷۳ج۳)

د ثواب د بخښلو لپاره ضروري نه ده چې په لوي څاروي کښې به اوه کسه ګډوي یعنې اووتنو ته به ثواب بخښل کیږي څومره کسان چې غواړي هغومره صحیح دي. اوه کسه د قربانۍ لپاره شرط دي (کفایت المفتی ص ۲۰۶ ج ۸)

يادونه : كه څوک تبرعا له خپل لوري بل ته د ثواب بخښلو قرباني كوي. هغه صورت ورځخه بېل دي چې مړه شوي شخص له خپل مال څخه د قرباني كولو وصيت كړې وي په هغه صورت كې يوه برخه د يوه شخص ده.

(محمدرفعت قاسمي)

د يوه شخص لپاره صدقه غوره ده كه قرباني

مسئله : د قرباني په ورځو كښې مړي ته د ثواب رسېدلو لپاره د پيسو يانورو شيانو تر صدقه قرباني غوره ده. ځكه په قرباني كښې مال وركول او قرباني كول دواړه دي او په صدقه كښې يوازې د مال ادا كول دي.

(فتاوى رحيميه ص ۸۷ ج ۲)

كه دنصاب خاوند دمړه شوي له لوري قرباني وكړي

پوښتنه : يو سړى د نصاب څښتن دي. خاروى يې واخيست د مړه شوي شخص په نوم يې قرباني وكړه ايا د ده له غاړې واجب واوښتل ؟

جواب : كه په ده قرباني واجب وه او ده دمړه شوي شخص په نوم قرباني وكړه هغه د ده قرباني ده او مړه شوي كس ته يې ثواب نه رسيږي. خو كه په ده باندې قرباني واجب نه وه يا يې مړه شوي ته بېله قرباني وكړه بيا د مړه شوي له لوري قرباني صحيح ده يعنې مړي ته يې ثواب رسيږي.

(كفايت المفتي ص ۲۰۵ ج ۸)

که په غلطۍ سره يو د بل قرباني ذبح کړي .

که دوو کسانو دوه پسونه د قرباني په نيت واخيستل سره غلط شول د يوه پسه بل ذبح کړ او دبل دا بل . د دواړو قرباني صحيح ده په کوم يوه بدله نشته.

مسئله : که چا د بل وزه په زور يا غلا بوتله او قرباني يي کړه. قرباني يي صحيح ده خو مالک ته يي د قيمت ورکول واجب دي..

مسئله : د امانت او بضاعت (که چاته د تجارت لپاره پيسې ورکړي او د دد پکښې حصه وه په هغه رقم قرباني جائزه نه ده) په شريک مال چې د ساتلو لپاره يي چاته ورکړې وي. عاريت يعنې د پور په مال د مېرمنې څاروي د مېړه لپاره او د مېړه څاروی د مېرمنې لپاره . د ګروي (رهن) څاروي قرباني کول جواز نلري ځکه د بل چا ملکيت دي. (خلاصة المسائل ص ۱۱۷)

په قربانی کښې د شرکت طريقه

د قربانۍ څاروی که په خوا د قربانۍ لپاره غوره شوی وي او که د قربانۍ په ورځو کښې واخيستل شي دواړه جائز دي. خو که يي څوک د قربانۍ لپاره غوره کړي يايي د قربانۍ په نوم واخلي نو د نصاب څښتن نه وي. د هغه څاروي قرباني کول ورباندې واجب دي. که د نصاب خاوند وي او کوم څاروی واخلي د قربانۍ په نوم يي نذر کړي په هغه د دې څاروی حلالول واجب دي او دا چې د نصاب څښتن دي بله قرباني هم ورباندې واجب ده. خو که يي د نذر په توګه نه وو ټاکلی بيا هم دا يوه قرباني پرې واجب ده او تعين کول يي هم لازم نه دي. (کفايت المفتی ص ۱۹۵ ج ۸)

مسئله: که چا د قرباني لپاره یو لوی څاروی واخیست او هغه مهال یې د نیت وکړچې که بل څوک ګډېده شریک کوم یې. بیا څوک ورشریک شو دا صحیح دي. که یې د اخستلو په وخت دا نیت نه وو کړې او په دې نیت یې اخیستي وو چې یوازې یې قربانې کوم. بیاکه څوک ورشریک شول غوره خبره خو نده خوکه ورسره شریک شي ودې ګوري که د نصاب څښتن وو شراکت یې سم دي او که بې شتو او د نصاب څښتن نه وو نوسم نه دی یعنی غریب شخص ته داسمه نه ده چې په اخیستل شوی څاروی کې نورخلک ورسره شریک کړی ،خوکه څوک شریک کړی دهغه قربانی کیږي ددې شراکت له امله شرکاؤته زیان نه رسیږي ،خوپرغریب شخص دالازمیږي چې څوبرخې ئی نوروخلکوته ورکړی دی هغه مبلغ اداکړی طریقه ئی داده چې که دقربانی ورځې وی هغومره برخې دی قربانی کړی اوکه ورځې ختمې وی بیادی دهغوبرخوبیه په مسکینانوو ویشي. (بهشتی زیور سره له حاشیې ۲۹مخ ۳جلد)

(څکه چې د نصاب څښتن نه وي قرباني ور باندې واجب نه ده نو که کوم څاروی واخلي نو هغه نیت به پوره کوي هغه ورباندې نذر دي او پوره کول یې ضروري دي (رفعت قاسمی مدرس دارالعلوم دیوبند)

د شرکت غوره طریقه

د لوی څاروی تر اخستلو وړاندی که شریکان وموندل شي دا د احتیاط طریقه ده او افضله ده او که یې څوک واخلي او نیت یې داوي چې یوه یا دوه یادرې برخې بې به بل نیت واخلي او بیا نور خلک را شریک کوم دا صورت هم صحیح دي. خو که خوراجح لوری یې جواز دي. (کفایت المفتی ص۱۸۸ ج ۸) نور خلک شریک کړي په جواز کښې یې اختلاف دي

له شرکت څخه د بېلېدلو حکم

پوښتنه : که څوک په قربانۍ کښې شريک شو بيا تر قربانۍ يوه ورځ وړاندې خپله برخه پرېږدي. قربانۍ ورباندې واجب يا سنت ده که څرنګه ؟

جواب : که په قربانۍ کښې داسې څوک شريک وو چې قرباني ورباندې کېدله. که هغه خپله برخه پرېږدي او په ځای يې بل څوک شريک شي. دا قرباني صحيح ده . او که داسې څوک ورسره شريک وو چې قرباني ورباندې واجب نه وه که هغه خپله برخه پرېږدي قرباني ورباندې واجب ده او په دې څاروی کښې د نورو قرباني هم صحيح نه ده . (کفايت المفتی ص ۱۹۰ ج ۸)

د ګډون غلطه طريقه

په ستر څاروي کښې اوه کسان ګډون کولای شي. خو شرط دا دې چې د هر يوه حصه به سبع (اوومه) حصه وی تر هغه به کمه نه وي. دا چې ګډون کوونکي اوه تنه وي. يو کمې پيسې ورکړي يوه برې او غوښه هم د پيسو په اندازه وويشله شي نو د ځينو برخه تر اوومې حصې کميږي. دا صورت جواز نلري .(کفايت المفتی ص ۲۸۴ ج ۸)

ځکه هرشريک د خپلو روپو په اندازه غوښه وړی ده يعنې اووه برخې برابرې نه شوی نو جواز نه لری.(محمدرفعت قاسمی)

د وليمې او عقيقې ګډون

په لوی څاروي (غوايي ـ اوښ ـ) څوک د عقيقې په نيت ګډون کولای شي. شرط دا ده چې د ګډون کوونکو نيت به د قربانۍ يا عقيقې وي يعنې

په يوه څاروی کښې څينې د قرباني او څينې د عقيقې په نوم ګډون کولای شي. دوهم شرط دا دي چې د ګډون کوونکو برخه به تر اوومې کمه نه وي.

(كفايت المفتي ص ٢٤٢ ج ٨)

مسئله: که په چا قرباني واجب وي او څوک يي نفلي کوي دواړه په يوه لوی څاروي کښې سره ګډون کولای شي. (عزيز الفتاوی ص ٧١٨ ج ١)

مسئله: څينې د قرباني او څينې د وليمې لپاره په يوه څاروی کښې ګډون کولای شي. دا تپول صحيح دي. (شامی ص ٣٢٦ ج ٦)

تر حلالولو وروسته ګډون

پوښتنه: په يوه غوا کښې اوه برخې معلومې شوې او حلاله يي کړه. د غوښې تر وېش وروسته يو څوک راغی وايي يوه برخه ماته راکړئ. يوه سړي ورته خپله برخه ورکړه. وربانديې خرڅه يي کړه ايا دا سې صحيح ده ؟

جواب: د قرباني تر ذبح کولو وروسته په برخو کښې تغير او تبدل صحيح نه دي. قيمت بېرته ورکول کېدلاشي. (عزيز الفتاوی ص ٧١٩ ج ١)

د غوښې د خرڅولو په نيت ګډون

پوښتنه: په اوو کسانو يي يو څاروی واخيست. وروسته معلومه شوه چې يوه تن د غوښې د خرڅولو په نيت ګډون کړی دي څکه د هغه کار همدا دغوښو خرڅول دي. ايا دا برخه د نورو په قرباني اغېز لرلای شي ؟

ځواب : د ده برخه دې یو قرباني کوونکی واخلي بیا دې قرباني وکړي ، کنه د ټولو قرباني خرابه ده. د یوه هم نه صحیح کیږي (فتاوی محمودیه ص ۳۱۳ ج ۲)

مسئله : د مسنونه ولیمې په نیت (د قرباني په څاروکې برخه اخیستل د چا قرباني نه باطلوی همداسې د عقیقې په نیت برخه اخیستلو نه باطلیږي

فتاوی محمودیه ص ۳۱۳ ج ۲)

د ګډون د پیسو ویش

پوښتنه : اوه کسان په یوه څاروی کښې ګډ شو مثلا پخواني حساب يې په لس روپی واخیست. دا بیه په لسو تنو تقسیمول یو کسر دي او وېش يې مشکل دي څرنګه يې وویشي

ځواب : که کوم ګډون کوونکې د بل په ځای زیاتې پیسې ور کړي هم کوم مشکل نشته اوکه هر شریک پیسه پیسه ورکړی اوکومې پیسې چې زیاتې شې هغه دی د څاروی مالک ته ورکړی هم کومه ستونزه نشته عرض دادی چې په دې کې هیڅ د پوښتنې ځای نشته .(عزیز الفتاوی ص ۷۶۴ ج ۱)

د ټولې کورنۍ له لوري قربانۍ کول .

که په یوه کور کښې په ټولو باندې قرباني واجب وه. هر یو د نصاب څښتن وو یعنې قرباني د ټولو کافی نه ده. هر یو به قرباني کوي ، که پسه ورته په لوړه بیه تمامېده په یوه لوی څارو ی کښې دې شریک شي. که یې د لوی څاروی غوښه نه خوړله. داسې ځای ته دې واستوي چې هلته خوړه کیږي یا دې څاروي ژوندي ورواستوي او یا دې د قربانۍ بیه واستوي. بې وجې د غوښې خښول جائز نه دي ځکه د مال ضائع کېدل دي. (فتاوی رحیمیه ص ۱۶۴ ج ۶)

مهر او قرباني

که یوه مېرمن د نصاب مالکه نه وه خو په مېړه باندې مهر دومره پاته وو چې تر نصاب ډېر وو خو تر اوسه لاس ته ورغلې نه وو . نو په دې مهر شتمنه نه بلله کیږي او قرباني ورباندې نشته. (فتاوی هندیه ص ۲۹۳ ج ۵)

مسئله : د نصاب څښتن که زکات ور کړ او شتمني یې کمه شوه بیا هم ورباندې شته. (عالمگیری ۲۹۲ ج ۵)

د بل چاله لوري قرباني کول

که د چا واجب قرباني څوک د ده له اجازې پرته وکړي جواز نلري . خو د خپلو متعلقینو له لوري جائز ده - داسې چې دا یې عادت گرځېدلی وي او که دغسې کار عادت یې نه وو بیا هم جواز نلري. خو د ذبح کوونکي لپارد هغه قرباني صحیح ده . خو که څوک د بل چالپاره تبرعا تطوعا پرته له اجازې قرباني وکړي بالکل صحیح ده که یي د ده له لوري قرباني عادت وه او که نه وه. د داسې عادت اطلاع یې وه که نه وه. ځکه په تبرعا عن الغیر قرباني کښې ذابح (ذبح کوونکې) مالک دي. بل ته یوازې ثواب رسیږي قرباني د هغه په ملکیت کښې نه کوي. (امداد الفتاوی ص ۶۱۰ ج ۳)

که قرباني کوونکی وفات شو

که او وکسان سره گډ وو یو لوي څاروی یې د قربانۍ لپاره واخیست. تر قربانۍ وړاندې یو گډون کوونکې وفات شو . د متوفی وارثانو ورته اجازه وکړه چې د مړشوي او ستاسو د قرباني څاروی حلال کړئ. په دې صورت کښې د ټولو قرباني وشوه او د متوفی له اجازې پرته که قرباني وشي . د هم صحیح نه ده د یوه هم قرباني ونه شوه.

(خلاصة المسائل ۱۱۶)

مسئله: که دنصاب خښتن شخص دقرباني په ورځوکې وفات شو دقرباني وجوب ئې ساقطیږي . عالمگیری ص ۲۹۳ ج ۶)

(که مرحوم د خان د قرباني لپاره پسه یا وزه اخیستې وه تر مړینې وروسته یې ورته د هغه په ترکه کښې شامله کړه . ورثه یې حقدار دي که یې ورثه هغه د ثواب لپاره حلاله کړي سمه ده کنه واجب نه ده. محمدرفعت قاسمی

په قرباني کښې د ګډون مسئلې

مسئله: په نابالغ ، لېوني ، بې شتو او مسافر شخص قرباني واجب نه ده خو که غریب او مسافر له خپل لوري قرباني وکړي جائز ده او ثواب لري.

(عالمگیری ص ۷۷ ج ۴)

مسئله: که غریب اوبې شتو د قرباني په نیت څاروی واخیست د هغه څاروی قرباني وربانديې واجب ده . (شامی ص ۲۱۴ ج ۵)

مسئله: که چا نذر کښېښود هغه قرباني وربانديې واجب ده . که د نصاب څښتن وو او که نه وو . که شتمن سړي نذر ومانه په هغه دوې قربانۍ کیږي یوه دا نذر کړې او بله دا چې د نصاب څښتن دي ، عالمگیری ص ۷۶ ج ۴)

مسئله: که په کوم ځای کښې داسې رواج وو چې مېړه د خپلې مېرمنې یا پلار د خپل بالغ اولاد له لوري قرباني کوله . مېرمنې او اولاد ته هم دغه معلومات وو . نو د دې رواج له امله همدا قرباني صحیح دي او څرګندې اجازې ته اړتیا نشته . (شامی ص ۲۰۷ ج ۵)

(خو که داسې رواج او عادت نه وو بيا اجازه اخيستل ضرور دي له اجازې
پرته قرباني نه کيږي خو په نفلي قربانۍ کښې اجازې ته اړتيا نشته.
(محمد رفعت قاسمي غفرله)

مسئله : که په کوم بې شتو (غريب) شخص قرباني واجب نه وه خو په خپله
خوښه يې قرباني کوله که تر هغه وروسته د قربانۍ په ورځو کښې شتمن
شو بله قرباني وربانديې واجب ده.

مسئله : که په چا قرباني واجب وه. قرباني يې کړې نه وه او د قربانۍ وخت لا تېر
نه وو چې غريب شو يا مړشو. قرباني ورڅخه ساقطه شوه. **(مسائل قرباني ص ۴۰)**

مسئله : له سود خوړونکي سره دې په قربانۍ کښې څوک ګډون نکوي
(کفايت المفتي ص ۱۸۸ ج ۸)

که چا د ګډون ويلي وو او بيا يې انکار وکړ

مسئله : که چا وويل چې ماد قربانۍ په څاروی کښې ګډ کړئ. پيسې يې
ورنکړې. په قربانۍ کښې يې ګډ کړ. کله چې قرباني وشوه وروسته هغه
شخص له ګډون څخه انکار وکړ ويې ويل زه يکښې برخه نه اخلم. څوک به
داپيسې ورکوي او دا برخه د چا کيږي ؟

جواب : که يې د قيمت د اندازې اجازه ورکړې وه چې تر دومره بيې اجازه
ده که يې دا اجازه په الفاظو ويلې وه او که يې له حال څخه معلومېده چې تر
دومره بيسو پورې يې اجازه ده هغه برخه د ده ده. د انکار اختيار نلري او د
هغې برخې ورکول وربانديې واجب دي. **(فتاوى محموديه ص ۲۹۷ ج ۴)**

د حلالولو مقصد

مسئله: د څاروی په حلالولو کښې دوه وجه دي. يوه دا چې څاروی حلالول دې يعنې د هغه ځان قرباني کول دي. اوهم دا چې په حلالولو کښې مقصد غوښه ده. تر څو غوښه صدقه کړي ثواب تر لاسه کړي. په خپله يې مصرف کړي، مېلمه ته يې ورکړي يا يې په مېلمستيا کښې ورکول مقصد وي. د ثواب لپاره هم د څاروی په حلالولو کښې همدا دوې وجې دي. د دواړو حکمونه بېل دي. تفصيل يې دا دي: لومړی که يوازې حلالول يې د هغه ځان د قرباني کولو مو خه تقرب الی غير الله وي يعنې د کوم ولي او ستانه د نژدې والي لپاره يا د هغه د تعظيم او خوشحالی لپاره ذبح وشي دا حرامه ده. او حلاله هم د((وما احل لغير الله به)) په حکم کښې دا خله ده. حرامه ده. که هغه په کور کښې وي که په هديره کښې او که بل ځای دوهم شکل دادي چې په حلالولو کښې مقصد تقرب الی الله وي. يعنې حلالول يوازې د خدای ﷻ لپاره وي. د تعظيم او عبادت په نيت ذبح وشي. په دې کا ر ورته اجر او ثواب پيدا کيږي نورو ته دې وبښي. په دې صورت کښې کوم الزام نشته. دا فعل حلال او ذبيحه جائز ده په دې صورت کښې د ځای تخصيص نشته او نه دې څاروی هديرې ته بيول کيږي. دريم صورت دا دي چې په حلالو کښې مقصد يوازې غوښه و ي. په دې صورت کښې که څاروي په شرعي قاعده حلال شي حلال دي ثواب هغه وخت پکښې وي چې غوښه يې صدقه شي. په دې صورت کښې هم د ځای تخصيص نشته. دا چې هديرې ته بيول او هلته حلالول يا ضروري و ګڼل شي يا د ثواب د زياتوالي فکر وکړي دا ناجائز دي. غوښه صدقه کول يا پخول بيا د خيرات په توګه ورکول هر ځای کېدلای شي او ثواب ورته رسيږي. په هديره کښې حلالول، خوړل يا وېشل ...

دروغتيا په هيله قرباني کول

۱۔**پوښتنه**: که د صحت د غوښتلو په نيت څوک کوم څاروی حلال کړي او صدقه يې کړي. د څاروي داسې حلالول صحيح دي؟

۲۔ که څاروی په دې نيت حلال کړي چې د روح بدله روح شي. د څاروي روح لاړه شي او د انسان روح پاته شي يعنې الله د څاروی روح و منې او د مريض انسان روح پرېږدي. دا صحيح دي که نه؟

جواب:۱۔ژوندی څاروی صدقه کول خورا غوره دي. د ناروغ د روغتيا په غرض که يې يوازې د الله ﷻ لپاره ذبح کړي مباح دي. خو اصل مقصد پکښې صدقه وي نه دا چې د روح فديه په روح سره.

۲۔دا خيال او تصور اصل نلري. اباحت يوازې په دې اټکل دې چې د الله ﷻ لپاره (د څاروي) روح اوژوند قربان کړي او دا گمان وکړي چې مالي صدقه د الله ﷻ د رحمت غوښتل دي او الله ﷻ په خپل رحمت سره ناروغ ته شفاء ورکړي. (كفايت المفتى ص۲۵۵ ج۸)

مسئله: ځينې خلک په صدقه کې د روح بدله روح ضروري گڼي او وزه يا بل څاروي تولله شپه له ناروغ سره دروي. ځينې بيا د ناروغ لاس ورسره او دا اټکل کوي چې گويا مريض له څاروی سره لاس و لګاوو او ټولې ناروغۍ ورته نقل شوې او په خيرات کولو سره هغه ټولې ځي او د روح په بدل کې د روح ورکول د ناروغ روح ساتي. خو ياد ولرئ چې داسې عقيده لرل د شريعت خلاف دي

مسئله: دا عام رواج دي چې په ناروغې کښې اکثر وختونه وزه حلالوي خو د روح بدله په روح سره يعنې فديه حلالول له عقيقې پرته بل ځای ثابت نه دي. که داسې وي چې د روح ونه ګڼل شي بلکه مقصد پکښې صدقه وي. هغه ردبلا يعنې دپريشانيو ليرې کېدل په حديث شريف کښې راغلي دي. خو که دا ګمان وي نو د وزې د قيمت په صدقه کولو يا هغومره غوښه له بازار څخه راوړل ولې زړه نه مني. له دې څخه ښکاري چې په زړه کښې څه شي شته چې په ذبح کولو سره د ناروغې لرې کېدل ډېر مؤثر ګڼي. همدا ناولې عقيده په زړه کښې دې ته رسيږي چې د روح بدله روح وګڼي. ځينې په وبايانورو همداسې ناروغيو کښې د نذر وزه ذبح کوي. دا شرک ده يا د فديې په توګه وزه حلالوي دا محض دروغ او باطل دي. (اغلاط العوام ص ۲۳)

که د قرباني څاروی ورک يا مړ شي

که چا د قرباني له پاره څاروی واخيست، هغه ورک شو، غلا شو يا مړ شو په هغه واجب دي چې د هغه په ځای بل قرباني کړي. که د دوهم څاروی تر قرباني کولو وروسته لومړی وموندل شي غوره دا ده چې هغه هم قرباني کړي. که څوک غريب وو لومړی وربانديې قرباني واجب نه وه د نفلي قربانۍ لپاره يې څاروی ورک شو يا مړشو نو دا واجب ور څخه ساقط شو وربانديې بله قرباني واجب نه ده. خو که له ورک کېدلو څخه وروسته هغه دوهمه قرباني واخيستله او لومړی وموندله شوه وربانديې واجب ده چې دواړې قرباني وکړي. څکه بې شتوسړې که د قرباني په نوم کوم څاروی رانيسي هغه د نذر په حکم کښې دي.پوره کول يې واجب دي.

(تاريخ قرباني ص ۷ - کفايت المفتي ص ۲۰۳ ج ۸)

په بې وزله باندې دقربانۍ بار

که کله د قربانۍ ځاروي ورک شو او د قربانۍ لپاره یې دوهم ځاروي رانیو دوهم هم وموندل شو که دا پېښه د نصاب له صاحب سره وشوه نو دیوه ځاروي قرباني ورباندې لازمه ده او په بې شتو (غریب) شخص د دواړو ځاروو حلالول دي په غریب باندې دوهم بار د هغه د اخیستلو له امله ده. که دوهم ځاروی نه واخلي دوهم ورباندې واجب نه دي. خو د نصاب مالک که دوهم هم واخلي ورباندې یوه قرباني واجب ده . که شتمن هر څومره ځاروی واخلي ورباندې واجب یو دي او بې شتو که هر څومره واخلي ورباندې واجب دي چې ذبح یې کړي ځکه د غریب او بې شتو لپاره په اخستلو نذر کیږي او د نذر پوره کول واجب دي. (امداد الفتاوی ص ۵۶۶ ج ۴)

که پرچاقرباني واجب نه وه دنفلی قربانی لپاره ئي ځاروی واخیست نو دا قربانی ورباندې واجب شوه که دا ځاروی ومري یا ورک شی نو له زمې څخه ئي دا قرباني ساقطه شوه بله قربانی ورباندی لازمه نه ده خو که ئی له هغه مرکیدو یا ورکیدو وروسته بل ځاروی واخیست او پخوانی هم پیدا شو نو روباندی واجب ده چې دواړه به قربانی کوی ځکه مسکین سړی چې د نصاب مالک نه وی که د قربانی په نیت ځاروی واخلی هغه د نذر حکم لری او پوره کول ئی واجب دی .(معلم رفعت قاسمی)

د نصاب د ځبښتن لپاره حکم

که د نصاب ځبښتن کوم ځاروی چې قرباني کېدلاي شي د قرباني په نيت رانیو. د هغه په هکله دا واجب نه دي چې خامخا به هغه ځاروې ذبح کوي بل ذبح کولای شي خو پرته له ضرورته یې بدلول مکروه دی.غوره دا ده چې هغه حلال کړي. که ضرورت وو مثلا عیب یې درلود چې قربانې یې جائز

نه وه یا مړشو نو بدلول یې واجب دي (معیوب) اول څاروي کولای شي خرڅ یې کړي ، حلال یې کړي غوښه او پوست یې خرڅ کړي که یې عیب نه درلود . مړنه شو بلکه د قربانۍ تر ورځو وړاندې ناروغ شو مالک یې حق لري چې خرڅ یې کړي یا یې حلال کړي غوښه یې وخوري یا یې خرڅ کړي او بل څاروی قربانۍ کړي . په هندیه فتاوی کښې د دې عباراتو د هغه صورتونو حکم مراد دي چې څاروی یې د قربانۍ لپاره معلوم کړي وي ، معیوب نه وي ، هلاکت ته نژدې نه وی ، د تبدیلې د قربانۍ لپاره معلوم که کوم معقوله وجه نه وه نو په بل څاروي دې نه بدلوي. (کفایت المفتی ص ۱۹۷ ج ۸)

د بې شتو شخص مراعات

که د نصاب څښتن کوم څاروی واخیست بیا په هغه څاروي کښې عیب پیدا شو . هغه به بل اخلي او قربانۍ کوي به نې خو که داسې چا واخیست چې د نصاب څښتن نه وو او په هغه کښې عیب پیدا شو له عیب سره دې قربانۍ کړي بل ورباندې اخیستل لازم نه دي. (عزیز الفتاوی ص ۷۲۰ ج ۱)

د قربانۍ فریضه او د بیوزلو مرسته

مسئله:۱-د دې سیمې اکثر مسلمانان حنفی مذهبه دی.

۲-د احنافو په نزد د نصاب په څښتن قربانۍ کول واجب دي.

۳-واجب او فرض په عمل کښې یوډول لازم او ضروري دي. د واجبو تارک فاسق بلل کیږي او د فرضو تارک هم فاسق دي. دفرضو او واجبو فرق په عمل کښې نشته. فرق یې په علم او د اعتقاد په درجه کښې دي.

۴- په کوم شخص چې قرباني واجب وي . يوازې د قربانۍ په کولو د قربانۍ له مسئوليت څخه خلاصيږي . د قرباني د قيمت په ورکولو يې واجب له ذمې نه اوري. شرعي حکم دادي چې احناف د قرباني په وجوب قائل دي نو لازم دي چې که د قرباني شرائط پوره وو چې قرباني وکړي. د هغه په قيمت ورکولو يا د څاروی په ژوندي صدقه کولو يې غاړه نه خلاصيږي. له مصنيت څپلو سره مرسته د خير کارد ي خود د ي خير د کار د اداء کولو لپاره مطلب دا نه دی چې فرض يا واجب ورته پريږدي. هو اهل حديث يا نور خلک چې قرباني فرض او واجب نه ګڼي بلکه هغه سنت يا . مستحب بولي ، هغوی که د قرباني قيمت د مرستې لپاره ورکړي. احناف وربانديې اعتراض نکوي.

د مرستې طريقه

که په لاندې وړانديزونو عمل وشي په مليونو روپۍ مرسته کول مشکل نه دي

۱- په هر چا چې قرباني واجب ده او هغه د قربانۍ لپاره د خوړالوړيه څاروی د اخيستلو اراده لري. هغه دې د ټيټې بيې د قرباني څاروی واخلي کومې پيسې چې د بيې (قيمت) په فرق کښې زياتيږي هغه دې په مرسته کښې ورکړي. مثلا اراده ئې کړې وي چې د دوو زرو روپو څاروي قرباني کړي . د هغه په ځای دې د پنځه سوه روپو څاروي قرباني کړي او نورې پيسې دې له بېوزلو سره د مرستې لپاره ورکړي . دا ښکاره ده چې که څاروي د قربانۍ په نيت واخيستل شو ، هغه نه بدليږي خو تر اخستلو وړاندې په خپله اراده عمل کولای شي. تر اخيستلو وروسته د اخيستل شوي څاروي حلالول لازم دي.

۲- څوک چې د نصاب مالک وي او دوه درې قرباني کوي. داورته ورده چې یو څاروی قرباني کړي یا په ستر څاروی کښې یوه برخه قرباني کړي او د نورو څارو قیمت بې وزلو ته د مرستې لپاره ورکړي. خو دا کار دې د قربانۍ د څاروو تر اخیستلو وړاندې کوي.

۳- کوم کسان چې د والدېنو لپاره کوم چې وفات شوي وي قرباني کوي. دا قرباني نفلي قرباني ده که یې څاروي اخیستې نه وي قیمت دې د مرستې لپاره ورکړي.

۴-کوم کسان چې د نصاب مالکان نه وي او نفلي قرباني کوي ، هغوی که څاروي اخیستې نه وي قرباني دې نه کوي قیمت دې بې وزلو ته مرسته ورکړي.

۶- ټول مسلمانان دې د قربانۍ د څاروپوستکي (څرمنې) په اعانه

(مرسته) کښې ورکړي. (کفایت المفتی ص ۲۱۶ ج ۸)

که چا د قرباني قیمت په صدقه او مرسته کښې ورکړ ، واجب قرباني یې نه اداء کیږي که همداسې څوک وکړي گناهگار دي. (امداد الفتاوی ص ۵۵۵ ج ۳)

د نفلي قربانۍ قیمت دې هغه مصیبت ځپلي مسلمانانو په مرسته کښې ورکړي کوم چې د مسلمانانو د دین عزت د ساتلو لپاره خپل ځان قرباني کوي. بلکه بهتره او غوره خبره دا ده چې د نفلي قرباني قیمت په اعانه او مرسته کښې ولگوي. ځینې بې خبره دوستان اعتراض کوي چې کومې پیسې په قرباني لگیږي هغه دې په بې وزلو او غریبو خلکو وویشي. بیشکه دا د قوم د همدردۍ ښه جذبه ده خو د هر کار لپاره ولې د اسلام په غاړه چاره ږدي ؟ یو څه خو دې خپلې نفسي غوښتنې هم مهار او قابو کړي . غیر شرعی اخراجات دې کم کړي د هغه نیمه سپمادي د خیر په کارونو

ولګوي. سینما ته تلل. وی، سي آر او تلویزیون کتل تر ضرورت زیاد د خوړلو څښلو مصارف او نور هغه څه دي چې په کنترول یې ډېره سپما کیږي. (محمد رفعت قاسمی)

په قرباني کښې څو مسئلې

مسئله: که ژوندی سړی د نصاب مالک وي قرباني وربانديې واجب ده. د مړه شویو له لوري قرباني کول سنت دي او کوونکي ته یې هم ثواب رسیږي. (عزیز الفتاوی ص ۲۰۰ ج ۲)

مسئله: په چا چې د فطر صدقه واجب ده. د لوي اختر په ورځو کښې په هغه قرباني کول هم واجب ده. که دومره مال ورسره نه وي چې د فطر صدقه وربانديې واجب شي په هغه قرباني نشته خو که یې بیا هم وکوي زیات ثواب لري. (درمختار ص ۲۲۱ ج ۲)

مسئله: پرچاچې دفطرصدقه واجب ده پرهغوئ داخترپه ورځوکې قرباني واجب ده که دومره مال ورسره نه ووچې وفطرصدقه وربانديې واجبیږي بیاوربانديې قرباني نشته خوبیاهم که قرباني وکړي لوی ثواب لري (درمختار ص ۲۲۱ ج ۲)

مسئله: پرمسافربانديې قرباني واجب نده. (هدایه ۴۲۹)

مسئله: که مسافر د ذی الحجې د دوو لسمې ورځې (د اختر دریمه ورځ) ترغروب وړاندې کورته راغی یا یې په سفر کښې د پنځلسو ورځو داقامت نیت وکړ قرباني وربانديې واجب ده. که څوک د نصاب څښتن نه وو خو په

دوولسم تاريخ (د اختر دريمه روځ) تر لمر لوېدلو وړاندې ورته مال پيدا شو قرباني ورباندې واجبېږي. (عالمګيري ص ۲۹۲ ج ۵)

مسئله : که الله ﷻ چاته مال او دولت ورکړی وی نو مناسب ده چې له خپل لوري قرباني وکړي کوم خپلوان مثلاً مور او پلار يې وفات شوي وي د هغوی لپاره يې وکړي ثواب يې ورته رسيږي. رسول الله ﷺ ته يا دامهات المؤمنين لپاره يا د خپل استاذ لپاره دی قرباني وکړي او کنه د ځان لپاره خو دي ضرور وکړي چې په شتمن شخص واجب ده او که يې ونکړي بدنصيب او بې برخې او ګنهګار به وي. (بهشتی زيور ص ۳۷ ج ۳)

مسئله : قرباني يوازې د ځان له لوري (که شتمن وي) واجب ده. داولاد له لوري واجب نه ده. که نابالغ اولاد شتمن هم وي قرباني ورباندې واجب نه ده نه د هغه په مال کښې او نه هم د ده په مال کښې. که يې څوک وکړي نو نفلي قرباني ده. که يې کوي له خپل مال څخه دې کوي. د نابالغ اولاد له مال څخه دې نه کوي. (هدايه ص ۲۲۸ ج ۴)

که څاروی واخلي او قرباني ونکړي

مسئله : په چا قرباني واجب وه خو د قربانۍ ورځې تېرې شوې قرباني يې ونکړه نو د يوه پسه يا وزې قيمت دې خيرات کړي او که وزه يا پسه يې اخيستې وه همهغه دې خيرات کړي. (شامي ۲۸۶ ج ۵)

مسئله : چا د قرباني لپاره څاروی واخيست خو له کومې وجهې يې حلال نکړ هغه څاروی دې ژوندی صدقه کړي. که په مسئله نه پوهېده او تر اختر وروسته...

ته دې نه ورکوي او که څاروی ضائع شو او دې مالدار وو دا ورباندې واجب ده چې قيمت به يې صدقه کوي. (فتاوی رحيميه ص ۱۶۴ ج ۶)

د قربانۍ قضاء

که د قربانۍ ورځې تېرې شوې د ناخبرۍ، غفلت يابل عذر (مثلا جنګونه وو، بې امني وه بنديزونه وو) له امله يې قرباني ونکړه. د قربانې قيمت په بيوزلو ويشل واجب دي خو که د قربانې په دريو ورځو کښې د قربانې قيمت صدقه کي له دې واجب څخه نه خلاصيږي ځکه قربانې يو مستقل عبادت دي. لکه د لمانځه په کولو چې روژه نه ادا کيږي يا دروژې په نيولو چې لمونځ نه اداکيږي يا د زکات په ورکړه حج نه ادا کيږي همداسې د صدقې په ورکړه دقربانې واجب نه پوره کيږي. د رسول الله ﷺ لاربښوونې او تعامل او بيا دصحابه وو تعاملورباندې شاهد دي.(جواهر الفقه ص۴۴۸ج۱)

مسئله: که چا څو کاله قربانې کړې نه وه. هغه دې د هر کال د قربانې په بدل کښې د هغه قيمت صدقه کړي. (عزيز الفتاوی ص ۷۲۴ ج ۱)

مسئله: که يې د قربانې لپاره څاروی اخيستي وو د قربانۍ ورځې تېرې شوې او قربانې يې ونکړه هغه څاروی دې ژوندي خيرات کړي او که يې څاروي اخيستي نه وو بيا دې قيمت صدقه کړي. (شامی ص۲۰۹ ج ۵)

که شتمن تر قربانۍ کولو وړاندې مسکين شو

پوښتنه: يوشخص د نصاب څښتن وو. يو څاروی يې د قربانۍ لپاره واخيست خو د قربانۍ په ورځ مسکين شو، ايا هغه کولای شي هغه د قربانۍ څاروی خرڅ کړي او پيسې يې مصرف کړي. ؟

جواب : که د قرباني تر اخيري ورځې هغه د نصاب خاوند نه وو قرباني ورباندې واجب نه ده هغه څاروې دې خرڅ کړي او پيسې دې مصرف کړي او که د قربانۍ په اخيره ورځ د نصاب څښتن شو . قرباني ورباندې واجب د ه که هغه څاروی حلالوي او که بل . (فتاوی محموديه ص۳۲۲ ج۲)

د تېر کال د قربانۍ حکم

سوال : که په چا باندې د تېر کال قرباني پاتې وه . سږ کال يې په لوي څاروی کښې دوه برخې ونيولې د تېر کال او د سږ کال . د شريکانو قرباني ته خو به زيان نه وي ؟

جواب : د شريکانو قرباني صحيح کيږي ، د همدې شخص سږني قرباني هم کيږي خو د تېر کال قضايي (قربانې) نه ادا کيږي هغه نفلي ګرزي . د تېر کال د قربانۍ په عوض دې د يوې وزې قيمت صدقه کړي . (فتاوارحيميه ص۱۷۶ ج۴)

د قربانۍ د څاروو عمرونه

د قرباني لپاره د څاروو عمرونه ټاکلي دي . وزه (اوزګوريا وزه) ديوه کال غوئين بوده (غوا ، ګاو ميښه) دوه کلن . دا چې د څاروو عمرونه دېر وخت معلوم نه وي . د غاښونو په کتلو يې احتيا طاً حکم ورکړې دي . د غاښونو نښه دا ده چې د کم عمر د څاروو غاښونه لانه وي راختلي او د ډېر عمر د څاروو غاښونه وي . که د چا په کور کښې د ذی الحجی په لومړی نېټه سيرلکی (مرغومې پيدا و د بل کال د اختر په ورځ يې قرباني کول ځکه صحيح دي چې په يقيني توګه يې عمر تر يوه کال زيات دي که څه هم پاخه غاښونه يې لاراختلي نه وي . خو دا بيا هغه کليه نه ده چې هر بې غاښو څاروی قرباني کېدلای شي . زما په خيال د (سنة) معنې د غاښونو او د

ی د پوره کېدلو دواړه کېدلای شي ، خو که د یوه کلن مرغومي تاریخ سم
لوم نه وو ، مشتبه وو نو بیا له دوو غاښونو پرته نه معلومیږي نو عام
کم همدا مناسب دي . (کفایت المفتی ص۲۱۸ ج۸)

مسئله :د قرباني لپاره اوښ پینځه کلن ضرور دي. مرغومې (سېرلکی ،
، مږ) یوکلن ضرور دي که کم وو قرباني نه کیږي خو پسه که تر شپږ
اشتو زیات او تر یوه کال کم وو صحیح دي خو په دې شرط چې داسې
غ او ستر ښکاره شي لکه یوکلن که په یوکلن پسو کې ګډ شو اوله هغوئ
نه ئې فرق نه کیدی دهغه قرباني صحیح ده او که تر شپږو میاشتو کم
قربانې کول یې صحیح نه دي ، د شپږو میاشتو اندازه یا تر کال کم عمر
زې د وري او وری لپاره جواز لري هغه هم چې چاغ او لوی وي .

ی ص ۲۱۱ ج ۵ او بهشتی زیور ص ۵۶۸ ج ۵)

مسئله :وزه که تریوه کال یوه نیمه ورځ کمه وی نه قربانی کیږی.

اد الفتاوی ۵۶۸ طبع او جلد ۲)

مسئله : که د کوم خاروي عمر یقیني شي او پکښې ګومان غالب شي بیا یې
انې جواز لري. که کوم خاروی د پوره عمر ښکاره کېده خو یقیني دا وه
، عمر یې پوره نه دي. قربانی کول یې جواز نلري. (شامی ص ۵۱۱ ج ۵)

مسئله : که کوم خاروی د کم عمر ښکاره کېده خو یقیني دا وو چې عمر ي
ره دي قربانې یې جواز لري .(عالمگیری ص ۸۰ ج ۴).

لوی ځاروی څو برخې کېدلای شي ؟

په غوا ، غويي ،ګاومېښې او اوښ کښې اوه کسان شريک کېدلای شي او په اوو کسانو يي قرباني صحيح ده خو شرط داده چې د چابرخه به تر اوومې برخې کمه نه وي او دټولو نيت به دقرباني يا عقيقې وي ، يوازې د غوښې خوړلو نيت به نه وي که د چابرخه تر اوومې حصې کمه وه قرباني نه صحيح کيږي. (عالمګيری ص۲۹۷ج۵)

مسئله : ستر ځاروری اوه برخې کېدلای شي خو زياتې کېدلا ي نشي ، خو که پينځه شپږ يا کمې برخې وې آن که يو تن له خپله لوري ټول ځاروی قرباني کړي جائز دي. (عالمګيری ص۸۳ج۵)

که اته يا زيات کسان پکښې شريک شول د يوه هم پکښې قرباني نه کيږي

(عالمګيری ص۲۹۷ج۵)

مسئله : د احنافو په نزد په اوښ کښې هم اوه کسان ګډون کولای شي. دا اتفاقي خبره ده خو د لسو کسانوګډون اختلافي خبره ده نود اوو کسانو ګډون د احتياط لوری دي. (کفايت المفتی ص۱۸۸ج۸)

مسئله : دقرباني ځاروی ترقرباني څو ورځې وړاندې پالل غوره کار دي د قرباني د ځاروی شيدې لوشل يا يي وُبښتان (وړی) پريکول جواز نلري. که چا داسې وکړل شيدې او وړی يا د هغوی قيمت صدقه کول ور باندې واجب دي. (جواهر الفقه ص۴۵۰ج۱)

فتنې څخه خوندیتوب په هکله ده (وَالفِتنَةُ اَشَدُّمِنَ القَتلِ) خوکه له دی سره ،سره ئی څوک قرباني کړی قرباني ئی کیږي. (محمدرفعت قاسمی)

شرعاً څه شي قرباني جواز لري ؟

گاومیښه د غوایي حکم لري. د آس او چرگ قرباني کول صحیح نه دي له رسول الله ﷺ څخه دآس د قرباني کولو خبره قولا یا فعلا ثابته نه ده د هوسۍ او غوڅه قرباني کول هم جائز نه ده. د قربانۍ د ځاروو باطل شوي ډولونه شرعی سماعی دي قیاس پکښې ځای نلري ، په شریعت کښې د دریو ډولونو ځاروو قرباني کول ثابت دي. لوړی. اوښ اوښه. دوهم–وزه . پسه د دواړو نر او ښځه دریم – غوبیین بوده (غوا ، غویي ، گاومیښ ، گاومېښه) له دي پرته د نورو ځاروو قرباني جواز نلري . په دې ځاروو کښې هم شرط دا دي چې هغوی به صحرایي نه وي ، کورنې او اهلي به وي. (کفایت المفتی ص۱۸۹ ج۸)

مسئله : د هر شخص داکار حرام دي چې د قربانۍ ځاروی د بل کروندې ته پرته له اجازې پریږدي. خو د هغه ځاروی قرباني حرامه نه ده.

(فتاوی محمودیه ص ۲۱۶ ج۸)

مسئله :که د کوم ځاروی پوست سوڅېدلي وو خو زخم پکښې نه وو ټول اندامونه یې سالم وو د هغه ځاروي قرباني جائزده. (امداد الفتاوی ص۵۹۷ ج۳)

مسئله : که د کوم ځاروي وزری اخیستل شوې وي قرباني یې صحیح ده (عالمگیری ص۸۰ ج۴)

مسئله : که ځاروي : ذبح کولو په لاره ولوېد او عیب پکښې پیدا شو اعتبار نلري او قرباني کیږي. (عالمگیری ص۸۱ ج۴)

مسئله : که دقرباني لپاره خاروي څملول شو . په همدې کش مکش کښې يې ستر ګه ووتله . قرباني يې صحيح ده . که د حلالولو په وخت کښې هر عيب په قرباني کښې پيدا شي هغه اعتبار نلري قرباني کول يې جواز لري.

(عنايه على فتح القدير ص ۲۹۳ ج ۳)

مسئله : که کوم څاروي ناپاکي (نجاست)خوره . له هغه څخه تر بندولو وړاندې يې قرباني جواز نلري . څوورځې بايدبند وساتل شي تر څو هغه ناپاکي ونه خوري اوبنس څلويښت ورځې ، غوبين څاروى شل ورځې ، وزه او پسه لس ورځې بند ساتل ضرور دي . (شامى ص ۲۰۷ ج ۵)

يعنى ازاد دى نه پريږدى ،ترى دى شومه دى وركوى ترڅونجاست خورى ونكړى . (محمدرفعت قاسمى)

مسئله : د شنډ (هغه چې اولاد يې نه کيږي)څاروي او د غه چې ښکرونه يې مات وي قرباني جواز لري . خو چې ښکرونه يې له بيخه (ريښو) څخه مات نه وي . (عزيز الفتاوى ص ۷۲۰ ج ۱)

مسئله : که د کوم څاروي په ورانه داغ اينبودل شوي وو . په څمکه له لوېدلو يا وهلو په بدن ټپ يا نښه پاته وه . د دې دواړو قرباني صحيح ده خو غوره دا ده چې د قربانى په څاروى کوم عيب ښکند نه وي.

(عزيز الفتاوى ص ۷۲۷ ج ۱)

مسئله : که د کومې وزې سيرلي د خنزير په شيدو لوى شوې وو . سيرلى حلال دي . که يې څو ورځې د خوړو بله چاره وشى قرباني يې هم صحيح ده .(امداد الفتاوى ص ۵۴۰ ج ۳) دى سيرلكى چې څومره موده هغه شيدې

رودلې وی هغوَمره وخت که وربانډی وابنه وخوری دناپاکو شيد و اثر ختمیږي او قربانی کول ئی صحیح دی. (محمد رفعت قاسمی)

مسئله : که مرغومې د هوسۍ او وزې له يو ځای کېدلو پيدا شي . قرباني يې صحيح ده دا بچې د مور حکم لري او موريې وزه ده . (فتاوی محمودیه ص ۳۱۱ ج ۲)

مسئله . : د قربانۍ له ځاروي څخه ګټه اخيستل مکروه دي . په دې کښې شتمن او بې شتو شخص برابر دي دواړه د ځاروي په لوشلو او د وړيو په غوڅولو کښې سره برابر دي که يې تر ذبح کولو وړاندې شيدې ولوشلې يا يې وړې واخيستلې هغه به صدقه کوي او ګټه دې ورڅخه نه اخلي .

(فتاوی عالمگیری ص ۲۰۶ ج ۶)

مسئله : د دانو (غدود) لرونکي ځاروی قرباني صحيح ده . (فتاوی رحیمیه ص ۲۸۲ ج ۲)

د شنډ ځاروی حکم

د شنډ ځاروی قرباني جائزه ده . د ممانعت حکم يې تر نظر تېر شوي نه دي . د شنډ (عقيم) ځاروی قرباني کول عيب نه دي . لکه څرنګه چې د خصي ځاروی قرباني عيب نه ده . دا شنډ ځاروی د هر وخت چاغ وي . غوښه يې هم ښه وي . که د عمر د زياتوالي له امله يې اولاد نه کېده هم قرباني يې جائزه ده . (فتاوی رحیمیه ص ۹۱ ج ۲)

د کومو ځاروو چې شرعا قرباني جواز نلري

مسئله : د کوم ځاروی چې ژبه غوڅه شوې وي او دهغې له وجې وابنه خوړلای نشي د هغه قرباني جواز نلري . (عالمگیری ص ۸۰ ج ۴)

مړ

مسئله : که د میږې او وزې له یوه تي څخه شیدې نه راتلې د هغه قربانې صحیح نه ده. (شامی ص ۲۱۳ ج ۵)

مسئله که دغوا، ګاومېښې اواوښې له دوو تیو څخه شیدې نه راتلې قربانې یې صحیح نه ده. (عالمگیری ص ۸۰ ج ۴)

که دکوم څاروی تې غوڅ شوي وو یا بل داسې تپ وو چې بچي ته یې شیدې ورکولای نه شوای د هغه قربانې هم جواز نلري. که د کوم څاروی ناروغتیا ښکاره وه قربانې یې جواز نلري.

مسئله : که داوښې ، غوا او ګاومېښې یو تي وچ وو قربانې جائزه ده خو که یې دوه تي وچ یاغوڅ شوي وو بیا جواز نلري . (کفایت المفتی ص ۱۸۷ ج ۸)

مسئله د خنثی وزې قربانې جوازنلر ي.(عزیز الفتاوی ص ۷۱۴ ج ۱)

مسئله :دالیکنه دهغه په هکله ده چې په فطری توګه هغه داسې خنثی وه چې نه وزګوري وو او نه وزه د نر او ښځې دواړه نښې یې درلودې د هغې قربانې کول جواز نلري خو د خصی اوزګوړي قربانې کول صحیح دي. (امدادالمفتین ص ۹۶۲ ج ۲)

مسئله : د عیب لرونکي څاروی قربانې کول جائز نه دي خو که د حلالولو په وخت کښې د منډو او غورځېدلو له امله عیب پکښې پیدا شو څه ستونزه نه ده.

مسئله : کلي اصول – که چا دقربانې لپاره کوم څاروی واخیست . خو وروسته داسې عیب یا نقص پکې پیدا شو ...

کول جواز نه درلود .که دا قرباني نذروه نو د هغه په ځای بې عیبه قرباني کول ضرور دي که هغه دشتمن شخص وه او که دبې شتو . که هغه قرباني نذرنه وه نو دبې شتو لپاره همدغه معیوبه قرباني کول کافي ده خو په شتمن شخص د دې په ځای بې عیبه قرباني کول ضرور ده.(عالمګیری ص۸۱ ج۴)

مسئله : که دکوم څاروی په ګېډه کې بچي وو ، د هغه قرباني صحیح ده خوپه شامي کښې له کفایه منقول دي چې ولادت ته دنږدې څاروی ذبح کول مکروه دي که بچي له ګېډې وکاږی او ذبح یې کړي غوښه یې حلاله ده او که مړ را واېستل شي د امام ابوحنیفه رح په نزد یې خوړل صحیح نه دي.
(عزیز الفتاوی ص۱۸۲ ج۲)

مسئله : که کوم څاروی ړوند یایې یوه سترګه نه وه یا یې د یوې سترګې دریمه بینایي یازیاته تللې وه یایې یو غوږ دریمه برخه یا زیات غوڅ شوې وو یا یې دریمه برخه لکۍ یازیاته غوڅه شوې وه د داسې څاروي قرباني کول صحیح نه ده. (شامی ص۲۱۶ج۵)

مسئله : هغه څاروی چې داسې ګوډ وي چې په دریو پښو ځي څلورمه پښه یا په مځکه اېښودلای نشي که یې کیږدي هم ورباندې تلای نشي د همداسې څاروی قرباني کول هم جواز نلري. او که یې پښه په ځمکه اېښودله ورباندې تلای شوای خو ګوډ وو قرباني کول یې جائز دي. (شامی ص۲۱۶ج۵)

مسئله : د هغه کمزوري او ډنګر څاروي قرباني کول هم جواز نلري چې د کمزوري له امله د حلالولو ځای ته به خپله تلای نشي . خو که دومره کمزورې نه وو بیایې قرباني صحیح ده خو دچاغ څاروی قرباني کول ډېر غوره دي .(شامی ص۲۸۲ج۵)

مسئله: د هغه څاروی چې هیڅ غابنونه یې نه وي د هغه قرباني صحیح نه ده خو که غابنونه د ېر پاته وو قرباني یې صحیح ده. (درمختار ص۲۲۶ ج۲)

مسئله: د کوم څاروی چې د پیدا ایښت په وخت کښې غوږونه نه وي یا یې غوږونه وي خو د یوه غوږ دریمه یا تر دریمه زیاته برخه یې غوڅه شوې وي قرباني کول جائز نه دي که یې د پیدا ایښت په وخت کې غوږونه وو خو خورا واړه واړه وو قرباني کول یې جائز دي. (درمختار ص۲۲۲ ج۲)

مسئله: که د کوم څاروی د پیدا ایښت په وخت کې ښکرونه نه وو یا وو خو مات شوي وو. قرباني کول یې جائز دي خو که له بیخه (ریښو) څخه مات وو بیا یې قرباني کول جواز نلري. (عالمگیری ص۲۹۷ ج۵)

مسئله: د کوږ سترګي څاروی چې یو شي ورته دوه ښکاري یا د هغه څاروی چې پوست یې خارښت لري قرباني صحیح ده خو که د ناروغي له امله خورا کمزورې شوې وو قرباني یې جواز نلري. (درمختار ص۲۱۲ ج۵)

مسئله: دداسې څاروی قربانی کول جواز نه لري چې غوږ ئي تر دریمې برخې دیرغوڅ شوی وی، دداسې څاروی هم صحیح نه ده چې غوږ ئی د پیداکیدلو په مهال نه وي. دهغه څاروي قربانی هم نه صحیح کیږي چې لکی یاپوزه ئي دریمه برخه یازیاته غوڅه شوی وی. هغه څاروی چې روندیاکوڼ وی، یایي دیوې سترګې دریمه برخه ځیرله منځه تللی وی، قربانی جوازنلری. نه دهغه څاروی قربانی جوازلري چې مغزئي پاته نه وی اویاداسې ګوډ وي چې دقربانۍ ځای ته نه شي تلای، نه دهغه څاروی لری یاهغه څاروی چې داسی بیماروی چې واښه نه شي خوړلای، یاخارش لري یاهغه څاروی چې غاښ نه لری اوواښه خوړلای نشی، اونه هم هغه

څاروی قربانی کیدلای شی چې نجاست خوری هو خو دهغه څاروی قربانی کول جوازلری چې دهغه غوښه په اوږدوالی یادمخ لورته پرته وي یاخوړندوی.

مسٔله : که دکوم څاروی دربیمه برخه یازیاته لکۍ غوڅه شوي وه قربانی کول یې صحیح نه دي ،یوقول دادي که لکۍ تر نیمی زیاته پاته وه قربانی کول ئې صحیح دي ، که چیری دپوره لکۍ یاتر دریمي کمی غوڅي شوي لکۍ څاروي نه موندل کیده بیا به په دي خبره عمل وکړي چې لکۍ ئې تر نصف(نیمی) زیاته پاته وي قرباني جائزده. (فتاوی رحیمیه ص ۱۸۳ ج۲)

یادونه : په افریقا کي داسي څایونه شته چي دبیړ (بی لمه پسه) لکي ددي لپاره غوڅوي چې له ډیرو ناروغیوخوندي وي نوکه هلته دپوره لکۍ لرونکي څاروي نه موندل کیده. بیادغوڅ شوي لکۍ څاروي قرباني جائزه ده (محمدرفعت قاسمی)

قربانی به دکومې ییې وی ؟

مسٔله : دخصی څاروی چې دغوښې په لحاظ غوره دی قربانی کول افضل ده ،که بې وزله خلک ډیرودیرې غوښې څښتن څاروی قربانی کول غوره دی که بې وزله کسان کم وو بیادهغه څاروی قربانی کول غوره دی چې بیه ئې لوړه وی ،اوغوښه ئې ښه وی. (کفایة المفتی۱۹۳جلد۲)

مسٔله :دښه چاغ اوتازه څاروی قربانی کول مستحب ده ،دیوه چاغ څاروی قربانی کول تردوو کمزوروا وډنګر وڅارو و غوره ده. دزیاتی غوښې څاروی ترکم غوښې غوره دی خوچې غوښه ئې خرابه نه وی که ئې غوښه خرابه وه بیائی قربانی کول افضل نه ده .(مظاهر حق جدید ص ۲۰۵ ج ۲)

مسئله : که دوزې اوديوه لوی څاروی داوومې برخې يبه سره برابره وه نودوزې قرباني کول ورباندی افضل دی.

مسئله : په وزواو ښانوکې ترنردښځې قرباني کول غوره دی اوترغوايي غواغوره ده.

مسئله : دکوم څاروی چې بيه زياته وه دهغه قرباني غوره ده . که ددوو څاروو بيه سره برابره وه هغه غوره دی چې غوښه ئې زياته وی . که ددوو ډنګرووزو بيه له يوې چاغې سره برابره وه ديوې چاغې قرباني کول غوره دی.(فتاوی محموديه ص۷۷ج۱)

دقرباني څاروی په کته پلورل

پوښتنه : که چادقرباني لپاره يوڅاروی واخيست بياني په لوړه بيه دکتې لپاره خرڅ کړاوبل څاروی ئې واخيست . اياقرباني څاروی خرڅيدلای شی ؟

جواب : دقرباني څاروی خرڅيدلای نه شی که يي خرڅ کړاوبل ارزانه ئی واخيست زياتې پيسې به خيرات اوصدقه کوی. (کفاية المفتی ص۱۹۷ج۸)

دغلاشوی څاروی قرباني کول

سوال: که چاقرباني ته کوم څاروی واخيست ،وروسته معلومه شوه چې هغه څاروی غلاشوی دی ايادهغه قرباني کول جوازلری ؟

ځواب : که يې له غله څخه اخيستی وو قربانی يې جوازنلري بل څاروی دی واخلې قرباني دی کړي. (کفاية المفتی ص۱۹۷ج۸)

مسئله: که يې ترذبح کولوروسته مالک اجازه ورکړه بيايې خوړل صحيح دی. (امدادالفتاوی ص۵۵۰ج۲)

دلوارثه څاروو له ځای څخه دقربانی څاروی اخيستل

که څوک له هغه حکومتی مرکز څخه کوم څاروی دقربانی لپاره واخلی چيری چې بې څښتنه څاروی ساتل کيږي قرباني يې صحيح ده . خوپه تولنه اوعرف کې نوم بدې ده . که ضرورت نه وو څوک دی نه اخلی په تيره هغه څوک چې مقتدااولاربنود وی. داورسره نه ښايي .(امدادالفتاوی ص۵۴۱ج۲)

دخصی څاروی قربانی

دخصی مرغومی ،پسه اوغوايي قربانی جائزه ده څه کراهت پکښې نشته که يې خصيې (خايې) ليري کړی وی اوکه ئې تپي کړی وی توپيرئې نشته (کفاية المفتی ص۱۹۲ج۸)

په حديث شريف کې راځي چې رسو ل الله ﷺ دخصی څاروی دقربانی کولو ارشادکړی وو . نوله دی امله داعيب دقربانی مانع نه دی (کفاية المفتی ص۱۹۴ ج ۵) دکتې لپاره مثلاً داچې څاروی چاغ شی دڅاروی خصی کول جائزدی. (عالمگيری ص۲۳۷ج۶)

که د قرباني څاروی نه موندل کېده

پوښتنه : که دقرباني څاروی کم شول ، که موندل کېدل هم خورا لوړبیه وو . نو که د قرباني لپاره څاروی ونه موندل شو . څومره مبلغ خیرات کړای شي چې دقرباني ثواب وموندل شي.

جواب : دقرباني د څاروي یا د لوی څاروي د قیمت اوومه برخه پیسې باید خیرات شي. (کفایت المفتی ص ۲۱۳ ج ۸)

یادونه : که چېرې د قرباني څاروی نه موندل کېده یا حالات خراب وو په تلوراتلو بندیزوو . د اختر درې روځې انتظار وایستل شي بیا دې د قرباني د څاروی یا دلوی څاروي د اوومې برخې قیمت صدقه او خیرات شي.
(محمدرفعت قاسمی)

د سائبه څاروی قرباني کول

له الله ﷻ څخه پرته د بل چا په نوم د کوم څاروي ورکول دوه صورتونه لري. یودا دي چې د څه شي یا چاپه نوم کوم څاروي له خدمت څخه ازاد کړي او خوشحالي کړي په دې صورت کښې ورته سائبه وايي . د سائبې مالک هغه د بت یاد یوچا په نوم له کار څخه ازادوي. که یې مالک او مال کرخې د هغه حلالول او غوښه یې خوړل رواده . داچې هغه یې خرڅولو ته تیاریږي دابنې چې په نیت کښې یې تغیر راغلې دي . کنه هغه به یې هېڅکله نه خرڅاوو . څوک که څوک همداسې څاروی یعنې سائبه د مالک له اجازې پرته ونیسي او حلال یې کړي خوړل یې حرام دي. دا د دې له امله نه چې هغه د بل چې مال دي بلکه له دې امله چې د ((وماأهل لغیرالله به)) په حکم کښې داخل دي. سائبه څاروي د هغې دمالک یعنې هغه چا چې دا څاروی

يې ازا دپرې اېښې دي له ملکيت څخه نه وزي دوهم ډول هغه نومول دي چې مالک د هغه څاروي روح له الله ﷻ څخه پرته د بل چا په نوم کړي. که د مالک نيت د کوم څاروي په هکله همداسې وي هغه حرام او مردار دي. که څه هم ذبح کونکي ورباندې بسم الله ....ووايي. د بر هندوان د ديوتا يا کوم بت په نوم د کوم څاروي روح وبخښي هغه په خپل لاس نه حلالوي. که کوم مسلمان هلته وي هغه ته وايي چې داحلال کړه . هغه بسم الله ـ ورباندې وايي خو په دې بسم الله .. ويلونه حلالېږي .... که د داسې څاروي مالک هغه له نيت سره برابر هغه حلال نکړي د بتخانې يا بل معبد خادم ته يې ورکړي او هغه يې خرڅ کړي او مسلمان يې واخلي هغه ورباندې بسم الله او الله اکبر .... ووايي بيا هم حرام دي څکه د هغه د اصل مالک نيت معتبر دي او د هغه نيت دادي چې هغه يې غير الله ته بخښلې دي. د خادم خرڅول او د مسلمان اخيستل د هغه نيت بدلولای نشي بلکه خادم ته يې قيمت هم حرام دي. داسې څاروی يوازې هغه وخت حلال دي چې تر ذبح

کولو وړاندې يې مالک له دې نيت څخه وګرځي چې له الله ﷻ څخه پرته د بل چا په نوم يې قربانې بللي وو او په دې کار سره توبه وکاږي. بيا خاص د الله ﷻ په نوم هغه ذبح کړي او تکبير ورباندې ووايي نو حلال دي ، د نيت بدل تر حلالولو وړاندې معتبر دي. که يې ذبح د غير الله په نوم وشوه بيا د نيت بدلول بې فايدې دي. او هغه ميتته او مرداره ده چې د نيت په بدلون سره هغه وخت نه بدلېږي. (کفايت المفتي ص ۲۳۲ ج ۸)

د حامله څاروي قرباني

پوښتنه : ځينې خلک اوښې ، غواوې يا وزې او ميږې حلالوي. کله ، کله يې په ګېډه کښې بچي وي هغه راکاږي هغه حرام ګڼي ايا دا حلال دي که يې غورځول په کار دي؟

جواب : رسول الله ﷺ فرمایي ((که مو زړه غواړي هغه حلال کړي ویي خورئ. ځکه د هغه د ذبح کولو هم هغه طریقه ده چې د مور یي د ذبح کولو ده)) (ابوداؤد، ترمذی)

شرح : که د څاروی له ګېډې څخه مړبچي وایستل شي هغه حرام دي. او که ژوندي را وایستل شي حلالول او خوړل یي حلال دي. د رسول الله ﷺ ارشاد دي: ((که تر حلالولو وړاندې ومري حرام دي)) له صحابه کرامو سره دا شبه وه چې ښایي داسې کمزورې څاروي را ایستل او ذبح کول به جائز نه وي ځکه څه ناڅه د رحم خلاف معلومیږي ... د جواب حاصل یي دا دي چې له ګېډې د بچي رایستل او حلالول د نورو څاروو له ذبح کولو سره فرق نه لري. (فتاوی محمدیه ص ۴۰)

مسئله : هغه څاروی ذبح کول جائز دي چې په خېټه کښې یي بچې وي. خو که یي د بچي زیږولو وخت نږدې وو بیا یي ذبح کول مکروه دي.

(فتاوی محمدیه ص ۴۰ ج ۱)

مسئله :که یي بچې ذبح نکړ او د قربانۍ ورځې تېرې شوې نو دغه بچې دې ژوندي صدقه کړي که یي د قربانۍ تر ورځې وروسته حلال کړ او غوښه یي وخوره د هغه قیمت دې صدقه کړي. (شامی ص ۲۰۵ ج ۵)

یادونه :که یي بچې لوي کړ او بیا یي قرباني کړ واجب قرباني یي نه اداء کیږي. او ټوله غوښه صدقه کول یي واجب دي. که په دې سږي قربانې واجب وه بله قرباني دې وکړي. (محمد رفعت قاسمی)

په خپله قرباني کول يا بل ځای ته د هغه قيمت رسول

پوښتنه : افريقايان خپله قرباني په هندوستان کښې کوي. هلته يې په خپله نکوي په دې کې څو څه حرج نشته ؟

جواب : د پوښتنې د موضوع په صورت کښې هيڅ حرج نشته قرباني صحيح ده. خو غوره دا ده چې د قربانۍ څاروې په خپله خوښ کړي. په خپله يې خدمت وکړي له دې کاره سره مينه پيدا کړي. ځکه دا د لوي ثواب ذريعه ده داسې نه ده. دا د اولاد د قربانۍ ځای نيوونکې عمل دی. يا ده قربانۍ کول د اولاد له قربانۍ کولو سره برابريو عمل دی. مستحب دا ده چې په خپل لاس يې حلال کړي. که يې نه ذبح کوي په همدې مبارک وخت کښې دې حاضر اوسي مستحب دا ده چې له خپلې قربانۍ څخه خوړل وکړي. د اختر په ورځ د خوړلو پيل د خپلې قربانۍ په غوښه وکړي. په ګاونډيانو ، خپلوانو او عزيزانو يې وخوري. (خو بل ځای کول يې له دې ټولو ثوابونو څخه بې برخې کېدل دي) که د عذر يا بل شرعي مصلحت له امله قربانۍ بل ځای وشي پوره ثواب بلکه د لازيات ثواب اميد شته. خبره په نيت او صحيح طريقه پورې اړه لري. ځينې د خپلوانو د حق د ادا کولو په منظور په خپل ټاټوبي د قربانۍ انتظام کوي. (فتاوى رحيميه ص۸۵ج۲)

د قربانۍ وخت

((عن برا ، قال خطبنا النبی ﷺ يوم النحر فقال ان اول ما نبدء به فی يومنا هذا ان نصلی ثم نرجع فننحر فمن فعل ذالک فقد اصاب سنتنا و من ذبح قبل ان نصلی فانها هو شاة لحم عجلة لاهله ليس من النسک فی شیء))
(رواه البخاری ومسلم)

له براء بن عازب (رض) څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ د اختر په ورځ يو خطبه وويله په هغې کښې ئي وفرمايل: د نن ورځې په کارونو کښې لومړی کار دا دي چې د الله ﷻ په حضور کې د اختر لمونځ وکړو بيا راوګرځو او قرباني وکړو. په هغه طريقه دې وشي چې زموږ ده او چا چې تر لمانځه وړاندې قرباني وکړه. د هغه قرباني ونه شوه بلکه دکور والو ته يي د غوښې لپاره وزه حلاله کړه. (معارف الحديث ص ۴۱۶ ج۳ دصحيح بخاري اومسلم په حواله)

مسئله: د لوي اختر له لسمې نېټې بيا د دوولسمې تر مابنامه د قرباني وخت دي خو غوره اوله بيا دوهمه او بيا دريمه ورځ (لسمه، يوولسمه، دوولسمه نېټه) ده. (بهشتی زیور ص ۳۷ ج ۲ په حواله دقدوری ۱۹۸مخ)

مسئله: د اختر تر لمانځه وړاندې قرباني کول صحيح نه ده. کوم خلک چې لمونځ کوي تر لمانځه وروسته دې قرباني وکړي خو که په کليو کښې د جمعې او اخترونو لمونځونه نه کيږي. دصبح صادق تر را ختلو وروسته قرباني کول صحيح ده خو د ښار او ښار ګوټي خلک دې د اختر تر لمانځه وروسته وکړي.

مسئله: که د ښار کوم هستوګني، کوم کلي ته خپل د قرباني ځاروی واستاوو هلته همدا قرباني حلالول تر لمانځه وړاندې هم صحيح ده. که څه هم هغه د ښار هستوګن موجود وي. دا چې قرباني په کليو کښې تر لمانځه وړاندې صحيح ده. تر ذبح وروسته يي غوښه خوړله کيږي.
(عالمگیری ص ۴۲ ج ۲)

مسئله د دوولسم تاريخ تر لمر لوېدلو پورې قرباني کول صحيح ...

په خپله قرباني کول يا بل ځای ته د هغه قيمت رسول

پوښتنه: افريقايان خپله قرباني په هندوستان کښې کوي. هلته يي په خپله نکوي په دې کې څو څه حرج نشته؟

جواب: د پوښتنې د موضوع په صورت کښې هيڅ حرج نشته قرباني صحيح ده. خو غوره دا ده چې د قربانۍ څاروي په خپله خوښ کړي. په خپله يې خدمت وکړي له دې کاره سره مينه پيدا کړي. ځکه دا د لوي ثواب ذريعه ده داسې نه ده. دا د اولاد د قربانۍ ځای نيوونکې عمل دي. يا ده قربانۍ کول د اولاد له قرباني کولو سره برابرېو عمل دي. مستحب دا ده چې په خپل لاس يې حلال کړي. که يي نه ذبح کوي په همدې مبارک وخت کښې دې حاضر اوسي مستحب دا ده چې له خپلې قرباني څخه خوړل وکړي. د اختر په ورځ د خوړلو پيل د خپلې قرباني په غوښه وکړي. په ګاونډيانو. خپلوانو او عزيزانو يي وخوري. (خو بل ځای کول يي له دې تولو ثوابونو څخه بې برخې کېدل دي) که د عذر يا بل شرعي مصلحت له امله قرباني بل ځاي وشي پوره ثواب بلکه د لازيات ثواب اميد شته. خبره به نيت او صحيح طريقه پورې اړه لري. څينې د خپلوانو د حق د ادا کولو په منظور به خپل تاتوبي د قربانۍ انتظام کوي. (فتاوى رحيميه ص ۸۵ ج ۲)

د قربانۍ وخت

((عن براء قال خطبنا النبي ﷺ يوم النحر فقال ان اول ما نبدء به في يومنا هذا ان نصلي ثم نرجع فننحر فمن فعل ذالک فقد اصاب سنتنا و من ذبح قبل ان نصلي فانما هو شاة لحم عجلة لاهله ليس من النسک في شيء))

(رواه البخاري ومسلم)

له براء بن عازب (رض) څخه روایت دي چې رسول الله ﷺ د اختر په ورځ یو
خطبه وویله په هغې کښې ئي وفرمایل: د نن ورځې په کارونو کښې لومړی
کار دا دي چې د الله ﷻ په حضور کې د اختر لمونځ وکړو بیا راوګرځو او
قرباني وکړو . په هغه طریقه دې وشي چې زموږ ده او چا چې تر لمانځه
وړاندې قرباني وکړه . د هغه قرباني ونه شوه بلکه دکور والو ته یې د
غوښې لپاره وزه حلاله کړه . (معارف الحدیث ص ۴۱۶ ج ۲ دصحیح بخاری اومسلم په حواله)

مسئله : د لوي اختر له لسمې نېټې بیا د دوولسمې تر مابنامه د قربانی
وخت دي خو غوره اوله بیا دوهمه او بیا دریمه ورځ (لسمه ، یوولسمه ،
دوولسمه نېټه) ده . (بهشتی زیور ص ۳۷ ج ۳ په حواله دقدوری ۱۹۸ مخ)

مسئله : د اختر تر لمانځه وړاندې قرباني کول صحیح نه ده. کوم خلک چې
لمونځ کوي تر لمانځه وروسته دې قرباني وکړي خو که په کلیو کښې د
جمعې او اخترونو لمونځونه نه کیږي. دصبح صادق تر را ختلو وروسته
قرباني کول صحیح ده خو د ښار او ښار ګوتي خلک دې د اختر تر لمانځه
وروسته وکړي.

مسئله : که د ښار کوم هستوګني ، کوم کلي ته خپل د قربانی څاروی
واستاوو هلته همدا قرباني حلالول تر لمانځه وړاندې هم صحیح ده. که څه
هم هغه د ښار هستوګن موجود وي . دا چې قرباني په کلیو کښې تر لمانځه
وړاندې صحیح ده. تر ذبح وروسته یې غوښه خوړله کیږي.

(عالمګیری ص ۴۲ ج ۳)

مسئله د دوولسم تاریخ تر لمر لوېدلو پورې قرباني کول صحیح دي. خو که
لمر دوب شو بیا قرباني کول صحیح نه دي.

مسئله : له لسمې تر دوو لسمې نېټې چې هر وخت و غواړي قرباني کولای شي. که شپه وي او که ورځ خو د شپې ذبح کول غوره نه دي ځکه کېدلای شي کوم رګ غوځ نه شي او قرباني صحيح نه شي. (عالمګيری ص ۲۹۶ ج ۵)

مسئله :خپله قربانی په خپل لاس حلالول غوره دی که وربانډی نه پوهيدی بل دی ورذبح کړی خودذبح په مهال يې خواکښې دريدل بهتردی.

مسئله : که د قرباني مالک لمونځ کړي نه وو خو د ښار په کوم مسجد کښې لمونځ وشو قرباني کولای شي ځکه د ده فراغت له لمانځه څخه شرط نه بلکه په عيدګاه يامسجد کښې لمونځ کېدل کافي دي.

(امدادالفتاوی ص ۵۹۷ ج ۳)

مسئله : که په اوله ورځ (لسمه نېټه) د اختر لمونځ ونه شو . د لمانځه تر وخت(زوال) وروسته قرباني کېدلای شي.

مسئله : که د اختر لمونځ په دوهمه يا دريمه ورځ (يولسمه يا دولسمه نېټه)کېده تر لمانځه وړاندې قرباني کول جواز لري .دګرزبندی ،طوفان اوباران له امله دلمانځه تأخير جوازلري. (محمدرفعت قاسمی)

مسئله : که په ښار کې يو ځای د اختر لمونځ وشي او بل ځای پاته وي قرباني کول صحيح دي. (فتاوای محمديه ص ۷۷ ج ۱)

مسئله : که په کوم ښار کښې څه ستونزې وي او د اختر لمونځ نه کېده . که چا له سپيدو ختلو سره قرباني وکړه صحيح ده.

مسئله :په کوموکليويابناروکې چې دجمعې اواخترونولمونځ جائز دی هلته داخترترلمانځه وړاندی قرباني کول جائز نه دی که چاترلمانځه وړاندی قرباني وکړه بله قرباني ورباندی لازمه ده خوپه وړوکليوکې چې هلته داخترلمونځ نه کيږي هغه خلګ دلسم تاريخ دصبح صادق په مهال قرباني کولای شي همداسې که چېر ي دکوم عذرله امله داخترلمونځ په اوله ورځ ونه شي نو ددويم ورځې دلمانځه دوخت ترتيريدلووروسته قرباني صحيح ده. (جواهر الفقه ص ۴۴۹- ج ۱)

مسئله : که د قرباني په ورځ کښې شک وو ښه دا ده چې دريمې ورځې ته قرباني ونه ځنډوي. که يې و ځنډوله مناسب دا ده چې غوښه يې ونه خوري بلکه ټوله صدقه کړي. (مسائل قرباني ص ۲۱)

مسئله : - حيله. که کوم ښاري هستوګن غوښتل د يوه ضرورت لپاره وختي قرباني وکړي. د قرباني څاروی دې تر ښار بهر چېرې چې د اختر لمونځ واجب نه ده وا ستوي. هلته دې له لمر ختلو سره ذبح کړي او غوښه دې ښارته راوړي. (فتاوى محموديه ص ۷۷ ج ۱)

مسئله : په قرباني کښې د قربانۍ ځای مهم دي نه د قربانۍ کونکي د هستوګنې ځای. که د قرباني څاروی په کلي کښې وو او قربانۍ کونکې په ښار کښې وو نو له لمر ختلو سره يې قرباني کول جائزد ي: که د قربانۍ څاروی په ښار کښې وو او قرباني کونکې په کلي کښې نو قرباني يې د اختر تر لمانځه وړاندې جائزه نه ده.

مسئله : که د کوم کلي شخص د اختر د لمانځه لپاره ښار ته لاړ. خپلوانو ته يې وويل چې زما د قربانۍ څاروی حلال کړئ. د هغوی اختيار دی که يې له لمر ختلو سره ذبح کوله جواز لري. (فضائل عشره ذی الحجه ص ۳۷)

په کليو کښې د قربانۍ وخت

په واړه کلي کښې چېرې چې د جمعې او اخترونو لمونځونه نه کيږي. هلته تر سهار وروسته قرباني کول جائز دي. ځکه دا په هغه ممانعت کې داخل نه دي چې چېرې لمونځ کيږي هلته دي تر لمانځه وروسته قرباني وي .نوچيرى چې لمونځ کيږي لکه ښاریاسترکلی هلته ترلمانځه وړاندی قربانی منع اوباطله ده او چيرې چې لمونځ نه کيږي لکه وړوکی کلی په دی کې ممانعت نه راځي. (عزيزالفتاوى ص۷۲۱ ج ۱)

حلالونکی به څرنګه وي؟

مسئله :مشهوره دا ده چې حلالونکي ته بخښنه نه کيږي دا غلطه ده.

مسئله : د فقهې قوانينو غوښتنه داده چې په حلالولو اجوره اخيستله کېدلای شي په دې شرط چې اجوره معلومه وي مثلا ووايي د يوه څاروي اجوره دومره ده. (عزيزالفتاوی ۶۶۹ ج ۱)

مسئله : د حلالوونکي اجرت جائز او هغه يې حق دي.

مسئله : د حلالونکي امامت جائز دي يعنې په اجرت سره د څاروي په حلالولو کښې څه کراهت نشته اجرت هم تل ورته جائز دي. (کفایت المفتی ص ۲۴۵ ج ۸)

مسئله : د قصابۍ او غوښه خرڅولو کسب صحيح دي. شرعاً د رسول الله ﷺ په زمانه کښې هم دا کسب د مسلمانانو په مينځ کښې وو. ځينو صحابه وو دا کار کړي شرعاً دا کار منع نه ده او نه کومه مواخذه پکښې شته.

(عزيز الفتاوى ص ۷۹۱ ج ۱)

مسئله : که حلالونکې مسلمان وو که ځاروی نيونکې مشرک وو هم فرق نکوي او په نيونکي باندې بسم الله ، الله اکبر .... هم واجب نه دي . د نيونکې مشرک بسم الله . الله اکبر .... وويل څه ګټه نه لري . هو څوک چې په ذبح کولو کښې شريک وي بسم الله ، الله اکبر ويل ورباندې واجب دي او ځاروی نيونکي شريک فی الذبح نه دي . په درمختار کښې دي که دوهم کس په چاړه زور وکړي او په چاړه لاس کيږدي شريک فی الذبح دي . او بسم الله ، الله اکبر ويل ورباندې لازم دي . (کفايت المفتى ص ۲۴۶ ج ۸)

مسئله : د قربانۍ کوم توکي که پوست وي يا غوښه قصاب ته د حلالولو په اجوره کښې ورکول سخت منع دي . په قربانۍ کښې خلل نه پيښيږي خو که څه ورکړي د هغه د قيمت په اندازه صدقه ورکول لازميږي . (امدادالفتاوى ص ۵۴۹ ج ۳)

مسئله : مشهوره ده چې د ولد الزنا (حرامزاده) ذبح کول صحيح نه دي . دا خبره غلطه ده د هغه ذبح حلاله ده.

مسئله : ځينې خلک د ميرمنو د لاس ذبح صحيح نه ګڼي دا هم غلطه ده .

مسئله : ځينې خلک اټکل کوي که د حلالونکي مرسته کافر وکړي مثلا ځاروی ورته ونيسي نو هغه حلاله صحيح نه ده . دا خبره هم غلطه ده . داچې غيرمسلم مرسته کوونکی دی ذبح کوونکی نه دی او نه له ذابح سره شريک

دی چې دحلالوونکی په لاس زوروکړی ،یاپرچاړه ورسره مرسته وکړی نو ذبیحه حلاله ده (محمدرفعت قاسمی)(اغلاط العوام ص۷۹)

مسئله : د ګونګي ذبح حلاله ده ځکه د بسم الله ، الله اکبر .... له ویلو معذور دي .(نفع المسائل والمفتی ص ۱۳۵)

مسئله : د قصابانو د قبیلې د چاذبح حرامه نه ده ځکه هغه مسلمان دي او مسلمان که هر ډول وي له لاسه یې ذبح صحیح ده.

مسئله : د هر مسلمان له لاسه ذبح کول جائز دي. بد خویي او بده ژبه په حلالوالي کښې فرق نه راولي.

مسئله : که څه هم غوره دا ده چې د سالمو او روغو سترګو شخص ذبح وکړي ترڅودذبح کمال ووینی اوورته معلومه شي خو که ړوند ذبح وکړي هم جائز ده.

مسئله : د زانیه ښځې د میړه له لاسه ذبح جائزه ده . دا فرق نکوي چې هغه خپله میړمن له دې بد فعل څخه منع کړي ده او کنه.

مسئله : که د لمانځه او روژې پابند نه وو او که یې نشه کوله د هغه له لاسه ذبح کول جائز دي.د ذبحې د جواز لپاره د حلالوونکي مسلمان والې کافي دي خو دا شرط شته چې د حلالولو په وخت کښې به قصدا بسم الله الله اکبر ...... نه پریږدي.

مسئله : که هندو څاروی ونیو او یایې په نیولو کښې مرسته وکړه خو ذبح مسلمان وکړه جائزه ده .(کفایت المفتی له مخ ۲۶۲تر ۲۶۱ ج ۸)

مسئله : دمیرمنې اوماشوم ذبح کیږي خو په دی شرط چې ذبح وکړای شی او بسم الله وو ایي نو جائزده .(امدادالفتاوی ص ۵۴۸ ج ۳)

مسئله : د مسلمان د لاس په ذبیحه (حلال شوي څاروي) کښې شک کول په کار نه دي. په احتمال سره ذبیحه نه حرامیږي. (عزیزالفتاوی ص ۷۴۳ ج ۱)

مسئله که د غیرالله تعظیم پکښې نه وو نو په معین ځای کښې ذبح کول جواز لري .(امدادالفتاوی ص ۵۴۷ ج ۳)

مسئله : په قربانۍ کوونکي باندې بسم الله الله اکبر ویل واجب دي. په نیت کښې دعا ویل یا نه ویل فرق نه کوي خو په زړه کښې به دا قصد وي چې قرباني کوم. (کفایت المفتی ص ۱۸۰ ج ۸)

مسئله : د قربانۍ په وخت کې دې یوازې بسم الله الله اکبر ویل کیږي خو د خوړلو په پیل کښې به بشپړه بسم الله الرحمن الرحیم ویل کیږي

مسئله : د ذبح کولو په وخت په قربانۍ کښې د شریکانو د نومونو غږ اوچتول ضرور نه دي خو د حلالونکي په خیال کښې به د ټولو د قربانۍ نیت وي. که ناځاپه په زوره نومونه یاد کړي مقصد یې اعلام وي څه حرج نشته خو د اعلام (غږ سره څرګندول) ضرور ګڼل غلطه خبره ده.

(کفایت المفتی ص ۱۸۴ ج ۸)

د غیر مسلم د ذبیحې حکم

د ذبح لپاره دا شرط دي چې ذابح (حلالوونکې) یا مسلمان یا اهل کتاب وي. د غیر کتابی ذبح حلاله نه ده. د علماؤو په دې اتفاق دي چې د غیر

کتابي خلکو که مجوسي دي که د عربو مشرک او یا نور بې کتابه وي له لاسه یې حلاله روا نه ده. (کفایت المفتی ص۲۴۹ ج۸)

د اهل تشیع ذبیحه

پوښتنه: په اهل تشیع (شیعګانو) کښې څو فرقې دي. د ټولو ذبیحه ناروا ده که د کومې خاصې فرقې؟

جواب: کوم رافضي چې شیخینو (ابوبکر او عمر .رض.) ته بد وایي. هغوی ځینې فقهاء کافر او مرتد بولي. د هغوي له حلالې سره د سني مسلمان لپاره احتیاط لازم دي. د هغه ذبیحه دې نه خوري. اصل دا دي چې په اهل تشیع کښې ځینې فرقې په اتفاق سره کافرې دي. هغوی چې د عایشې (رض) په افک باوري دي او یا علی (رض) د الوهیت په صفت پیژني. یا د ابوبکر (رض) له صحابي والي څخه انکار کوي یا د بدا قائل دي. له هغه سره نکاح کول او د هغه ذبح په اتفاق سره حرامه ده. یوه فرقه ده چې شیخینو ته بد وایي خو دا پورته یاد شوي شیانو باندې معتقد نه دي. د هغوی په کفر کښې اختلاف دي. له هغوی سره په نکاح او د هغوی په ذبیحه کې احتیاط په کار دي. یوه فرقه بیا یوازې تفضیلیه دي چې علی (رض) تر نورو درې راشده خلفاؤ غوره ګڼي خو دنورو بدي نه وایي شیخینو ته بد نه وایي. د هغوی ذبیحه حلاله ده. هغوی مسلمانان دي خو سنیان نه دي. (عزیز الفتاوی ص۷۹۲ ج۱)

د ټوپک ذبیحه

د ماهیانو ښکار کول په ټوپک جائز دي. حلال دي او څه ممانعت پکښې نشته. خو له ماهیانو (کبانو) پرته که کوم ځاروی په ټوپک ښکار شي.

هغه ومري او دحلالولو وخت یې پیدانشي هغه حرام دي. مردار دي. خوړل یې ناروا دي. که څه هم د ټوپک ویشتلو په وخت کښې بسم الله، الله اکبر ...... وویل شي. که د ټوپک ښکار ژوندی ترلاسه شي او بیا حلال شي حلال دي خوړل یې جائز دي. په غشی که وویشتل شي او دویشتلو په وخت کښې یې بسم الله، الله اکبر ...... وویل شي که یې ښکار ومري او حلال نشي هم حلال دی او خوړل یې روا دي خو ټوپک دا حکم نلري.

(کفایت المفتی ص ۲۳۹ ج ۸)

د مېږمنې د لاس ذبیحه

د مېرمنې د لاس ذبیحه صحیح ده. څوک چې هغه حرامه بولي ګنهکار دي. خو دا چې ښځې وربانديږ د ېرې نه پوهیږي او کېدلای شي د زړه د نرموالي له امله یې لاس وربانديږ سم ونه خوځیږي نو نن سبا ورته د حلالولو کار سپارل مناسب نه دي. خو په حلال والي کښې یې بیا هم شک نشته. جائزه ده. (امدادالمفتین ص ۹۵۷ ج ۲)

څاروی بې هوښه کول او بیاوژل

که څوک څاروی لومړی په دماغ کښې په تومانچه وولي بیا یې حلال کړي دا دسنت طریقې او اسلامي تعلیماتو خلاف عمل دي. په دې طریقه کښې د څاروی د حرام کېدلو اټکل غالب دي. که په همدې ویشتلو د څاروی وژل کېدل یقیني شي نو بیا خو یې په غاړه چاړه وهل بې فایدې او څاروي حرام دي. (کفایت المفتی ص ۲۵۶ ج ۸)

مسئله: په شریعت کښې چې یې د ذبح لپاره د حلالولو شرط ابنی دي. چې له نصوصو ښکاره کیږي دادي چې روانه وینه ترې لاړه شي. له

ساینسي تحقیق څخه معلومیږي چې د څاروي دطبیعت قوت د هوښ په صورت کې زیات وي او د بیهوښۍ په صورت کښې کمزوری کیږي. څومره چې طبیعت قوي وي هغومره وینه زیاته وزي. نو که قصدا د هغه طبیعت کمزوری کیږي او د زیاتې وینې د وتلو مخ نیوی کیږي د شریعت له مقصد څخه خلاف عمل دي. او وینه پاته کیږي هغه له غوښې سره گډیږي او هغه دنبوی طب د منشأ خلاف دي د بیهوښۍ په حالت کښې خامخا وینه پاته کیږي او هغه له غوښې سره یو ځای کیږي او دا د شریعت خلاف دي. خو له کومې وجې که بې اختیاره دا کار وشي بیا خو دعذر خبره ده بیا د حرمت او کراهت حکم ورباندې نه کیږي. (امداد الفتاوی ص۶۰۸ ج۳)

یادونه : که پرته له بیهوښۍ د څاروی وینه کمه لاړه شي کوم حرج او کراهت نشته. (محمد رفعت قاسمي)

د حلالولو اسلامي طریقه

دا معلومه ده چې په نړۍ کښې د غوښې خوړل خورا پخواني عادت دي. تر اسلام وړاندې یې د څارو د غوښې د خوړلو لپاره عجیبې طریقې اختیار کړې وې. د مردار شوي څاروی غوښه به یې خوړه. د ژوندي څاروی یوه برخه به یې غوځوله او خوړله. اود څاروی د وژلو لپاره به یې هم د بېرې بې رحمه طریقې کارولې. په لرگیو به یې وهل او وژل په غشو به یې ویشتل او ...... په اسلام کښې لومړی د مردار څاروی د غوښو خوړل حرام کړل شول. د مردار غوښه د انسان جسمي او روحي روغتیا ته خورا زیانمنه ده. هغه څاروی یې حرام وبلل چې د هغوی د غوښو په خوړلو انساني اخلاق خرابیږي. لکه د خنزیر، سپي، پشی او ځیرونکو حیوانانو. د کومو څارو د غوښو خوړل چې یې روا بللي دي. په هغوی کښې یې هم د خوړلو

لپاره داسې سُتره لارې دي چې د څاروی ناپاکه وینه ډېره ووزي او څاروی ته هم تکلیف کم ورسیږي. او په طبی تحلیل هم د انسان ژوند او صحت ته تر هغه بله غوره طریقه نشته. دا خبره طبي ډاکترانو ثبوت کړې ده. په هر حال. اسلام انسان د څاروو د غوښو په خوړلو کښې ازاد پرې اینښې نه دي. چې د ونو او سبزو په څېر یې غوڅ کړي او خوري او لکه څرنګه چې وغواړي له څاروو سره هغه چلند وکړي. ښکاره ده چې د انسان خواړه که نباتي دي که حیواني پر. ټولو د الله ﷻ نوم اخیستل کیږي او د خوړلو په ختم کښې د الله ﷻ شکر ادا کیږي. دا هغه سنت دي چې رسول الله ﷺ په خپل قول او فعل سره دومره عام کړي دي چې یو اسلامي شعار ګرځېدلې دې. د څاروی د حلالولو په وخت کښې د الله ﷻ نوم اخیستل تردې هم وړاندې خبره ده چې د الله ﷻ له نوم څخه پرته د څاروی غوښه هم د خوړلو نه ده. که کوم غافل انسان سبزي میوه یا بل څه د الله ﷻ د نوم له اخیستلو پرته غوڅ کړي او وې خوري د سنت تارک بلل کیږي خو ورته حرام نه دي او که څاروی د الله ﷻ له نوم څخه پرته حلال شي که یې نور اداب هم پوره کړي حرام دي. شاولی الله (رح) په ((حجة الله البالغه)) کښې وایي: د څاروو معامله مود نباتاتو او نور مخلوق په څېر نه ده. په هغوی کښې د انسان په څېر روح ده. د انسان په څېر وینې راوزي او څي راڅي. په اندامونو کې یې د انسان په څېر احساس او اراده شته. تر یو حد پورې ادراک لري. نو سرسري تقاضا یې داده چې د څاروو خوړل مطلق روا نه وای. خو د الله ﷻ د حکمت تقاضا دا ده چې انسان یې د کائناتو مخدوم پیدا کړې (کائنات یې په خدمت کښې دي) له څاروو څخه ګټه اخلي شیدې یې څښي د اړتیا په وخت کښې یې حلالوئ. غوښه یې خوري او دا ورته حلاله ده خو د حلال والي لپاره یې ورته څه شرائط ښودلي دي چې پرته له هغوی څاروی حلال نه وي. (جواهر الفقه له ۲٦۲ تر ۲٦۵ ج ۲)

د اسلامي ذبح شرائط

د قرآن او سنت له څرګندونو څخه ښکاره ده چې په اسلامي ذبيحه کښې درې شرطونه ثابت دي.

۱-ذابح (حلالوونکې) به مسلمان وي.

۲-د ذبح (حلالولو) په وخت کښې به د الله ﷻ نوم يادوی.

۳-په شرعي طريقه کښې د حلقوم او مرۍ او دوينو رګونه غوڅول دي

يادونه: دا د اختياري ذبح په وخت کښې دي د غير اختياري لکه ښکار يا په بل وخت کښې د حلالولو طريقه بېله ده. (جواهر الفقه ص ۳۷۵ ج ۲)

د حلالولو احکام

۱-د حلالولو ځاى د حلق او لب تر منځ دي.

۲- غاړه به ټوله نه غوڅوي تر حرام مغز پورې به يي هم نه رسوي بلکه د حلقوم او مرۍ نالي او خواکښې يې د وينو د رګونو غوڅول دي. په داسې حلاله وينه پوره وزي او څاروی هم ډېر نه په تکليف کيږي.

۳-د حلالولو په وخت کې به د الله ﷻ نوم يادوي يعنې وايي چې الله اکبر، الله اکبر...

۴-هڅه دي وشي. چې د څاروي تکليف کم وي چاړه تېره وي او يو څاروی د بل په وړاندې حلال نه شي. حلقوم او رګونه دې ښه غوڅ شي چې روح ژر

وخیژي. په یوه حدیث شریف کښې دا هم را غلي دي چې د ځاروی په وراندې دې چاړه نه تېره کوي.

۵-د ژوندي ځاروی کوم اندام دې نه غوڅوي.

۶-ژوندي ځاروی دې د ښې له لوري نه حلالوي له دې څخه معلومیږي چې د فعتایي سر ترې بیلول جائز نه دي.

۷- که ځاروی د ښې له لوري حلال شي د ابن عباس (رض) په نزد یې د غوښې خوړل حلال نه دي. (جواهر الفقه ص ۲۷۳ ج ۲)

د حلالولو غوره (افضله) طریقه

(ابو سعید خدری (رض) څخه روایت دي وایي رسول الله ﷺ فاطمې (رض) ته وفرمایل: ولاړه شه له خپلې قرباني سره و درېږه

(او ذبح کول یې وګوره) ځکه د هغې له لومړی ځاڅکي سره چې ځمکې ته رسیږي ستا ټولې تېرې ګناوې بخښل کیږي. فاطمې (رض) پوښتنه وکړه. ای د خدای ﷺ رسوله ا دا فضیلت موږ اهل بیت (د نبوت خاندان) لپاره ځانګړې ده او که ټول مسلمانان مستحق دي. رسول الله ﷺ وفرمایل: دا موږ لره هم او نورو مسلمانانو لره هم)

تشریح: مستحب او غوره داده چې قرباني کوونکې په خپله د قرباني ځاروی حلال کړي خو که د کوم عذر له امله یې په خپله ذبح نه کوله لږ ترلږه خو دې د ذبح په وخت کښې ورته حاضر وي. چې ذبح کیږي. وینه یې بهیږي او دی یې په خپله ویني. د ذبح کولو یالیدلو له امله چې کوم ذوق

پیدا کیږي هلته له الله ﷻ سره تعلق زیاتیږي او د قرباني مقصد پوره کیږي خو له لیرې څخه بیا دا خبره نه وي. (الترغیب ص ۳۹۳ ج ۲)

د حلالولو سنت طریقه

((عن انس (رض) قال ضحی رسول الله ﷺ بکبشین املحین اقرنین ذبحهما بیده وسمی و کبر قال رأیته واضعا قدمه علی صفاحها ویقول بسم الله والله اکبر . بخاری و مسلم)) (له انس (رض) څخه روایت دي چې رسول الله (ص) دوه ښکرونه لرونکي سپینوالی او توروالي ته مائل پسونه په خپل لاس قرباني کړل د حلالولو په وخت کې یې بسم الله والله اکبر ویل. ما ولیدل چې خپله پښه یې د هغه تر څنګ اینښې او په مبارکه ژبه یې ویل ((بسم الله والله اکبر)) . (صحیح بخاری ،مسلم ،معارف الحدیث ص ۴۱۱ ج ۳)

د ذبح کولو آداب او مسائل

(عن شداد بن اوس (رض) قال قال رسول الله (ص) ان الله کتب الاحسان علی کل شیء فاذا قتلتم فاحسنوا القتلة و اذا ذبحتم فاحسنوا الذبحة و لیحد احدکم شفرته ولیرح ذبیحة. بخاری.)((له شداد بن اوس (رض) څخه روایت دی . رسول الله (ص) فرمایې : بېشکه الله ﷻ په هر کار کښې ښه اسلوب او سلیقه فرض کړي دي نو که تاسو څوک (په قصاص یا بل مورد کښې) څوک وژل په ښه طریقه یې ووژنئ او که تاسو (کوم څاروی) حلالاوو په ښه اسلوب سره یې ذبح (حلال) کړئ او (د دې غوره طریقه داده چې) چاړه وراندې لا تېره کړي او څاروی د وژل کېدلو له تکلیف څخه ژر خلاص کړي))

تشریح: ښه سلیقه د هر عمل روح ده. شریعت د دې ساتونکې دې. په هر څه یې تعلیم ورکړې دې او تأکید یې کړې دې. د څاروی حلالول د دې اعلی او غوره مخلوق یعنې انسان د خوراک لپاره حلال شوې دې. خو څاروی ته چې کوم تکلیف رسیږي هغه باید خورا کم وي څکه هم د چاړې د تېرولو حکم شوې چې وړاندې لا تېره شي چې کوم رګونه غوڅوي هغه ژر غوڅ شي او څاروی دژوند او مرګ له کش مکش څخه ژر وژغورل شي. چاړه چې څومره تېره وي هومره د څاروی ستونزه کمه وي او د روح او بدن تعلق هغومره ژر ختمیږي. څاروی ته د اسوده ګلوی یو مطلب دا هم بیان شوی دې چې تر حلالولو وروسته پرېښودل شي تر څو یې بدن سوړ شي او بیا یې اندامونه غوڅ شي. رسول الله (ص) به د چړو دتېرولو او هغه له څاروي پټولو حکم کاوو. د ژر ذبح کولو به یې ویل او څاروی په وړاندې یې د چاړې له تېره کولو څخه ممانعت کاوو. په حلالولو کښې اوس زیات تېری کیږي لومړی خو دا چې د یوه څاروی په وړاندې بل حلالیږي. څاروی باید دا محسوس نکړي چې حلالیږي او که وپوهیږي نیول او راوستل یې باید په بار حمه طریقه سره وي. ترمخه یې کړي یا یې تر څنګ روان کړي. د شا تر پښه نیول او کشول یې رسول الله (ص) ناخوښه بللي دي..

(الترغیب والترهیب ص ۳۹۱ ج ۲. ۴۰۰ ج ۲)

یادونه: د شا تر پښه نیول او کشول بالکل یوه غیر فطري او وحشیانه طریقه ده

مسئله: کله چې څاروی حلال شي ، ساه یې ووزی یعنې بدن یې سوړ شي بیا یې پوست ایستل جائز دي که هغه یو ځای وي او که ټوټه ، ټوټه هر ډول یې جائز دي پَه دې کښې کومه طریقه بې رحمې بلل د شریعت خلاف خبره ده. (کفایت المفتی ص ۲۵۷ ج ۸)

مسئله: که څوک د ځاروی تر حلالولو وروسته چې د هغه بدن لا تود وي او پوست ایستل یې پیل کړي داسې کار حرام دي. ښه په یاد ولرئ چې ځاروی ښه سوړشي بیایې پوست ایستل کیږي. (اغلاط العوام مکمل ص ۱۳۴)

مسئله: د حلال شوي ځاروی سرتر سرېدلو وړاندې غوڅ کول مکروه دي. خو ذبیحه حلاله ده. (امدادالمفتین ص ۱۷۵ ج ۱ د شامی ص ۲۰۵ ج ۵ په حواله)

مسئله: نن سبا ځاروی حلالوونکي ډېر داسې دي چې ځاروی ته تکلیف ورکوي او څه پروایې نه کوي. خو په شریعت کښې، که کوم ځاروی حلالیږي یا د شر د دفع لپاره وژل کیږي طریقه معلومه ده. د ظلم او ورته د کولو په وخت به چاړه تېره وي او په عجله به حلالیږي. چې څلور رګونه یې غوڅ شي بیا ورباندې چاړه وهل جائز نه دي ځکه د رګونو تر غوڅېدلو وروسته ژر ژوند نه ختمیږي او که ورباندې (بې موجبه) چاړه وهي هغه په تکلیف کیږي او دا حرام دي. (اغلاط العوام ص ۱۸۰)

مسئله: مستحب دا دي چې تر حلالولو وړاندې ځاروی ته اوبه ورکړي او چاړه ښه تېره کړي.

مسئله: ځاروی په سختۍ سره د حلالولو ځای ته بیول. تر څملولو وروسته په حلالولو کښې ځنډ کول یا د هغه په وړاندې چاړه تېرول مکروه دي. (فتاوی عالمگیری ص ۸۱ ج ۴)

د حلالولو په وخت کښې ضروري مراعاتونه

۱- د حلالولو وړاندې د څاروی ته اوبه او خواړه ورکول کیږي وږې تږی ساتل يې مکروه دي.

۲- د حلالولو ځای ته يې په کشولو رسول مکروه دي.

۳- څاروی په اساني سره بیول. يعنې بې موجبه سختي يې مکروه ده. ۴- د قبلې په لوري داسې مخ کول چې په کیڼ اړخ څملول شي داسې ساه ژر خیژي د دې خلاف کول مکروه دي.

۵- درې پښې يې نیول.

۶- تېره چاړه. په پخه چاړه يې حلالول مکروه دي .

۷- که چاړه تېره کوی له څاروی دې پټه تېره شي. د هغه په وړاندې يې تېرول مکروه دي.

۸- د څاروی تر څملولو وړاندې د چاړې تېرول وروسته مکروه دي.

۹- په حدیث شریف کښې راځي: یوه شخص څاروی څملولی وو بیایې چاړه تېروله رسول الله (ص) چې ولید ویې ویل ! تاسو څاروی څو ځله وژنئ ؟.

۱۰- د یوه څاروی حلالول د بل په وړاندې مکروه دي.

۱۱- په سختی سره حلالول چې سریې ترې غوڅ شي یا حرام مغز ته چاړه رسول مکروه دي. (د غاړې په هډوکي سپینه ماده حرام مغز بولي)

۱۲-د غاړې په پاسنې لورې حلالول مکروه دي منع دي ځکه څاروی ته تر ارتیازیات تکلیف رسیږي.

۱۳ تر حلالولو وروسته تر سړېدلو وړاندې يې سره بېلول يا څرمن ایستل مکروه دي. پورتني احکام د قرباني تر څاروی پورې ځانګړي نه دي. بلکې په هره حلاله کښې دي. (فتاوی رحیمیه ص۹۸ ج۱ په حواله دُرمختار، شامی، هدایه)

د قبلې لورته د مخ ګرځولو مطلب

پوښتنه: د قبلې لورته د څاروی مخ کول شرعاً ضرور دي که د حلالونکي او که د دواړو. که څوک د څاروی مخ قبلې ته وګرځوي یعنې سر يې لویدیز او لکی يې ختیز ته وي او حلالوونکې جنوب ته ودریږي او څاروی حلال کړي جواز لري کنه؟

جواب: د فقهاؤ له کلام څخه داسې ښکاري چې د سړي مخ قبلې ته کېدل سنت دي او سنت هم مؤکد چې پرته له عذر څخه يې پرېښودل مکروه دي او د څاروی په هکله په صراحت سره کوم نظر نشته. (امدادالمفتی ص۵۵۹ ج۳)

مستحب دا ده چې د څاروی مخ قبلې ته کړي پښه وړباندې کښیږدي حلال يې کړي. (کفایت المفتی ص۲۵۸ ج۸)

دقبلې لورته دڅاروی دمخ اړولو مطلب دادی چې لکه په قبرکې چې مړی پډی سرنی ښې اوپښې نی کیڼ لورته وی خوکه عذروو مثلاً حلالوونکی بوازې ویابل عذرونودي په عکس هم کیدای شی ترڅوبه چپ لاس نی ونیسې اوپه ښي لاس چاړه پرتیره کړي. (محمدرفعت قاسمی)

حلالول په څه شي کیږي

پوښتنه : صحابه وو (رض) پوښتنه وکړه . یا رسول الله (ص) موږ سبا د دښمن مقابلې ته تلونکي یو له موږ سره چاقو نه وي نو ایا موږ د بانس په تو ټه یا بل شي ذبح کولای شو .

جواب : رسول (ص) وفرمایل (په عجله کښې داسې شی واخلئ چې وینه وبهولای شي. د الله نوم یاد کړئ او حلال یې کړئ او غوښه یې وخورئ. په داسې شي ذبح وکړئ چې هغه غاښ او نوک نه وي .) د دې وجه یې هم وښودله. په غاښ له دې امله ذبح صحیح نه ده چې هغه هډوکې دي او په نوک له دې امله چې هغه د حبشیانو چاقو دې. (بخاري، مسلم او ابوداؤد)

شرح : دا چې خلک د دښمن مقابلې ته تلل او هلته د داسې څاروو د غنیمت هیله وه چې هغه حلال کړي او غوښه یې وخوري. خو دې حضراتو

په تورو سره څکه حلالول نه خوښول چې د هغوی تېره والی ختمېده . له همدې امله یې پوښتنه کوله چې په نورو شیانو ذبح کیږي کنه ؟ رسول الله (ص) ورته د داسې شي اجازه ورکړه چې تېره وي او رګونه غوڅ کړای شي او وینه وبهیږي. خو دا چې ځینو حبشیانو او ځنګلي خلکو به په نوکانو او غاښونو غوڅول او حلاله کوله له هغوی یې منع کړې په غاښونو څکه حلاله روانه ده چې هغه هډوکی دي او په هډوکي حلاله ناپاکه (نجسه) کیږي. په نوکانو ذبح کول د حبشیانو کار دي پرهېز ورڅخه لازم دي. خو د حنفی علماؤو په نزد په هغه نوک او غاښ ذبح کول ناروا دي چې په خپله ځای وي. که و ایستل شي بیا ورباندې که څه هم حلاله مکروه ده خو حلاله ده. د رسول الله (ص) له ځواب څخه څرګندیږي چې غوڅوونکي او وینه

بهونکي شي ضرور دي. نو که بسم الله وویل شي په لرګي یا او سپنه څاروی ووهي او مړ شي حلال نه دي. (فتاوی محمدیه ص ۳۲)

هغه شي چې غوڅول او زخم کول کولای شي په هغه ذبح کول جائز دي. په پنډ او دړانده شي وهل او زخم کول ذبح جواز نلري. غوڅوونکي شي که او سپنه وي که لرګي صحیح دي. (فتاوی محمدیه ص ۴۶ ج ۱)

مسئله: په څه شي چې رګونه غوڅېدلای شي او وینه بهېدلای شي په هغه ذبح کول جائز دي. (کفایت المفتی ص ۱۸۰ ج ۸)

مسئله: د حلال څاروی ذبح کول دوه ډوله دی. اضطراري او اختیاري. اضطراري حلالول دا دي چې الله اکبر ووایي او څاروی چې چېرې ممکن وي هلته په تېره یا نوک لرونکي شي ووهي او وینه وبهيږي دا ذبح هغه مهال کيږي چې څاروی نه نیول کيږي او یا یې په اصل طریقه حلالول ناممکن وي (مثلا دا چې په ختې کښې بند پاتې وي په را ایستلو یې د مړینې احتمال وي یا خندق یا بل ځای کښې لوېدلې وي او ژوندې را ایستل یې ممکن نه وي) اختیاري حلالول (ذبح تزکیه) دا دي چې

۱- په تېره شي حلال شي یا اوښ نحر کړای شي.

۲- په حلالولو سره وینه ترې وبهيږي. دوینې بهېدل په اضطراري او اختیاري دواړو صورتونو کښې ضروري ده خو طریقې یې فرق لري.

۳- لومړنۍ خبره د اختیاري او اضطراري دواړو حلالولو مشخصه ده. (کفایت المفتی ص ۲۵۶ ج ۸)

مسئله : په هر صورت که بسم الله الله اکبر وويل شي ذبيحه حلاله ده. که څاروې ولاړوي يا په مخ لوېدلې وي يا حلالوونکې د لمانځه او روژې پابند نه وي خو مسلمان وي او حلالوونکې رګونه غوڅ کړای شي.

(عزيز الفتاوى ص ۱۷۸ ج ۲)

مسئله : سره زر، سپين زر يا اوسپنه که تېره وي ذبح ورباندې کول حلال دي د اوسپنې توته يا لرګی چې تېره وي ذبح ورباندې حلاله ده.

مسئله : په ايستل شوي غاښ، نوک يا ښکر چې ايستل شوی وي ذبح حلاله ده خو داسې کول مکروه دي.

مسئله : که کوم غاښ يا نوک له بدن څخه ايستل شوی نه وي ورباندې حلالول جواز نلري.

مسئله : د حلالولو وسيله ښه تېره کول مستحب دي. حيوان څملول بيا چاړه تېره کول مکروه تحريمي ده.

مسئله :څاروی دی دحلالولوله ځای څخه نيسې (چپه نيول ئی تحريمې مکروه دی چې وروستنۍ پښې ئی مخته ونيول شی.

(خلاصة المسائل (مخ ۱۰۹)

مسئله :ځينې عوام وايي په کومه چاړه ،چاکوچې ذبح کيږي دهغه دحلالولې شرط دادی چې هغه چاقوبه درې ميخونه لري خوداغلطه ده (اغلاط العوام ۱۷۹ مخ)

په ذبح کښې د غوځولو ځای

مسئله : حلالول دوه ډوله دي اضطراری او اختیاري. اضطراري ذبح هغه ده چې د کوم عذر له امله د حلالولو په ځای (غاړه) باندي د حلالولو قادر نه وي ، لکه دا چې کوم څاروی تر دېوال لاندې شوی وي په ختو کښې نښتي وي غاړه يې تر خاورو او ختو لاندې وي یا څاه ته لوېدلې وي په را ایستلو يې د مړینې وېره وي. یا د ځنګل حیوان په انسان برید کوي. په دې صورت کښې که دوجود په هره برخه زخمی کړای شي خوړل يې حلال دي. اختیاری ذبح هغه ده چې د حلالولو په ځای په حلالولو قادر وي . د حلالولو ځای تر ژامه لاندې چې کوم هډوکي بهر را وتلې تر هغه لاندې او د سینې تر پیل لور ته دي. دا د هدایه او جامع الرموز خبره ده . په جامع صغیر کښې لیکی چې ټول حلق د حلالولو ځای دي. که هغه پور ته لوری وي او که کښته ، یا منځني برخه. (خلاصة المسائل ص ۱۰٦) .

مسئله : د څاروی غاړه دې دومره غوځیږي چې څلور رګونه غوڅ شي. یو هغه چې هوا پکښې کښته پورته کیږي (وچه غاړه) دوهم هغه چې او به او خواړه پکښې تېریږي (سره غاړه) دوه شاه رګونه چې دوچې غاړې دواړولورته دي. که له دې څخه درې هم غوڅ شي ذبح صحیح ده او خوړل يې روا ده خو که دوه غوڅ شول څاروی مردار او خوړل يې حرام دي او که هېر یا خطا شي خوړل يې صحیح دي. (بهشتی ثمر ص ۵۲ ج ۲)

مسئله : غوا ، غویي ګاومېښه که څاه ته ولویږي. ژوندې را خېژول يې سخت او حلالول يې نا ممکن وي که په هر ځای زخمي شي صحیح دي او خوړل يې صحیح دي. (عزیز الفتاوی ص ۲۰۲ ج ۱)

مسئله : که حلالول تر العقد (غوټو) پورته وشي مذبوح حرام نه دي ځکه هغه هم د ذبح ځای دي. له ذبح کېدلو څخه مقصد روانه وينه تلل او د ژوند ختمېدل دي همدا قول راجح او قوي دي يعنې حلاله ، حلاله ده.

(کفايت المفتی ص ۲۵۸ ج ۸)

د باتجربه خلکو خبره ده چې د ذبح کولو رګونه تر غوټو پورته هم غوځيږي نو په حلالولو کښې يې شک نشته. (عزيزالفتاوی ۷۰۸ ص. ج ۱)

مسئله : که د کوم ښاروی سر د حلالولو په وخت کښې بېل شي . دا کار مکروه دي خو د غوښې خوړل يې روا دي آن چې مکروه لاهم نه دي.

(بهشتی ثمر ص ۵۲)

د حلالولو په وخت کښې د بسم الله مسائل

له رسول الله (ص) څخه پوښتنه وشوه ((يا رسول الله ځينې کسان (هغوی چې نوي مسلمان شوی وي) موږ ته غوښه راوړي دا نه معلوميږي چې هغوی د ذبح په وخت د الله نوم (بسم الله) وايي او که نه وايي . (ځکه هغوی په اسلامي اصولو پوره نه پوهيږي) د داسې غوښې رانيول او خوړل روا دي که ناروا ؟)) (رسول الله (ص) وفرمايل : کوم شک پکښې مه کوئ. بسم الله ووايا ست و يې خورئ) (بخاری شريف)

تشريح د رسول الله (ص) د ارشاد مطلب دا دي. کوم خلک چې مسلمان دي . د مسلمان ظاهري حال دا دي چې د ذبح په وخت کښې بسم الله وايي . ته شک پکښې مکوه چې ګواکې د خدای ﷻ نوم به يې ويلې نه وي. هسې بسم الله وايه او خوره يې. د دې خبرې معنی دا نه ده چې که هغه بسم الله ويلې نه

وه او ستا بسم الله ویل د هغه کفایت کوي او نه یې دا منظور ده چې که یې رښتیا بسم الله ویلې نه وه نو ته یې خوره . بلکه داسې ځای په غالب گمان حکم کیږي او دا د هغه له حال او قرینې څخه معلومیږي غالب لوری دا دي چې بسم الله یې ویلې وي نو تا ته روا ده . او که په غالب گمان هغه بسم الله ویلې نه وه بیا یې خوړل حرام دي. (فتاوی محمدیه ص۳۵ ج۱)

مسئله : که یې بسم الله ویل هېره وه او پاته شوه حلاله ده ، ځکه نو هم ذبیحه حلاله او قربانی صحیح ده. (امداد الفتاوی ص۵۵۸ ج۲)

مسئله : که چا سهوا بسم الله ویل پرېښودل خوړل یې روا دي.

مسئله : په اختیاري ذبح کښې دا شرط ده چې بسم الله له حلالولو سره متصله وویله شي. یعنې بسم الله ووایي سمدستي دې حلال کړي. د بسم الله ویلو او حلالولو تر منځ دې بل کار نه کوي. که چا څاروی څملاوو. بسم الله یې وویله هغه څاروی یې پرېښود او بل یې را وست او په دې بسم الله یې حلال کړ یعنې بیا یې بسم الله ونه ویله . د دې حلالې غوښه خوړل صحیح نه دي. (خلاصة المسائل ص۱۰۸ ج۲)

مسئله : که په کوم څاروی د بسم الله ، الله اکبر په ځای بسم الله . سنت ابراهیم خلیل الله وویل شي ذبیحه نه حرامیږي خو داسې ویل په خپله مکروه دي. (امداد الفتاوی ص۶۰۲ ج۲)

مسئله : ځینې خلک دا گمان کوي چې څومره خلک د هغه څاروی په قربانۍ کښې شریک وي ټول به بسم الله وایي که له یوه څخه پاته شي الله اکبر وایي. دا بیخي غلطه خبر ده. یوازې حلالوونکې به بسم الله ،

مسٔله : ځینې خلک د قربانۍ په وخت کښې یوه دعا کول ضروري ګڼي. په کتابونو کښې هم یوه دعا لیکله شوې ده. خو له هغې دعا پرته هم قرباني صحیح ده. دا دعا یوازې مستحب ده ضروري نه ده. (اغلاط العوام مکمل ص ۱۳۴)

مسٔله : که څوک د چارې د غوڅولو په وخت کښې ورسره شریک وي یعنې په چاړه یې ورسره زور کړې وي په هغه هم بسم الله ، الله اکبر ویل واجب دي . خو څوک چې د څاروی پښې یا سر نیسي هغه ورسره شریک نه دي . معاون دي . بسم الله ویل وربانديې واجب نه دي. (امداد الفتاوی ص ۵۴۷ ج ۲)

مسٔله : د ذبح په وخت ځینې خلک وایي بسم الله والله اکبر یعنې له واو سره یې وایي. ځینې یې بسم الله الله اکبر له واو څخه پرته وایي. په دواړو کښې فرق نشته خو پرته له واو څخه ویل احتیاط دي. جواز دواړه لري.. روایات مختلف دي. په احادیثو کښې له واو سره هم روایت راغلې دي. داسې هم راغلي دي چې الله اکبر لومړی او بسم الله وروسته ویل کیږي. په ځینو روایتونو کښې خو د ټولې بسم الله الرحمن الرحیم ویل راغلي دي خو په ډېرو روایاتو کښې خالي او مجرده بسم الله راغلې ده. د لویو لویو پوهانو په نظر بسم الله الله اکبر ویل مستحب دي که څه هم نقل له واو سره هم راغلې دي. کوم حضرات چې له علم سره ، سره چې له رسول الله ﷺ څخه له (واو) سره منقول دی بیانی هم پرته له واو څخه ترجح ورکوی داحتیاط کوی تحریرکوی عوامو ته ښئي چې دبسم الله اوذبح ترمنځ بیلوالی نشته دعلامه عیني خبره هم داده چې له واو سره روایت شوی دي نومکروه نه ده . (عزیز الفتاوی ص ۷۰۰ ج ۱)

مسٔله : د قربانۍ نیت په زړه کښې کافي دي په ژبه ویل یې ضروري نه دي. البته د ذبح کولو په وخت کښې بسم الله ، الله اکبر ویل ضروري دي. (جواهر الفقه ص ۴۵۰ ج ۱)

د بسم الله په هکله يوه پوښتنه

پوښتنه : که چا د ذبح کولو په وخت وويل بسم الله الله اکبر شريعت دي. حلاله صحيح ده ؟

جواب : د ذبح کولو په وخت کښې مسنون او مستحب دا دي چې بسم الله، الله اکبر وويله شي او ذبح وکړي. که الله اکبر شريعت دي وويل شي او ذبح وکړي ذبيحه حلاله ده خو داسې دې نه وايي. غوره نه دي. که يوازې الله اکبر ووايي هم ذبح صحيح ده. د شامی له عبارت څخه معلوميږي چې په همداسې ويلو (الله اکبر شريعت دي) هم ذبيحه حلاله ده خو داسې ويل د سنت خلاف ده. نو مکروه ده. (عزيز الفتاوی ص٦٩٨ ج١)

مسئله : علماؤ دا هم ليکلي دي چې د برائت سورت چې پکښې د قتل د کفارې حکم راغلي دي بسم الله الرحمن الرحيم پکښې نه ده راغلې. څکه دا د رحمت کلمه ده او د موقع غوښتنه نه ده. همداسې د ذبح په وخت کښې هم بسم الله الله اکبر تاکل شوې دي او د بسم الله الرحمن الرحيم حکم نه دي ورکړل شوی. څکه ذبح او حلالول د قهر او غضب شکل دي او د رحمت د کلماتو (بسم الله الرحمن الرحيم) د ويلو محل او مقتضی نه ده. (مظاهر حق جديد ص٤٦ ج٣)

يادونه : شرعی حکم دا دي چې که د مسلمان شخص د څاروی د ذبح کولو په وخت کښې بسم الله ويل هېر شول. ذبيحه حلاله ده څکه دا چې حلالوونکې مسلمان دي نو اټکل دا دي چې د الله له نوم څخه پرته د بل چا نوم د حلالولو په وخت کښې نه اخلي. د الله اکبر اضافه کول هم ضرور نه دي. يوازې د بسم الله لفظ کافی دي. خو دا ياد ساتل په کار دي چې هيرول نی بيله خبره ده اما که څوک پوهيږي اوبسم الله ونه وايي اوياد څاروی ضائع کول يو مصيبت وبولې نو دابيله خبره ده، دادوهمه خبره خوراسخته

ده ، په اخیرت کې سخت عذاب دی او په دا ذبیحه هم (په دی خبره) حرامه .
(قاسمی)

د قربانۍ دعاء

مسئله : حلالوونکې دې ښې پښه د څاروی په اوږه کښیږدي بسم الله ، الله اکبر دې ووایي او حلال دې کړي . د قربانۍ نیت دې یوازې په زړه کښې کوي هغه کافي دي په ژبه ویل یې ضروری نه دي . خو د ذبح کولو په وخت کښې د بسم الله ، الله اکبر ویل ضرور دي . (تاریخ قربانی ۵۲)

مسئله : د قربانۍ کولو په وخت کې په ژبه نیت کول او دعا ویل ضرور نه دي که په زړه کښې ورو ګرځوي چې قربانۍ کوي او په ژبه څه ونه وایي فقط بسم الله ، الله اکبر ووایي او ذبح وکړي قربانۍ صحیح ده . خو که یې یادوو دعا ویل غوره دي . (شامی ص ۲۷۲ ج ۵)

که یې په یادوو تر حلالولو وړاندې دې دا دعا ولولي : اللهم منک ولک بیا دې بسم الله ، الله اکبر ووایي ذبح دې وکړي او تر ذبح کولو وروسته دې که یې یادوو دا دعا ولولي : اللهم تقبل منی کما تقبلت من حبیبک محمد و خلیلک ابراهیم علیهما الصلاة والسلام . او که چا د بل چا له لوري ذبح کوله د (منی) په ځای دې ووایي (من فلان) د هغه شخص یا د اشخاصو نومونه دې واخلي . (مشکوة شریف ص ۱۲۸ ج ۱)

د څوښې دویش مسائل

سوال : که څوک د قربانۍ د څاروی سر یا پښې یا بله برخه سقاو یا بل خدمت کوونکي ته د حق او اجورې په بدل کې ورکړي ایا قربانۍ صحیح کیږي ؟

جواب: قرباني کيږي خو له کراهت سره. وربانديې واجب ده چې د سر يا پښو چې کومه بيه ده هغه صدقه کړي او که نه گنهکار دي. دا هغه وخت چې خادمانو ته يې د خدمت په بدل کښې د قرارداد په صورت کې ورکړي دا د اخستلو او خرڅرلو په حکم کښې دي او که هسې په ناڅاپي توگه کوم خدمت کوونکي ته ورکړی شي مشکل نه جوړوي خو چې کوم رواج وند گڼل شي. (امداد المفتين ص ٩٦٥ ج ٢)

مسئله: د قربانۍ غوښه دې په خپله خوري. خپلوانو ته دې ورکوي اوبې وزلو ته دې خيرات کوي. ښه داده چې دريمه برخه خيرات شي. په هغې کښې دې کموالې نه کوي او که ځوک کمه برخه خيرات کړي هم گناه نه ده.

(بهشتي زيور ص ٤١ ج ٣ هدايه ص ٤٣٥ ج ٤)

مسئله: که په لوی څاروی کښې اوه کسان شريک شول د غوښې د ويشلو په وخت کې دې په اټکل ويش نه کوي بلکه په ښه کره وزن دې معلوموي کنه گنهکاربږي. خو که له غوښې سره سر او پښې ويشلې کيږي نو که د سر او پښو په برخو کښې غوښه تر نورو کمه وه بيا څه ستونزه نه ده. که کوم لوری ته سر يا پښې وي او هغې ته غوښه هم زياته و، گناه ده.

(بهشتي زيور ص ٣٩ ج ٣ د درمختار ص ٢٣٢ ج ٢ په حواله)

مسئله: د قربانۍ غوښه، وازگه يا بل څه دې د قصابې په مزدوری کښې نه ورکوي بلکه مزدوري دې بېله ورکوي. (شامي ص ٤٧٨ ج ٥)

مسئله خوداده چې دقربانۍ غوښه درې برخې کيږي يوه برخه دخپل کورلپاره بله ددوستانو او خپلوانو اودريمه بې وزله خلکو ته خو که ئې اهل اوعيال ډيروو او غوښې ته ئې اړتياوه نو کورته دې کښيږدي، نه دې صدقه

کوی خینې خایونه د غوښې په ویش کې خورابې احتیاطي کیږي ،مستحق ته غوښه نه رسیږي خپلوانوته ئې ورکوي یاچې له کوموکورنوورته راخې هغوئ ته ئې لیږي ،خوار کسان ډیروی ورکړه ورته ثواب لري ،داسې د غوښې بې حرمتې کیږي ،دفن کوي یې یاپه سړکونولیدله کیږي ،خو هرځای ار خلک وی ،دهغوئ خیال ساتل په کار دی. (محمدرفعت قاسمی)

مسئله: د مړه شوی شخص له لوری قربانې کول دوه صورتونه لري. که مړ شوی شخص امر ي وصیت کړی وي نو غوښه دې صدقه کړي او په خپله دې نه خوري خو که یې امر یا وصیت نه وي بیا یې قربانې کوونکي هم خوړلای شي. (عزیز الفتاوی ص ۷۲۴ ج ۱)

مسئله: که څوک مړه شوی شخص ته د ثواب رسېدلو په هیله قربانې کوي حکم یې داسې دي لکه د خانی قربانی یعنې څومره چې غواړي هغومره دې صدقه کړي او څومره چې غواړي ودې ساتي. خو د مړه شوی د وصیت له امله که قربانې کیږي هغه دې نه خوري تول له غوښه اوهر څه دې صدقه کړي همداسې د نذر منلو د قربانۍ غوښه خوړل جائز نه دي تول له دې صدقه کوي .(فتاوی محمدیه ص ۷۸ ج ۱)

مسئله: ډیر خلک داپوښتنه کړی چې حمال یاموچې ته د قربانی غوښه ورکول جائز دی ؟ جواب ئې دادی چې جائز خو دی خو چې په مزدورۍ کې ورنکړی.

مسئله: عموماً سراوپښې د مزدورانو حق ګڼي که داحق الخدمت وګڼل شی نو د هغې بدل غوښې بیه به صدقه کوی . (اغلاط العوام)

مسئله : خلک داسې انګیري چې د قرباني پښې د حجام (نايي) حق دي اوسر د سقاو حق دي دا بالکل غلط اټکل دي. (اغلاط العوام مکمل ص ۱۲۶)

مسئله : که په قربانۍ کښې څو کسان شریک وي او ټول په دې خبره راضي وي چې غوښه دې نه ویشله کیږي. یو ځای دې پخه شي ودې خوړله شي یادې تر پخولو وروسته وویشله شی یا دې صدقه شي دا صحیح ده. خو که څوک د دې خلاف وو او خپله حصه یي بېله غوښتله بیا یې ویشل ضروري دي.

مسئله : د قرباني غوښه په اټکل وېشل جائز نه دي په وزن سره برابر وېشل یي ضروري دي که چابرخه کمه یا زیاته وي سود دي. د سود راکړه ورکړه او خوړل هر څه حرام دي (نو ضروری ده چې په وزن وو ېشله شي (شامی ص۲۰۹ ج۵)

مسئله : د قربانی د څاروی رسی او پړی صدقه کول مستحب دي (عزیز الفتاوی ص ۷۲۴ ج ۱)

یادونه : که یې پړی خرڅ کړ د قیمت صدقه کول یې واجب دی خود څاروی هغه ده چې خرڅونکی ئی ورسره ورکړی پړی یانورڅه ئی په خپله استعمالولای شی یایې خپلوانوته ورکولای شی خوکه ئی خرڅ کړ دبیې صدقه ئی واجب ده. (معتدر نعمت قاسمی)

مسئله : د قرباني غوښه بنګی (جمعدار) ته ور کول جائز دي. (عزیز الفتاوی ص ۱۵ ج ۲)

مسئله : چا به خپله ترکه کښې د قرباني وصیت وکړ او دمړ د قرباني ټوله غوښه یې صدقه کول او بې وزلو ته ورکول واجب دي. خو که د ثواب لپاره

بل چا د مړه شوی لپاره قرباني وکړه اختيار لري چې ټومره صدقه کوي يا ټوله په خپله خوري. (امدادالفتاوی ص۵۲۳ ج۳)

مسئله : که د قرباني د غوښې تر وېشلو وړاندې د ټولو شريکانو په خوښه چاته غوښه ورکړه شوه جائز ده ځکه ويش واجب نه ده خو که په شرکاوو کښې د نذر (مړي) برخه وه او غوښه غني ته ورکړل شوېوه نو جواز نلري ځکه د نذر برخه فقراؤو ته ورکول واجب ده . قرباني صحيح ده خو د نذر د برخې ځښتن به د خپلې ورکړل شوې غوښې قيمت صدقه کوي خو هله چې غني ته يې ورکړې وي. (امدادالفتاوا ص۵۴۶ ج۳)

مسئله : قرباني کول واجب ده خو د غوښې ويشل واجب نه دي. نو که هغه هديه کيږي او که صدقه او کافر ته يې ورکړه هم جواز لري. خو که د هغې قرباني غوښه وي چې د هغې ويشل واجب وي لکه د نذر د هغې ورکړه کافر ته جواز نلري .(امدادالفتاوا ص۵۵۱ ج۳)

مسئله : که کوم واقعي مصلحت وي بل قوم (غير مسلم) ته صدقه ورکول کېدلای شي خو غوره نه ده ځکه په مسلمانانو کښې د فقراؤ کمی نشته . (فتاوی رحيميه ص۱۶۵ ج۲)

مسئله :د قرباني غوښه بنګې (جمدار)ته ورکول صحيح دی

(عزيزالفتاوی ص۳۶۱ج۲)

مسئله : که په يوه لوی څاروی کښې اوه کسان شريک وو که خپل وو که پردي. که خپلوان يا ورونه وو چې په يوه کور کښې اوسېدل د غوښې تقسيم کول ضرور نه دي. په شامي کښې دا صراحت شته چې ويشل يې ضرور نه دي. که ووېشل شي او که نه وويشل شي توپير نلري. (عزيزالفتاوی ص۷۱۸ ج۲)

مسئله : قربانی کول داسې ده چې په لوی څاروی کښې تر اوو تنو شریک کېدلای شي هو که اوه شپږ یا پینځه تنه شریک وو د هغوی برخې په وزن ویشل کیږي بیا که یې په خپله خوري که یې نورو ته ورکوي خو غوره دا ده چې خپله برخه درې حصې کړي . یوه حصه ځان ته کښېږدي ، یوه برخه خپلوانو او دریمه به فقراؤو وویشي . که ضرورت وو ټوله دې د ځان لپاره کیږدي . (عزیز الفتاوی ص ۷۱۹ ج ۱)

مسئله : دریمه برخه غوښه صدقه کول مستحب دي خو اولاد لرونکي سړي ته غوره دا ده چې صدقه یې نکړي او ټوله غوښه اولاد او د کورنۍ غړو ته وساتي . (فتاوی محمدیه ص ۷۷ ج ۱)

د غوښې د خوړلو مسائل

مسئله : د قربانۍ غوښه دې په خپله خوري . شتمنو او بېوزلو ته یې ورسول هم صحیح دي . (خلاصة المسائل ص ۱۱۶)

مسئله : د معدې او پښو خوړل صحیح دي . (فتاوی رشیدیه ص ۵۵۲ ج ۱)

مسئله : که ذبح په شرعي توګه شوې وي نو د غوښې خام خوړل یې صحیح دي . پخول د حلالوالي شرط نه دي .

مسئله : د حلال شوي څاروی خصیې او تناسلي غړي خوړل تحریمي مکروه دي خو د معدې خوړل پرته له کراهت څخه حلال دي . (کفایت المفتی ص ۲۹۵ ج ۸)

مسئله : د کوم څاروی چې غوښه خوړله کیږي اوه توکي پکښې داسې دي چې خوړل یې حرام دي .

۱۔دم مسفوح-بهېدلې وينه

۲۔د بولو ځای

۳۔دواړې خايې

۴۔مخرج (مقعد)

۵۔غدود.

۶۔مثانه، د بولو د ټولېدلو ځای.

۷۔پته (لکۍ) د شنجيو وروستنی مری. (بدائع صنائع ص۶۱ ج۵)

په کنز کښې حرام مغز هم حرام بلل شوی دي. هغه يوه سپينه ماده او د شاپه شنجيو کښې پرته ده او تر غاړې پورې ځای لري. دا حرام بلل کيږي خو ځينې علماء د شنجيو د وروستنيو درې مهرو سپينه ماده حرام مغز بولي.

(خلاصة المسائل ص۱۰۸)

مسئله: له پوست سره د سر او پښو پخول او خوړل جائز دي. يوازې ويښتان دې ترې لرې کړي. (کفايت المفتی ص۲۲۶ ج۸)

مسئله: د قربانی غوښه په اور کباب کول صحيح دي. (عزيز الفتاوی ص۷۰۹ ج۱)

د کلکې شوې وینې حکم

کله چې د حلالولو په وخت کښې په څاروی کښې حرکت نه وي وینه پکښې کلکیږي هغه حلاله نه ده. که کوم خلک په غلطی سره هغه (غوښه) وخوري توبه دې وکاږي کفاره وربانديې نشته. (کفایت المفتی ص ۲۴۰ ج ۸)

مسئله : که تر حلالولو وړاندې د څاروی ژوند یقیني وو چې حلال شي حرام نه دي که یې حرکت وکړاو که یې ونکړ. که وینه ترې ولاړه او که نه ولاړه. خو که تر حلالولو وړاندې ژوند یقني نه وو حکم یې دا دي چې که په څاروی کښې د ژوند نښې ولیدل شوې مثلا خوله یې بنده کړه سترګې یې بندې کړې، پښې یې وښوروليې، وینښتان یې جګ شول یا دومره وینه ترې ولاړه لکه له ژوندي حیوان څخه چې ځی. نو حلال دي. (امداد الفتاوی ص ۵۵۳ ج ۳)

مسئله : که د ذبح په وخت کښې څاروی اواز وکړی که څه هم وینه یې نه لاړه حلال دي. (عزیز الفتاوی ص ۱۷۸)

له غیر مسلم څخه د غوښې رانیول

په کومو ځایونو کښې چې مذبح (د مال د حلالولو ځای) معلوم وی او هلته مسلمان شخص د حلالولو لپاره ټاکل شوی وي او بل ځای د څاروو حلالول جرم وي. نو په داسې حال غالب اټکل د هغې غوښې اخیستل او استعمال جائز دي. چیرې چې مذبح معلوم او ټاکلې ځای نه وي په ذابح (حلالوونکي) هم پابندي نه وي هلته تر هغه چې مسلمان لیدل کیږي چې ذبح هغه کړي خو غیرمسلم یې خرخوي اخیستل یې صحیح دي خو که حلالوونکې معلوم نه وو چې مسلمان دي او که نه دي. نو بیا له غیر مسلم څخه د غوښې اخیستل جواز نلري. که مسلمان شخص ذبح و ک . .

غیر مسلم څخه هغه غوښه اخیستل جواز لري ترڅو هغه مسلمان له هغه ځای څخه غائب شوی نه وي . (کفایت المفتی ص ۲۶۰ ج ۸)

له غیر مسلم څخه د غوښې غوښتل

په دې مسئله کښې غالب اټکل اعتبار لري که غالب گومان دا وو چې غیر مسلم له مسلمان څخه دا غوښه راوړي ده په خوړلو کښې یې څه ستونزه نشته. خو احتیاط دا دي چې د مسلم په واسطه غوښه راوغوښتل شي.

مسئله : د کب غوښه له غیر مسلم څخه په هر صورت اخیستل جائز دي.
(کفایت المفتی ص ۲۶۱ ج ۸)

مسئله : د قربانی د غوښې حکم د قربانی د پوست حکم دي. که خرڅه شي حکم یې د واجب صدقې دي. بیا یې صدقه کول ضرور دي. (امداد الفتاوی ص ۵۷۲ ج ۳)

د غوښې مینځل

پوښتنه : تر حلالولو وروسته چې غوښه له څاروی څخه بېله کړي هغه به مینځي بیا به یې پخوي ؟

جواب : د هغې مینځل ضرور نه دي هغه ناپاکه نه ده

(فتاوی محمودیه ص ۳۱۶ ج ۲ په حواله دطحطاوی ص ۸۳ ج ۱)

یادونه : که یې مینځي نو ودې مینځي خو هغه ناولې بلل او پاکول غلط دي ځکه هغه پاکه ده . (قاسمی)



د مشتبه ذبيحې د غوښې خوړل

پوښتنه : د قربانۍ يا بل څاروی ورک شو . مالک هغه په ځنګل کښې ومومند چې په غاړه يې چاړه تېره شوی او غوښه پرته ده . له ښکرونو او ښنګريو څخه يې مالک وپوهېد چې دايي ورک شوی څاروی دي. د هغه غوښه خوړلای شي او کنه. ؟ حلالوونکې هم معلوم نه دي. دا هم معلومه نه ده چې بسم الله ورباندې ويله شوې ده او که نه ؟

جواب: په دې څاروی کښې د اشتباه دوې وجهې دي. يو دا چې دا څاروی د هغه دي او کنه ؟ دوهم دا چې چا حلال کړی دي او بسم الله ورباندې ويله شوې ده کنه ؟ دلومړی شبهې حکم دا دي . که هغه څاروی داسې ځای ومونډل شو چې خوا وشا د مسلمانانو هستوګنځايونه وو او نژدې دي. خوړل يې صحيح دي. خوکه هلته خواوشا د غير مسلمانانو ودانۍ وې يا ګډوډ خلک اوسېدل يا غير مسلم خلکو هلته کار کاوو . د څاروی خرمن يې ايستلې او غوښه پاته وه په دې حال کښې د هغې غوښې خوړل جائز نه دي. (کفايت المفتی ص ۲۵۳ ج ۸)

د قربانۍ پخه شوې غوښه نوکر خوړلای شي ؟

پوښتنه : د نوکر او مزدور د نيولو عامه طريقه دا ده چې اجوره يې د کال لپاره ټاکله کيږي. د خوراک څښاک يادونه نه کيږي خو رواج داسې دي چې د نوکر خوړل څښل د مالک په ذمه دي. که مالک له خوړلو څښلو ځان بې غمه کړي او دنوکر په معاش (تنخوا اجوره) کښې زياتوالې وکړي. د مالک د قربانۍ غوښه خوړل نوکر ته جائزه ده او کنه ؟

جواب : هغه غوښه چې مالک يې په خپل کور کښې پخوي د قرباني د تصرف له حکم څخه وزي او س د کور لپاره پخه شوې ده او د ملازم (خادم، نوکر) لپاره يې خوړل هيڅ ستونزه نه ده. هغه چې په اجوره کښې يې خوړل هم شامل وي. (محمد کفايت الله کان الله له – دهلي) په سوال کښې په يادونه کښې، د نوکر لپاره. د مالک د قرباني غوښه پخول او خوړل جائز دي. دا د عقيقې او قرباني بيع نه ده. په اجرت کښې نه شمېرله کيږي. ځکه مالک او د قرباني څښتن د خپل کور لپاره پخه کړې ده او په خپل تصرف کښې يې راوستلې ده. د قرباني او عقيقې حکم يې ختم شوې دي. اوس خاص ملکيت دي. د قرباني غوښه نه ده. هغه د کور کتغ دي په خوړلو کښې يې حرج نشته. که يې هلته مالګه، مرچ او غوړي اچولي وي خو پخه کړې يې نه وي لاد اشتباه صورت دي. هغه چې په سوال کښې ذکر شوي دي هغه صورت نه دي. لنډه دا چې په تصرف کښې راوړل او پخول هغه غوښه خاص ملکيت ته راولي هغه نوکر خوړلای شي. فقط د سيد مهدی حسن د ديوبند د مفتی ليکنه .چيرې چې داشکال واريديږي چې دخادم خوراک دهغه دمعاش جزء دی نواياد قرباني دغوښې خوړل دهغه اجرت نه کيږي ؟دځواب لنډيزداکيږي چې دغوښې په پخولوهم لګښت کيږي ،نوداخواره په اجرت کې نه شميرل کيږي .(محمدرفعت قاسمی)

د قرباني په څرمن کښې درې ډوله اختيارات دي

الف: غوښه او څرمن تر څوموجود دي په هغوی کښې درې ډوله اختيار شته.

۱- په خپله خوړل او استعمالول.

۲-نورو شتمنو خپلوانو ته ورکول.

۳-په بېوزلو صدقه کول.

ب: که د قرباني غوښه یا څرمن په روپیو یا بل داسې شي خرڅ شول چې له هغوی څخه بیا ګټه نه اخیستله کېدله لکه د خوړلو څښلو شیان. په دې کښې دریم صورت دي. یعني په خپله خوړل یا شتمنو خپلوانو ته ورکول یې په دې کښې جواز نلري صدقه یې واجب ده. که څه هم دصدقې په نوم یې خرڅ کړي وي یا د خپل ځان دخورد ونوش لپاره په هر صورت یې قیمت صدقه کول واجب دي.

ج: دا معلومه ده چې که د قرباني غوښه یا څرمن د صدقه کولو په نیت خرڅ کړي جائز دي او که یې د ځان دمصرف لپاره خرڅول ګناد د خو بیع صحیح ده. د قرباني څرمن (او غوښه) که خرڅه شي د هغه بیه صدقه کول واجب دي. او دمصرف ځای یې یوازې فقراء او مساکین دي. شتمن نه دي. د مدرسې په معاونو کښې مصرف کېدلای نشي ځکه د صدقې حقیقت دا دي چې کوم بې وزله ته پرته له بدل څخه ورکول شي. په معاشونو کښې خو اجره ده. که شتمن ته ورکړل شي بیا هبه ده. هو که غوښه یا څرمن په خپله وخوري او استعمال یې کړي یا یې شتمن ته ورکړي داشرعا جائزدي. د حدیث شریف له نص څخه معلومیږي چې دا د الله ﷻ له لوري میلمستیاده. ښکاره ده چې میلمه ته د خوړلو څښلو اجازه وي خو د پلورلو اجازه ورته نه وي.

د څېرولنډون

د قرباني څرمن تر څرڅولو وړاندې په خپله استعمالولای شوای. شتمنو خلکو ته یې هبه کولای شي او بېوزلو ته یې صدقه کولای شي. خو که یې په هر نیت خرڅ کړې د هغه قیمت صدقه کول واجب دي او مصرف یې هم بوازې بېوزله او مسکینان دي. شتمنو ته ورکول یا د مدرسو د کارکوونکو په معاشونو کښې ورکول یې جائز نه دي. (جواهر الفقه ص۴۵۷ ج۱)

مسجدونو ته د څرمن ورکول

پوښتنه: که د قرباني څرمنې خرڅې شي بیه یې په څه ډول صدقه کښې شمیرل کیږي؟ مصرف یې کوم ځای او د مسجد په ودانولو یا نورو ضروریاتو کښې یې مصرف شرعا جائز دي کنه؟ که دا څرمن د مسجد متولي یا امام ته ورکړي. هغه یې وپلوري او پیسې یې په مسجد ولګوي جائز دي او که جواز نه لري؟

جواب: که د قرباني څرمن خرڅې شي بیه یې شرعا واجب صدقه ده. په هدایه کښې راځي. که د قرباني د څاروی څرمن خرڅه شي قیمت یې د زکات په څېر صدقه کول لازم دي او مصارف یې هم د زکات مصارف دي. دا چې په زکات او نورو صدقو کښې تملیک (مالک درلودل) شرط دی نو په مسجد کښې یې مصرف کول هېڅکله جواز نلري. ځکه مسجد د چا ملکیت نه دي. په درمختار کښې دي چې د مسجد ودانی او د مړي کفن او دفن او نور په تملیک کښې نه راځي. نو پکې نه خرڅیږي. مولانا تهانوی رح وایي ((که څرمن خرڅه کړي د هغې بیه صدقه کول واجب دي د صدقې حقیقت دا دي چې ورکوی یې هغه په ملکیت کښې راځي. داچې دا واجبه صدقه ده نو مصارف یې د زکات په څېر دي)) که د قرباني څرمن د مسجد

متولی یا امام ته ورکړل شي هغه یي خرڅې کړي او پیسې یي په مسجد ولګوي دا هم جواز نلري. ځکه دلته تملیک پکښې نه راځي. د تملیک معنی دا ده چې یو څوک یي څښتن شي او چې څرنګه غواړي هغسې یي مصرف کړي. خو دلته څوک د غسې مالک کېدلای نشي. ورکوونکې یي د دې لپاره ورکوي چې په مسجد کښې یي ولګوه. دا تملیک نه ده بلکه توکیل (وکیل کېدل) دي. قربانۍ کوونکي دا اجازه نلري چې د څرمن قیمت په مسجد کښې ولګوي نو دا اختیار هم نلري چې په دې کار کښې بل څوک وکیل کړي. لنډه دا چې که دقربانۍ د ځاروی څرمن خرڅه شي بیا یي بیه په مسجد یا بل ځای کښې لګول شرعا منع دي. او نه یي بل ته ورکول جواز لري چې په مسجدیي ولګوي. (عزیز الفتاوی ص ۶۱۲ ج ۱)

مسئله: : متولی او مهتمم د څرمنو مالک کرځول مقصود نه بلکه یوازې امین او وکیل دي هغه هم د خرڅولو او مصرف لپاره. (عزیزالفتاوی ص ۷۱۱ ج۱)

د څرمن په بیه کښې حیله کول

که د قربانۍ څرمن خرڅه شي د هغه بیه په فقراؤو او مسکینانو صدقه کول واجب دي. یعنې هغه یي مالک جوړول ضروردي. د څرمنې بیه هم دزکات او نورو واجب صدقاتو په جمله کښې داخل دي. د مسجد په ودانولو، ترمیم کولو، تودولو یا روښانه کولو او لوازم اخیستلو کښې نه مصرفیږي. په فقهي کتابونو کښې دا حیله شته چې هغه لومړي یوه مسکین ته ورکړي هغه یي مالک شي بیا ورته وایې چې اوس یي په مسجد کښې مصرف کړه خو دورکړي په وخت کښې به داشرط وربانده نه ږدي، بلکه وروسته به ورته وایي چې له خپله لوري یي په مسجد کښې

صرف کړه. په همدې حیله سره یې بیا د مسجد په ضروریاتو کښې مصرف کولای شي. (عزیزالفتاوی ص ۷۱۲ ج ۱)

مسئله: که قربانې کوونکې د قربانۍ د څاروی څرمن چاته ورکړي او هغه یې خرڅ کړي بیا یې بیه د معلم په معاش کښې ورکړي یا په مسجد کښې ولګوي جواز لري. خو که یې په خپله قربانې کوونکې وپلوري اوبیا یې پیسې په معاش کښې ورکړي یا یې په مسجد کښې مصرف کړي جواز نلري بلکه هغه به صدقه کوي. (کفایت المفتی ص ۲۲۷ ج ۸)

د قربانۍ د څرمنې عام حکم

د قربانۍ د څرمنې په نسبت حکم دا دي چې یا یې په خپله استعمال کړي مثلا رنګ یې کړي د کور لپاره ګوډي (بوکه) جای نماز. د سترخوان یا بل څه نرې جوړ کړي. یا یې از او بیوزله شخص ته په صدقه کښې ورکړي او یادې خپلوانو او دوستانو ته ورکړي. چاته دي په اجوره او مزدوري کښې نه ورکوي. خو که یې خرڅ کړ بیا به یې بیه د خان او اولاد په نبه نه مصرفوي. نه به یې چا ته د څه شي په بدل کښې ورکوي او نه دي په مسجد کښې لګوي بلکه غریبانو ته به یې په صدقه کښې ورکوي. که داسې ونکړي نو هم دغومره روپۍ دې وربانديې اوزي چې صدقه یې کړي.

(عزیزالفتاوی ص ۷۱۰ ج ۱)

مسئله: د قربانۍ د څرمنې حکم دادې چې دغوښې په څیر یې شتمن ته ورکولای شي د نصاب څښتن شتمن ته هم ورکول کېدلای شي. که شتمن یا ارسري ته ورکړل شي هغه یې بیه په خپله خوښه مصرف کولای شي خو

که په خپله قرباني کوونکې خرڅ کړ بیا به بیه یوازې بې شتو خلکو نه به صدقه کښې ورکوي. شتمن ته ورکړه یې جواز نلري .(فتاوی رحیمیه ص۱۶۸ ج۶)

د څرمنې په اړه مسائل

مسئله : د قرباني د څرمنې بیه د عیدګاه د ترمیم لپاره لګول جائز نه دي. ځکه تر خرڅولو وروسته یې قیمت صدقه کول واجب دي او دا د صدقې د مصرف ځای نه دي د دارالایتام او مدرسې طالبانو ، معذورو خپلوانو یا مسکینانو ته یې ورکولای او وربانديې مصرف کولای شي(کفایت المفتی ص۲۱۹ ج۸)

مسئله : د قرباني د څرمنې بیه په مسجد یا ځاه نه لګول کیږي ځکه هلته ملکیت نه ثابتیږي . چیرې چې ملکیت نشته هلته تصدق نشته یعنې صدقه نه اداء کیږي. (کفایت المفتی ص ۲۲۲ ج۸)

مسئله : که چا څرمن خرڅه کړه بیه یې صدقه کول واجب دي خو بېوزله غیر مسلم ته یې ورکولای شي ځکه دا صدقه نافله ده . (کفایت المفتی ص۲۲۷ ج ۸)

مسئله: د څرمنو بیه د مدرسینو په معاشونو کښې نه ورکول کیږي .خو بېوزله طالبانو (زده کوونکو) د وظیفو په صورت یا د تعلیم د سامان په شکل ورکول کېدلای شي او هغه به د تملیک په صورت ورکول کیږي. په تعمیر کښې لګول یې جائز نه دي. (کفایت المفتی ص۲۲۹ ج۸)

مسئله : فقهاؤو داڅرګنده کړې ده چې تر څو د قرباني د څاروی څرمن خرڅه شوې نه وي . هر چاته یې ورکولا ی شي . د خپل ځان په ګټه یې استعمالولای شي ده جائزدي. خو که یې خرڅه کړې بیا یې بیه صدقه کول واجب دي . او صدقه کول یې د زکات په څېر دي . د زکات مصرف یې

ورکړي مصرف دي .نو د مدرسینو په معاشونو کښې ورکول یې جائز نه دي. خو که مسلمان طالب العلم ته چې د زکات د اخیستلو مستحق وی ورکول کېدلای شي . که هغه خوراک څښاک وي که جامه خو تملیکا ورکول کېږي . (امدادالفتاوی ص ۵۳۶ ج ۳)

مسئله : د قربانۍ د څرمن بیه یوازې د زکات ورکولو مستحقینو ته ورکول کېدلای شي . که قرآن کریم ، یانور درسي لوازم واخیستل شي او بې وزله هلکانو ته یې د تملیک په صورت ورکړي هم جواز لري . په کفن او دفن کښې تملیک نشته نو نه پکښې استعمالیږي. په که کوم بې وزله وارث یا منتظم چې د زکات اخیستلو مستحق وي ورکول کېدلای شي هغه یې بیا په کفن کښې مصرف کولای شي دا پیسې استاذته د معاش به بدل کښې ورکول جائز نه دي خو که د زکات مستحق وو بیا د مرستې په توګه ورکول کېدلای شي. (رحیمیه ص ۱۶۵ ج ۶)

مسئله : ځینې کسان تر قربانۍ کولو وړاندې څرمنې خرڅوي . خو تر ذبح وړاندې د څرمنې خرڅول حرام دي. (زوال السنه ص ۲۴ واغلاط العوام ص ۱۳۷)

مسئله : که دقربانۍ څرمن په څاروی کښې یو شریک ټوله واخلي یعنې د نورو برخې هم واخلي هغه ټوله څرمن استعمالولای شي . (امدادالفتاوی ص ۵۷۵ ج ۳)

مسئله : د اصل حکم په اساس د قربانۍ د څاروی څرمن اوه ټوټې کېدلای شي. خو په ټوټه کولو کښې د هغه بیه کمیږي او د کوم مقصد لپاره چې وي هغه نه پوره کیږي نو د ټوټه کولو په صورت کښې فقراؤو ته زیان دي نو دې نه ټوټه کوي او نه دې ویشي . (کفایت المفتی ص ۲۲۲ ج ۸)

مسئله: د قرباني له پوست څخه په خپله ګټه اخستلای شي یا یې چاته ورکولای شي که هغه شتمن وي که بې وسه. که هاشمي وي. که خپل وي که پردی تولو ته د قرباني دڅرمنې ورکول جائز دي. تملیک پکښې شرط نه دي. خو که یي په خپله ګټه ترې نه اخیستله بل ته یي نه هبه (بخشش کړ او نه صدقه بلکه خرڅه یي کړه. بیایي قیمت صدقه کول واجب دي. اوس یي د قیمت حکم دزکات دي. تملیک پکښې لازم دي خپلوانو (فروع او اصول -اولاد او پلار) هاشمیانو او شتمن ته یي ورکول جواز نلري. د مسجد د ملاامام حق ګڼل بالکل غلطه خبره ده. دهېڅا لازمي حق نه دي که یي د امامت په اجرت کښې ورته څرمن یا یي بیه ورکړه جواز نلري. که امام اړاو مسکین وي تبرعا دي ورکړل شي. که هغه شتمن وو یا یي هغه پوست خپل حق باله یا د امامت اجوره وبلله شوداو غوښت یي په دې صورتونو کښې یي ورکول جائز نه دي.

مسئله: که څرمن شتمن یا فقیر ته ورکړل شي جائز دي خو که څرمن یي خرڅه کړه بیایي بیه صدقه کول واجب دي. څرمن یا یي بیه امام یا مؤذن ته ورکول جائز نه دي او دقرباني دڅرمني په پیسو د مسجدلپاره چراغ ،فرش یاپه تعمیر کي استعمال هم نه دی روا. (کفایة المفتی ص۲۲۸ج۸)

مسئله: دقرباني څرمن شتمن ته هم هدیه (بې پیسو) ورکول کېدلای شي. د هغه صدقه کول واجب نه دي دغوښې په څېر یي صدقه کول مستحب دي خو که خرڅ کړای شي قیمت یي صدقه کول واجب دي. او هغه هم یوازې د زکات مستحقینوته ورکول کېدلای شي.

(فتاوی رحیمیه ص۱۸۰ج۶د درمختار په حواله ۲۸۷مځ جلد۵)

مسئله : د قرباني د څرمنې (تر خرڅولو وروسته) قیمت په خپله کنه استعمالول جواز نلري که یې هغه بیه په خپله مصرف کړه د هغه بدل صدقه کول واجب دي کنه د قرباني په ثواب کښې نیمګړتیا ده. (کفایت المفتی ص۲۲۹ج۵)

د څرمنو له پیسو څخه د عاید سرچینه جوړول

پوښتنه : که د قرباني پیسې له یوې ډلې سره جمع وي. له هغوی څخه له بې وزلو خلکو او زده کوونکو سره مرسته کوي له ناروغانو سره مرسته کوي. خو اوس اراده لري چې هغه پیسې د عواندو مستقله منبع جوړه کړي او هغه عوائد بیا بېوزلو او اړو خلکو ته ورکړي نو د څرمنو په قیمتونو د همدې مقصد لپاره ودانۍ دوکان یا بل څه جوړولای شي ؟

جواب : د قرباني څرمنې کومې ډلې او ټولنې ته هدیه کېدلای نشي بلکه یوازې د وکالت په توګه ورکول کېدلای شي . دا قیمت مستحقینو ته تملیکا ورکول پکښې راشي کراهیت لري. بېوزلو ته قرآن کریم او کتابونه وربانديرانیولې شي. د بېوزلو مرسته وربانديکولای شي خو د هغه قیمت د عواندو مدرک جوړولای نشي . چېرې چې یې مصرف نه وي او استعمال شي همدا ډله ګنهګاریږي . (فتاوی رحیمیه ص۱۶۷ج۲)

څرمن په غوښه بدلول

پوښتنه : دقرباني دخاروی څرمن قصاب ته ورکوي د څرمنې په بدل کښې غوښه اخلي هغه په خپله خوري یا یې په نورو خوري د دې حکم څرنګه دی ؟

جواب : په کومو ښارونو کښې چې د څرمنو خرڅول رواج وي . بیع یې صحیح ده خو هغه غوښه چې په بدل کښې یې اخلي د هغې خیرات کول

واجب دي. که هغه غوښه په خپله وخوري يا يي شتمنو ته ورکړي نو هغه اندازه صدقه کول پرې واجب دي. (امدادالفتاوی ص ۵۶۴ ج ۲)

که د څرمنې بيه غلاشي

فی الدرالمختار و للمودع حفظها بنفسه وعياله وهم من يسكن بيعه حقيقة او حكما ، د دې روايت په اساس که له چا څخه د قرباني د څرمنې بيه غلاشوه ورباندې تاوان يي نشته. دا تاوان او ضمان په غله دي هغه سړی چې همدا پيسې ورسره وي له خپل قدرت سره سم دې هڅه وکړي چې له غلاکوونکي څخه يي ترلاسه کړي او دا هم ضروري ده چې د کوم خلکو چې همدا پيسې يي ضائع شوې دي هغوی ته خبر ورکړي څکه په هغوی باندې همدغومره پيسې صدقه کول واجب دي . هغه خلک به يي مسکينانو ته ورکوي. دا په هغه صورت کښې چې د غلاپيسې بېرته ترلاسه نشي. (امدادالفتاوی ص ۶۱۰ ج ۲)

د فطر دصدقې (سرسايې) مسائل

د اختر ورځ خورا مبارکه او د خدای ﷻ د ميلمستيا ورځ ده. په دې ورځ موږ ټول د خدای ﷻ ميلمانه يو څکه هم په دې ورځ روژه نيول حرام ده. خدای ﷻ هغه د ميلمستيا ورځ ګرځولې ده د خوړلو څښلو حکم يي کړی دي او روژه نيول د خدای ﷻ د ميلمستيا ردول دي . دا دمسلمانانو د خوشحالي ورځ ده زموږ د خوشحالي په ورځ کښې ساز اواز اتڼ او رقص نشته چا ته تکليف ورکول او د چا ستاينه پکښې نشته بلکه څه چې الله ﷻ مسلمانانو ته ورکړي دي په هغوی د نورو اړوخلکو اړتياوې پوره کوي.

مسلمان شتمن په خپل کورکې داخوندورخواړه ترهغونه خوری ترڅودګاونډی په کورکې خواړه ونه ويني دابه دهغه څه اختروی چې په دی ورځ هم دهغه همسايه وږې وی ، دميرمنوبه نی څه خوشحالی وی چې دبې شتوميرمنوپه جاموکې درې درې پينې وی.

مسلمان دا کتلای نشي چې په خپله او اولاد يي ښه خواړه خوري او ښه لباس اغوندي خو ګاونډی يي په داسې ورځ لاهم وږی وي. نه ترهغوی چې ګاونډي ته يي ورکړې نه وي په خپله نه خوري مسلمانان دومره کم همته نه دي چې د ګاونډي په جامويي پيوندونه وي او د اختر لمانځه ته تلای نشي خو دي ترتولو غوره جامه اغوندي. دبې وزله زامن اوماشومان چې د شتمنو د ماشومانو جامې او پيسې ويني هغوی يي هم له مور اوپلار څخه غواړي هغوي يي هم په بهانو او وعدو له ځانه ليري کوي. داسې منظره الله ﷻ ته خوښه نه ده له همدې امله يي په خپلو شتمنو بندګانو لازمه کړې ده ترڅو دغريبو د ماشومانو اوښکې پاکې کړي په صدقه اوقرباني يي د اختر په خوشحاليو کښې شريک کړي . د دې همدردۍ او د بېوزلو د خوشحالولو يوه لاره اويونوم صدقة الفطر (سرسايه) ده. د فطر صدقه هغه وړه برخه ده چې که د غومره مرسته هم نه واي. په شتمنو به د خدای ﷻ قهر شوی وو اوګټوټول برکتونه به يی ټول ختم شوی وو ،هغوئ چې دفطرترصدقه زياتې پيسې لګوی خودکوم غريب بی وزله ديوې ورځې دژراپروانه کوی غيورخدای ﷻ به دداسې بې غيرته شتمن دکلونوژوندسور کری اوداچې دابنده په خوشاليوکې تورنه شريکوی نوعالم اوبصيرخدای ﷻبه په تکليفونواوغمونوکې دواړه (شتمن اوبې شتو) سره شريک کری .(رمضان کیاهی ص۱۷۵)

د فطر د صدقې شرطونه

د فطر صدقه (سرسایه) واجب ده. فرض نه ده. د واجب والي لپاره يې درې شرطونه دي.

۱- ازادي چې غلام نه وي.

۲- مسلمان.

۳- هغه چې د مال د نصاب مالک وي او له اصلي ضرورتونو څخه فارغ وي له قرض څخه خلاص وي. دهغه په مال د يوه کال تېروالی شرط نه دي. نه دا شرط دي چې مال به يې د تجارت وي. بلوغ او عقل ورته شرط نه دي. په نابالغو ماشومانو او لېونيانو د فطر صدقه واجب ده د هغوی اوليا به يې د هغوی په ځای ورکوي. که يې خپلوانونه ورکوله او ماشوم لوی شو يا مجنون روغ شو د همدې وخت سرسايه به ورکوي د فطر د صدقې حکم رسول الله (ص) هغه کال ورکړی دي. په کوم کال چې روژه فرض شوې وه. د فطر په صدقه کښې مصلحت دا ښکاري چې دا د خوشحالی ورځ ده او په دې ورځ کښې د اسلام شان او شوکت د خلکو په ګڼه ګونه او د جمعيت په کثرت کښې ليدل کيږي او د صدقې په ورکړه همدا مقصد ښه پوره کېدلای شي. سربېره په هغه په دې کښې د روژې بشپړتياده. د صدقې په ورکړه روژه د قبول مورد ګرځي. دا صدقه د الله ﷻ د هغه ستر احسان د شکر ادا، هم ده چې موږ يې په داسې مياشت مشرف کړي يو او په هغې کښې يې د روژه نيولو توفيق راکړي دي. (علم الفقه ص ۱۵-۵۰ ج ۴)

د فطر صدقه په هغه چا واجب ده چې دنصاب خښتن وي يعنې ۵۲ تولې سپين او د نيمې ـ لې سره زر ولري. (فتاوی دارالعلوم ج ۶ ص ۳۲۶ درمختار ج ۳ ص ۹۹.

اصلي ضروريات څه شي دي؟

که چا کور درلود که يي خرڅ کړي زر پينځه سوه روپۍ کيږي .نبې جامې يي درلودې خو سره او سپين زر يي نه وو . د خدمت لپاره خادمان وو . د زر پينځه سوو ضروري سامان ورسره وو خو ګينه نه وه او دا سامان يي تول د کارو يا څه زيات وو نو که دسرو يا سپينو زرو څه حصه ورسره وه خو دومره نه چې زکات ورباندې لازم وو . په داسې چاباندې د فطر صدقه واجب نه ده . (بهشتي زيور درېيمه برخه ص ۳۴ په حواله دنور الايضاح ۱۶۱مخ)

او که له چاسره تر ضروري سامان زيات سامان وو خو دي پوروړی وو . د پور اټکل دې وکړي که دومره سامان تر پور زيات وو چې په قيمت يي زکات لازمېده نو د فطر صدقه ورباندې واجب ده او که تر هغه کم وو واجب نه ده . (بهشتي زيور درېيمه برخه ص ۳۴ په حواله دهدايه ج ا ص ۱۸۹)

خالي کور په اصليه ضرورياتو کښې داخل دي ؟

که چا دوه کورونه درلودل په يوه کښې په خپله اوسېده اوبل خالي وو يا يي په کرايه ورکړې وو نو دوهم کور له ضرورت څخه زيات دي . که يي قيمت دومره وو چې زکات ورباندې واجب کېده د فطر صدقه هم ورباندې واجب ده . او داسې سړی ته د زکات پيسې ورکول هم صحيح نه دي خو که د کور مالک بل کوم اقتصادي مدرک نه درلود نو دا کور هم په اصلي ضرورياتو کښې شامل دي . صدقه ورباندې نشته او زکات ورکول ورته صحيح دي لنډه دا شوه . که چاته دزکات يا دفطر د صدقې پيسې اخيستل صحيح وي په هغه باندې د فطر صدقه نشته . چاته چې زکات او دفطر صدقه اخيستل جواز نلري په هغه باندې د فطر صدقه واجب ده.

(بهشتي زيور درېيمه برخه ص ۳۵ د خانيه فتاوي په حواله ج ا ص ۲۲۶)

که په چا زکات فرض وو صدقه فطر هم ورباندې واجب ده. فرق دا دې چې د زکات په نصاب کښې سره یا سپین زر یا د تجارت مال درلودل ضروري دي. خو د صدقې په نصاب کښې یوازې دا درې شیان نه دي بلکه په دې نصاب کښې هر ډول مال راتلای شي. خو دا خبره په دواړو کښې شرط ده چې دا شیان به یې له ورځنې ضرورت څخه زیات وي او پوروړې به نه وي. که له چاسره د اغوستلوله جاموسره نورې جامې هم وې یا دورځني استعمال له لوښو سره نور لوښي هم وو یا کوم خالي کور هم وو یا بل څه زیات سامان وو او د ټولو قیمت نصاب پوره کاوو یا ترې ډېروو نو زکات ورباندې فرض نه دې خو صدقه ورباندې واجب ده. او د صدقې په نصاب د کال تېرېدل هم شرط نه دي. که یوازې په هغې ورځ د مال څښتن وو هم صدقه ورباندې واجب ده. (رمضان کیاهی. ص ۱۷۷)

څوک چې د نصاب مالک نه وي

رسول الله (ص) فرمایي: ((شتمن دې هم صدقه ورکړي او فقیر هم)) بیا د دواړو په هکله فرمایي: ((الله ﷻ به دا شتمن د فطر د صدقې په ورکړه پاک کړي اوبې شتو (هغه چې د نصاب مالک نه وي) ته به الله تردې زیات څه ورکړي چې ده په صدقه کښې ورکړي دي)) که څه هم دا بشارت د شتمن کس لپاره هم ده چې د صدقې په ورکړه به الله ﷻ په مال کښې یې برکت واچوي خو دا زیری د بې شتو شخص لپاره ځانګړی دي تر څو یې همت زیات شي او د فطر صدقه اداء کړي. (مظاهر حق جدید درېیمه برخه ج ۲ ص ۵۸)

د فطر صدقه څه وخت واجبېږي؟

د فطر صدقه د عید الفطر دورځې له سهار سره واجبېږي نو که څوک د هغې ورځې تر سهار (طلوع فجر) وړاندې وفات یا فقیر شي صدقه

وراندې واجب نه ده. که چاد هغې ورځې ترسهار وروسته اسلام ومانه یا شمن شو صدقه ورباندې نشته که تر سهار وراندې ماشوم وزیږید یا تر سهار وراندې چا اسلام ومانه یایي مال وموند صدقه وراندې واجب ده.
(علم الفقه څلورمه برخه ص ۵۱)

داختر په ورځ چې سهار شي دا صدقه واجبيږي. که څوک تر سهار وراندې ومري ورباندې صدقه واجب نه ده. د هغه له مال او شتمني څخه دې نه ورکوي. (بهشتي زيور دريمه برخه ص ۳۵ دعالمگيري په حواله ج ۱ ص ۱۹۲)

پوښتنه: د فطر د صدقې (سرسايې) دورکولو وخت څه مهال دي ؟ که چا د رمضان تر مياشت وراندې مثلا په شعبان يا رجب کښې ورکړه جواز لري ؟

جواب: دا اختلافي مسئله ده. تر رمضان وراندې د صدقې ورکول د احتياط خبره نه ده د رمضان په مياشت کښې يې ورکول هم اختلافي خبره ده. خو قوي خبره داده چې په رمضان کښې ورکوله کېدلای شي.

(فتاوی رحيميه ج ۵ ص ۱۷۶ د بحر الرائق په حواله ص ۲۵۵)

د فطر د صدقې ورکړه په رمضان کښې صحيح ده.دا فرق نلري چې په کومه عشره (لسيزه) کښې وي .(فتاوی دار العلوم ج ۶ ص ۳۰۵)

سرسايه د چا او چا له لوري ورکول واجب ده ؟

د فطر صدقه دځان له لوری ، د نابالغ اولاد له لوری ، د بالغ اولاد که هغه بې شتو وي د خدمت کوونکي غلام يا مينځې له لوری ورکول واجب ده. که څه هم غلام او مينځه کافر وی. نابالغ اولاد که شتمن وي د هغوي له مال څخه دې صدقه ورکړي. که شتمن نه وي له خپلې شتمنی څخه دې اداء

کړي. بالغ اولاد که شتمن وي په پلاريي د صدقې ورکړه واجب نه ده خو که
استحسانا يي ورکړه جواز لري. او بيا په هغه اولاد نشته. که بالغ اولاد
شتمن وو خو لېونی وو د هغه له مال څخه يي د صدقې ورکړه واجب ده.
غلام او مينځه که د خدمت لپاره نه وو بلکه د تجارت لپاره وو د فطر
صدقه يي واجب نه ده. که پلار وفات شي نيکه د پلار په حکم کښې دي.
يعني که لمسی شتمن وي نو له خپله ماله او که نه د هغه له مال څخه يي
صدقه ورکول واجب ده. (علم الفقه ج ۳ ص ۵۲) د دارالعلوم په حواله ج ۲
ص ۳۲۴ کښې د عالمګيري په حواله ليکي: ((مېرمن که شتمنه وه د فطر
صدقه ورباندې واجب ده. که يي مېړه اداء کړي اداء کيږي. په پلاريي د
صدقې اداء نشته.))

په سرسايه کښې د اجازې ضرورت شته؟

پوښتنه: لکه چې د بل چا زکات د هغه له اجازې پرته نه ورکول کيږي د
سرسايي حکم هم همداسې دي او که فرق لري؟

جواب: هو دا د سرسايي حکم هم دي. اجازه ضروري ده. خو دا چې د
صدقې اندازه کمه ده نو د مېرمنې او اولاد له لوري چې د ده عيال (په
کفالت کښې) دي اداء کيږي او عادتا اجازه وي نو جواز لري خو د زکات
مقدار معلوم نه وي زيات وي او پرته له اجازې عادت نه وي نو ځکه اجازه
او وکالت يي ضروري دي. (فتاوی رحيميه ج ۵ ص ۱۷۲ د شامی په حواله ج ۱ ص ۱۰۲)

د هغه چا حکم چې روژه نه نیسي

په هغه چا چې له څه وجهې یې د رمضان روژه نیولې نه وي په هغه هم د فطر صدقه واجب ده. او چا چې روژې نیولې وي په هغوی هم واجب ده کوم فرق نلري. (مادبهشتی زیور ج۳ ص۳۵. عالمگیری ج۱ ص۱۹۲ او فتاوی رحیمیه ج۳ ص۱۱۴)

خبره ده چې. څوک چې روژه و نه نیسي په هغه هم د فطر صدقه واجب ده که یې نه وي ورکړې اوس دې ورکړي. ترڅو یې پرې نکړي غاړه یې نه خلاصیږي

دوړ کړل شوی لور سرسایه په چا واجب ده .؟

پوښتنه : نجلۍ کوزده شوې ده. خو د مور او پلار په کور کښې ده. نابالغه ده د هغې سرسایه په چا واجب ده. په مور او پلار که په خسر خیلو ؟

جواب : که هغه نجلۍ شتمنه وي خو د هغې په مال صدقه واجبه ده که بالغه وي او که نه وي. که شتمنه نه وه او بالغه وه صدقه یې په چ واجب نه ده. که شتمنه نه وه او واده شوې لا نه وه نو صدقه یې په پلار واجبه ده او که واده شوې وه د پلار په ذمه نشته. (امدادالفتاوی جدید ج۲ ص۸۰)

که د مال تر ویش وروسته څوک د نصاب خاوند نه وو.

پوښتنه : څلور وروڼه وو. سره بېل شول د یوه برخه هم نصاب ته نه رسېدله ایا قرباني یا صدقه ورباندې واجب ده؟

جواب : دا چې د یوه برخه هم دنصاب کچې ته نه رسیږي په یوه هم د فطر صدقه نشته او نه وربانديې قرباني واجب ده .(فتاوی دارالعلوم ج ۶ ص ۳۰۸ د ردالمحتار په حواله باب صدقة الفطرج۲ص۹۹)

د هغوزامنو دسرسايي حكم چې خپله ګټه پلار ته ورکوي

پوښتنه : د يوه سړي دوه زامن دي. چې څه ګټي هغه خپل پلار ته ورکوي. له زامنو سره څه شي نه وي. په دې صورت کښې په هغوی زکات ، قربانۍ يا صدقه لازم دي او کنه ؟

جواب : په هغوی زکات . قرباني او صدقه لازم دي.

(فتاوی دارالعلوم ج۶ص ۳۱۱ د ردالمحتار په حواله ج۲ص۹۹)

ایا د نصاب مالک ماشوم به تربلوغ وروسته سرسايه ورکوي ؟

پوښتنه : که کوم ماشوم د نصاب خاوندوو او ولي يې صدقه نه ورکوله. که دا ماشوم بالغ شو بیا به د تېروخت سرسايه ادا،کوي ؟

جواب هو کله چې هغه بالغ شو د فطر صدقه به ورکوي . که ماشوم د نصاب څښتن نه وو خو پلار يې وو او پلار يې سرسایه نه ورکوله نو کله چې ماشوم بالغ شو همدا پاته سرسايه ورکول وربانديې واجب نه دي.

(امدادالفتاوی ۷۸۲)

كه چا د ټولو سرسايه ورکولای نه شوای

که له چا سره دومره غله دانه موجوده وه چې د څينو کسانو صدقه يې ورکولای شوای او د نورو يې ورکولای نه شوای. د هغو صدقه دې لومړی

ورکړي چې د نفقې تاکید یې ډېر شوی دی.. رسول الله (ص) د اولاد نفقه تر مېرمنې او د مېرمنې نفقه تر خادم وړاندې ښودلې ده په مسلمان شخص باندې د هغه د مېرمنې ، اولاد ، مریيانو او هغوخپلوانو صدقه ورکول واجب ده کوم چې نفقه یې په ده وي. لکه پلار ، نیکه ، مور انااو نور.

(احیاء العلوم ابرخه ص۵۲۷ په حواله دابوداؤد شریف)

صدقه د اختر په تېرېدلو نه معاف کېږي

که چا د اختر په روځ سرسایه ورنکړه. نه وزځخه ساقطېږي هغه دې تر اختر وروسته ورکړي. (بهشتی زیور دریمه برخه ص ۲۵ د هدایه په حواله ص۱۹۱ج۱)

د سرسایي اندازه

د فطر په صدقه کښې غنم یا د غنمو اوړه ورکول کېږي چې اندازه یې پاوکم دوه کیلو ګرامه (یوکلو او ۲۳۳ ګرامه) ده. که پوره دوه کیلو ورکړه شي احتیاط به شوی وي اوپه زیاته ورکړه کښې څه حرج نشته بلکه بهتره ده. خو که اوربشې یا یې اوړه ورکول اندازه به یې د غنمو دوه ګونه وي. که یې نور حبوبات لکه چنې یا وریځې ورکولې ، دومره دې ورکوي

چې بیه یې د غنمو له دې اندازې سره برابره شي. یعنې د پاوکم دوه کیلو د غنمو له قیمت سره برابر وي. (دا اندازه دکابل دورن په حساب خورد کم یو چارک ده) (بهشتی زیور دریمه برخه ص ۲۵ دعالمګیری په حواله ص۱۹۲ج۲)

ایا دوریجو په ورکړه صدقه اداء کیږي ؟

پوښتنه : ځینې ځایونه عام خواړه وریجې وي ایا هغوی د پاوکم دوه سیره (پاوکم دوه کیلو - خورد کم یوچارک) وریجو په ورکړه د صدقې له وجوب څخه خلاصیږي؟.

جواب : په درمختار کښې راځي. که څوک د فطر په صدقه کښې ورځې ورکړي نو د هغوی وزن او پیمانه معتبره نه ده. بلکه هغه وریځې به دومره اندازه وي چې قیمت یي د نصف صاع (نیمه پیمانه پاوکم دوه کیلو) د غنمو له قیمت سره برابر وي. بیا صدقه اداءکیږي که د اوربشو له یوې پیمانې (د غنموله دوه ګونه) بیې سره برابر وي هم صحیح ده. خو که تردې بي قیمت کم وو صدقه نه اداء کیږي. (امدادالفتاوی ج ۱ ص ۱۵۶)
د فطر په صدقه کښې که غنم یا د غنمو اوړه چې پاو کم دوه کیلو ګرامه کیږي ورکړي یا یي بیه ورکړي صحیح کیږي خو که د غنمو په ځای بل شي مثلا وریځې ورکړي هغه به دومره وي چې قیمت یي د غنمو له یادشوي تعداد له قیمت سره برابر وي. که اوربشې یا یي اوړه ورکوي هغه به د غنمو دوه ګونه وي. د هندیه فتاوا اوکفایت المفتی خبره ده چې په غیر منصوص شیانو که به دومره څه ورکوي چې د غنموله نصف صاع (نیمه پیمانه پاوکم یوچارک پاوکم دوه کیلو ګرامه) له قیمت سره مساوي وی.

د فطر په صدقه کښې اوړه یا یي بیه ورکول

سوال : ځینې ځایونه غنمو نه اوړه کوي بلکه له بهر څخه تیار میده شوي راځي هغه له غنمو سره په قیمت کې فرق لري. د فطر صدقه به د غنمو په قیمت ورکوله کیږي او که د همدې اوړو ؟

جواب : که اوړه د خالص غنمو وو او بل څه ورسره ګډ نه وو او پاوکم دوه کیلو ورکړل شول صدقه اداءکیږي خو که په دې اوړو کښې بل څه ګډ شوي

رو په دې اندازه د فطرصدقه نه صحیح کیږي او قیمت یې هم د صدقې لپاره کافي نه دي. د خالصو غنمو په قیمت دې سرسایه ورکوله کیږي.
(فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۷۷ د هدایه په حواله ج۱ ص۱۹۰)

که مختلفې غلې دانې استعمالېدلې

د فطر صدقه له هغې غلې ورکوله کیږي چې هغه خلک استعمالوي. که چا د غنمو ډوډۍ خوړله او په صدقه کښې یې اوربشې ورکولې دا نه صحیح کیږي. که یې ډول ، ډول غله استعمالوله د فطر صدقه دې له هغې غلې دانې ورکوله کیږي چې په نورو کې غوره وي. که معموله غله ورکړي هم صدقه اداء کیږي. (احیاء العلوم ج۱ ص ۵۲۶ دابوداؤد په حواله)

د فطر په صدقه کښې کنترول شوی قیمت اعتبار لري ؟

د فطر په صدقه کښې اصل دا دي چې د غنمو او نورو دانو غله ورکړي که اعلی ډول وي که اوسط او که ادنی صدقه اداء کیږي که یې قیمت ورکاوو هم بازاری قیمت دې ورکوي. دا لازمه نه ده چې د اعلی ډول غنمو بیه دې وي. د منځني او ادنی حد غنمو قیمت هم ورکول کېدلای شي. خو قیمت به د بازار قیمت وي نه د کنترول شوي (راشن ، ځیره ، کوپون ،) غلې قیمت. که یې فقیر ته د حکومتي کنترول شوې قیمت په اندازه پیسې ورکړې هغه په دغومره پیسو په بازار کښې هغومره غنم اخیستلای نشوای. که همدا د کنترول شوې قیمت غنم اخلي هغه کارت غواړي او کارت هر بې وزله ته نه رسیږي. که د غنمو په ځای نوره غله مثلا باجره یا وریجې ورکوي په هغوی کښې د غنمو قیمت اعتبار لري یعنې څومره قیمت چې د پاوکم دوو کیلو غنمو وي د هغه په اندازه به بل څه په صدقه کې ورکول کیږي. (فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۷۲)

که د اوړو بیه ترغنمو کمه وه لکه اوس چې حکومتي اوړه ارزانه دي بیا دې د پاوکم دوو کیلو غنمو بیه د فطر په صدقه کښې ورکړل شي. یا دغومره اوړه ورکړل شي چې د همدې اندازې غنمو بیه پوره کوي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۴۸۵)

د کوم ځای قیمت اعتبار لري؟

پوښتنه: که په کوم ځای کښې غنم نه کرل کېدل. پیرل او پلورل یې هم نه وو خو په ځینو کورونو کې اوړه وو خو بیه یې خورا لوړه وه. نو د فطر صدقه به د اوړو په بیه ورکول کیږي او که به د غنمو بیه له بل هېواد څخه معلوموي.

جواب: که غنم یا اوړه هر یو په سرسایه کښې ورکړل شي صحیح دي خو ترغنمو اوړه ښه دي او تراوړو یې بیه غوره ده. له کوم نږدې ځای څخه چې د غنمو او اوړو بیه معلومیږي له هغه ځایه دې نرخ ولګوي. او د رمضان د میاشتې د غنمو نرخ د اعتبار وړ دی داچې هلته اوړه ډیر خرڅیږي نو دې اوړه یا بیه ورکوی که څه هم ترغنمو ګرانه تمامیږي په هندوستان کې دغنمو نرخ معلوم ول او قیمت نی ورکول کافی نه دی (دنږدې ځای بیه اعتبار لري) ... (فتاوی محمودیه ص ۲۷۱ ج ۷)

د فطر په صدقه کښې د ښار یا ولایت د قیمتونو اعتبار

پوښتنه: که په کوم ځای کښې غنم نه موندل کېدل خو اوړه ډېر وو او په ښار کښې د غنمو بیه کمه وه، د ښار په بیه د فطر صدقه ورکول څرنګه ده؟

جواب: د خپل کلي او ښار ګوتي په حساب دې د فطر صدقه ورکړل شي. که هلته غنم نه موندل کېدل د اوړو د قیمت په حساب دې ورکړي یا دې د اوربشو او جوارو د یوې پیمانې حساب ورکړ ... دا که کوم منصوص (په

دیشونو کښې یادشوي) جنس هلته موندل کېږ د هغه بیه دې په صد قه الفطر کښې ورکړل شي . (فتاوادارالعلوم ج ۶ ص ۳۲۲ د ردالمحتار په حواله باب صدقة الفطرج ا ص ۱۰۳)

تر ټولو غوره سر سايه

کهٔ د غنمو يا اوربشو بيه ورکړل شي دا تر ټولو غورد ده . (عالمگیری ج ا ص ۱۹۳)
که د ارزانۍ وخت وو پيسې ورکول غوره دي او که خدای مکړه د ګرانۍ وخت وو بيا د خوړلو شيان ورکول غوره دي . د علم الفقه په حاشيه کښې ليکي : ((زماپه نزد دا مناسب دي چې شتمن خلک هغه ګرانه شيان په صدقه کښې ورکړي يا يي قيمت ورکړي ځکه رسول الله (ص) فرمايي : ((اذاوسع الله فوسعوا)) (چې الله ﷻ درته زيات څه درکړي تاسو هم زيات ورکړي . (علم الفقه ج ۴ ص ۵۳)

د بهر ميشتو د فطر صدقه

پوښتنه : په نورو هېوادو کښې هستوګن خپلو دوستانو او خپلوانوته احوال راستوي چې زماله لوري دومره . سرسايه ورکړه . احتياطا څلور کيلو غنم يا د هغوی بيه ورکړه . دا معلومول مطلوب دي چې د کوم ځای په بيه سرسايه ورکړي . د دې ځای که د هغه هېواد په قيمت ؟

جواب : د هغه صدقه دې له نيم غنمو پاوکم دوه کيلوګرامه ورکړل شي . که دلته د غنمو بيه زياته وه د دې ځای په بيه دې ورکړي او که هلته زياته وه د هغه ځای په بيه دې صدقه ورکړي . يعنې په داسې بيه دې صدقه ورکړي چې د بې وزلو او فقراؤو پکښې ګټه وي . (فتاوی رحیمیه ج ۳ ص ۱۱۳)

د رسول الله (ص) په زمانه کښې يي د فطر صدقه څه وخت ورکوله

پوښتنه : د رسول الله (ص) په زمانه کې به يي سرسايه د اختر تر لمانځه وړاندې ورکوله او که وروسته . يا به يي ترڅو ورځو پورې ځای ساتله او بيا به

بې اړوخلکو ته ورکوله ؟زموږ له یوه مشره سره د فطر صدقه تو له شوې او
پرته وي کله چې یې خوښه شي بیا یې په اړو کسانو ویشي دا کار څرنګه دي ؟
جواب : په درمختارکښې لیکي : تر لمانځه وړاندې صدقه ورکول
مستحب دی.د رسول الله (ص) له حکم اوفعل سره موافق دي. لکه څرنګه
چې په مشکوة شریف کښې له عبدالله ابن عمر (رض) څخه روایت دي.
((رسول الله (ص) به د اختر لمانځه ته ترتللو وړاندې د فطر د صدقې د
ورکولو امرکاوو.)) نوکوم عمل چې ستاسو د مشر دي هغه د سنت خلاف
دي او اصل نلري. (فتاوی دارالعلوم ج۶ ص ۳۰۲ د مشکوة په حواله باب صدقة الفطر فصل اول ص ۱۶۰)

که چا د اختر تر ورځې وړاندې د فطر صدقه ورنکړه د اختر په ورځ دې تر
لمانځه وړاندې ورکوي چې دا مستحب دي .(علم الفقه څلورمه برخه ص ۵۴)

ایا سیدته د فطر صدقه ورکول کېدلای شي

فتوی په دې مذهب ده چې په دې زمانه کښې هم ساداتوته زکات او واجب
صدقات لکه د قرباني څرمن یا د فطر صدقه نه ورکول کیږي ، ورکول یې حرام
دي. که ورکړله شي زکات او نور نه اداء کیږي. (فتاوی رحیمیه ج۵ص۱۶۹او۱۷۰)
صحیح خبره ده چې سیدته د زکات او عشر پیسې یا غله دانه ورکول
صحیح نه دي. که کوم تدبیر (حیله) وکړي څه ستونزه نشته. هغه داسې
چې زکات یو فقیر ته ورکړل شي او هغه تول یا څه سید ته ورکړی جائز دي.
(د کفایت المفتی په حواله ص ۲۷۲)

د فطر د صدقې د وېشلو طریقه

که یو شخص خپله ټوله صدقه یوه فقیر ته ورکړي او یا یې لږ لږ څو فقیرانو
ته ورکړي. دواړه صورتونه صحیح دي . که د څوتنو صدقه یو فقیر ته
ورکړل شي دا هم جائزدي خو دا به ددومره کسانو نه وي چې یوځای شي او

دزكات يا صدقې نصاب ترې جوړشي دومره اندازه يوشخص ته وركول مكروه دي . د فطر دصدقې مستحق هغه كسان دي څوک چې دزكات اخيستلو مستحق دي . غير مسلم ته د صدقې وركول صحيح دي خو د زكات وركول جواز نلري .(دهنديه ج ا ص ۱۹۱ په حواله درېيمه برخه ص ۳۶ بهشتي زيور).

د فطر د صدقې په پيسو مدرسې ته د ځمکې اخيستل

پوښتنه : كه له مسجد سره د ديني زده كړې مدرسه وه خو د پيسو د كمي له امله يې انتظام نه وو خو د صدقة الفطر پيسې ورسره پرتې وې .ايا په دې پيسو د مدرسې لپاره ځمكه اخيستل كېدلاى شي ؟

جواب : د فطر د صدقې حكم دادې چې د اختر په ورځ دې تر لمانځه وړاندې اداء كړي يا دې تر اختر وړاندې وركړي. كه چا اداء نه كړه ژر تر ژره دې چاته وركړي . نه ساقط كيږي او نه معاف كيږي له دې حكم سره سره چې له دې خلكو سره د صدقې پيسې پاته دي تعجب اودافسوس وړ خبره ده. كه دا كسان د مدرسې دجوړولو وس نلري يا يې دبيا هيله هم نه وي يو شرعي تدبير (حيله) دې ورته وسنجوي . پرته له شرعي عذر څخه دې په دې پيسو د مدرسې لپاره ځمكه نه اخلي . د فطر د صدقې (سرسايي) اصل حقدار فقرأ او مساكين دي . د هغوى حق ضائع كيږي (فتاوى رحيميه ج ۵ ص ۱۷۸)

صدقه په پور كښې مجرا كول

پوښتنه : د يو شخص په بل باندې دې هغه مقروض مفلس او بې شتو دى كه هغه شخص په دې پور كې صدقه ورته مجرا كړي. ايا صدقه صحيح كيږي ؟

جواب : په دې ډول صدقه نه اداء كيږي . پرته له لاس ته راوړلو په قرض كښې زكات او سرسايه نه مجرا كيږي. په قرض كښې بېرته وركول كېدلاى شي خو د صدقې وركړه ضرورده.

(فتاوى دار العلوم ج ۶ ص ۳۰۲ د ردالمحتار ج اباب المصرف ص ۸۵ وكتاب الزكوة ج ۲ ص ۱۶) په حواله)

د مسجد امام ته صدقه ورکول

پوښتنه: د مسجد امام ته د فطر صدقه ورکول جواز لري او کنه ؟

جواب: د امامت له وجې ورته صدقه ورکول جواز نلري.
(فتاوى دارالعلوم ص ۳۲۸ ج ۶)

صدقه ورکول هغه ته چې خلک سحری (پیشلمي) ته رابیداروي
د صدقې ورکول هغه چاته صحیح دي چې خلک سحری ته رابیداروي. خو غوره داده چې هغه ورته اجوره ونه شمیري. لومړی دې ورته نور څه ورکړي او بیا دې د صدقې مال ورکړي. (علم الفقه ځلورمه برخه ص ۵۴)

نابالغ ماشومان چې یتیمان یا بې وزله وي خو بالغ نه دي که څوک ورته صدقة الفطر ورکړي. صدقه یې اداء کیږي ؟

جواب: نابالغو ماشومانو ته که غریب هم وي صدقه ورکول جواز نلري خو د هغوی سرپرست ته ورکول یې جواز لري. که ماشوم پوهیږي بیا یې ورکړه صحیح ده. که ماشوم د شتمن سړي اولاد وي په هیڅ ډول د صدقې ورکول ورته جائز نه دي. (فتاوى محموديه ج ۷ ص ۲۶۹)

چیرې چې فقراء نه وي د فطر صدقه به څه وخت ورکوي

پوښتنه: که په کوم هیواد کښې شرعي فقراء نه وي. خلک د فطر صدقه یوه غریب هیواد ته واستوي ایا مستحب په ځای کیږي ؟

جواب: صدقه تر لمانځه وړاندې فقراء وو ته ورکول مستحب ده. که داسې هغه ببله شي خو فقراؤو ته ورنکړل شي مستحب نه په ځای کیږي. خو دا په عادت کښې تحقق نه مومي چې په کوم هیواد کښې دې فقراء نه وي که رښتیاهم داسې وشول دبل هیواد فقراؤو ته دې واستوي خو د عذر له امله هغه شخص د مستحب تارک نه بلل کیږي.
(فتاوى دارالعلوم ج ۶ ص ۴۱۷ د عالمگیری مصری ج ۱ ص ۱۸۰ باب الثامن صدقة الفطر په حواله)

ایا بندیان د مسکینانو په ډله کښې دي ؟

پوښتنه : که چېرې له بندیانو پرته نور فقرا نه وو نو صدقه به څرنګه اداء کیږي ایا بندیان فقراء بلل کیږي ؟

جواب : کوم بندیان چې د نصاب څښتنان نه وي هغوی مسکینان بلل کیږي او صدقه ورکول ورته جواز لري.

(فتاوی دارالعلوم ج ۶ ص ۳۱۲ دردمختارباب معرف ج۲ص۱۷۹و۷۸ په حواله)

که په لیک کې پیسې ونه رسېدې بیابه صدقه ورکوي ؟

پوښتنه : چا د فطر د صدقې پیسې د لیک په ملګرتیا د پوسته خانې له لارې یوه دارالایتام ته واستولې. خط ورسېد خو پیسې ورسره نه وې. ایا دا شخص د صدقې له ورکړې خلاص دي که به یې بیا ورکوي.

جواب : په دې صورت کښې د دې شخص زکات او د فطر صدقه نه اداءکیږي څکه پوسته خانه د لیږونکي وکالت نه کوي. هغه ته رسېدلې ده خو هغه ورکړې نه ده. (کفایت المفتی ج ۴ ص ۲۷۹)

د عقیقې دنومونې لامل

عقیقه له (عق) څخه مشتق ده. په لغت کښې د عق معنی ده ببلول ، شق کول اوپه اصطلاح کښې د ماشوم د سر هغو وېښتانو ته ویل کیږي چې له اول څخه د ماشوم په سر راختلي وي. هغه وېښتان په دې اعتبار عقیقه بولي چې په اوومه یې لیرې کوي. په همدې مناسبت عقیقه هغه پسه (مرږ-وزې) ته هم ویل کیږي چې د ماشوم د سر د خریيلو په وخت کښې حلالیږي. (مظاهر حق جدید ج ۵ ص ۶۵)

د(عق) لفظ چې دعین په زبراودقاف په تشدید دی. په لغت کې شق او چاک کولو ته وایي ،اودماشوم له لوری قربانول چې دزیږېدلو په لومړۍ اونۍ کې وی. دمورپه نس کې چې کوم وېښتان دماشوم په سروی هغه لیرې کول

اوصافول ،عقیق چې دامر پروزن ده اوعقه دعین په زبر اوقاف په تشدید .
عقیقه دسفینه پروزن دانسان اوڅاروی دماشوم وینښتان . دعقیقه معنی
داوښ دبچی وینښتان هم بلل کیږي .دپسه اووزې بچی چې دزیږیدلو په
لومړی وونی کې حلال شي هم عقیقه بلل کیږي دزیږیدلو په وخت کې چې
دماشوم په سروینښتان وی له دی امله ورته عقیقه ویل کیږي چې دعق
معنی شق اوچاک دی . همداشان غوښه اوپوست چاک کوي اوراخیژي
نوددي څاروی نوم هم مجازا ږدي چې دماشوم لپاره ذبح کیږي .داچې
دماشوم دسروینښتان ددی څاروی دذبح کولو سبب ګرزي نودسبب چې
کوم نوم دی هغه مسبب ته ورکول شوی دی . ادنی مجازی معنی دومره
مشهوره شوی چې دعقیقې نوم اخیستل کیږي سمدستې هغه څاروی ذهن
ته راځي چې دماشوم دزیږیدلودوخت دوینښتانولیری کولو له امله ذبح
کیږي .(محمدرفعت قاسمی)

عقیقه څه شی ده؟

عرب خلک د خپل اولاد عقیقه کوي. په عقیقه کښې ډېر مصلحتونه دي د
هغې ګټه کورنی ، غیر کورنی او عقیقه کونکي ته رسیږي. رسول الله
(ص) هغه منع نه کړه او په هغې یې عمل هم وکړ نور یې هم ورته تشویق
کول. په عقیقه کښې مصلحتونه دادي:

۱-د عقیقې له نور ښیګنو سره سره دیو ماشوم د نسب شهرت دي .دنسب
شهرت یو ضروری شی دي. ترڅو څوک د ماشوم د نسب په هکله بده خبره
ونکړي. د پلار لپاره د خپل ماشوم د پیدا کېدلو د تشهیر لپاره همدا ور
اوغوره لاره ده.

۲- په عقیقه کښې د سخا د عمل پیروي کیږي او دبخل مخالفت.

۳- مصلحت دا هم دي چې په نصارا وو کښې به ماشوم وزیږیده هغه به یې
په ژیړو اوبو رنګاوو او ویل به یې دا ماشوم نصرانی شو . د دې مشاکلت

په هکله الله ﷻ فرمايي: ((صبغة الله ومن احسن من الله صبغة)) (موږ د الله ﷻ رنګ (حق دين) منلي دي. د الله ﷻ تر رنګ د چا رنګ غوره دي) مناسب دا دي چې په محمدی دين کښې د نصاراوو په مقابل کښې دا امتياز ولري چې ماشوم حنفی يعنې اسلامی ، په ابراهيمي ملت او د اسماعيل ﷺ تابع معلوم شي . د ابراهيم او اسماعيل ﷺ دېر افعال ځانګړي وو چې په اولاده کښې يې را نقل شوی دي په هغوی کښې خورا مشهوره پيښه د ابراهيم ﷺ د خپل زوی د قرباني کولو پيښه وه چې ورته چمتو شو خو خدای ﷻ د هغه په بدل کښې د ذبح عظيم (سترې قربانۍ) انعام ورکړ . د ابراهيم ﷺ په يادګارونو کښې يو هم حج دي چې په هغه کښې هم سرخرييل کيږي او څاروی حلاليږي .دا ټولې خبرې له هغه سره ورته والې پيدا کوي او معنی يې داده چې موږ او زموږ اولاد په ابراهيمي ملت کلک ولاړ يو . يعنې د ابراهيم ﷺ په دين چې اسلام ورباندې بناء دي .۴- دا هم يو مصلحت دي چې عقيقه د ماشوم له پيدا ابښت سره کيږي د دې خبرې خيال پکښې پيدا کيږي چې ګوا کې دا ماشوم د خدای ﷻ په لار کښې ورکول کيږي لکه ابراهيم ﷺ چې له خپل زوی سره داسې کړي وو . يعنې اسماعيل ﷺ يې د الله ﷻ په لار کښې قرباني کاوو . په دې سره د احسان سلسله ، عجز او فرمان منلو حرکت هم معلوميږي . (حجة الله البالغه ص۵۰۸)

په عقيقه کښې دوه کارونه کيږي يو د ماشوم سر خرييل کيږي او بل د ماشوم په شکرانه او فديه کښې څاروی قرباني کيږي . په دې دواړو عملونو کښې يو خاص مناسبت او رابطه شته . دا د ابراهيمی ملت شعائر (نښې يادګارونه) دي. حج هم داسې ده له داسې دوو کارونو جوړ دي حاجی تر قربانۍ وروسته خپل سر خريي . په دې توګه عقيقه يو عملی اعلان دي چې زموږ تعلق د الله ﷻ له خليل ابراهيم ﷺ سره دي. او ماشوم هم د ابراهيمي ملت يو جزء دي. (معارف الحديث ص۲۷ ج۶)

د عقیقې شرعی حکم

پوښتنه : د ماشوم د عقیقې شرعی حکم څه دي ؟ چاويل چې عقیقه یورسمي شی دي د اسلام حکم نه دي او امام ابو حنیفه (رح) هغه بدعت او مکروه بللې ده صحیح پکښې کومه خبره ده؟

جواب: په حنفی مذهب کښې عقیقه مسنون او مستحب ده. (رواج نه دي) اسلامي طريقه ده. په امام ابوحنیفه (رح) پسې داسې ويل بهتان او غلط دي په (مالابد منه) کښې راځی چې عقیقه د امام مالک (رح) ، امام شافعی (رح) او امام احمد (رح) په نزد مؤکد سنت ده. د امام احمد (رح) په یوه روایت کښې لاواجب بلله شوېده خو د امام ابوحنیفه رح په نزد مستحب ده . هغه ته د بدعت خبره منسوب کول په امام صاحب رح پورې افتراء ده. (مالابدمنه ص۱۷۸)

د ماشوم د زېږېدلو په شکریه او له آفاتو څخه د حفاظت په ډول اوومه ورځ د ماشوم په هکله دوه څاروی او دماشومې په هکله یو څاروی ذبح کول د وېښتانو په وزن سپین زر یا یې بیه صدقه کول او ماشوم په سر زعفران وهل تول مستحب او په حدیث کښې ثابت دي.قال قال رسول الله (ص) کل غلام رهینة بعقیقته تذبح عنه یوم سابعه و یحلق ویسمی راسه. (ترمذی شریف ص۱۸۳ج۱)

(د رسول الله (ص) ارشاد دي: ماشوم د خپلې عقیقې مرهون (گرو) دي نو اوومه ورځ دې د هغه له لوري څاروی ذبح کیږي نوم دې اېښودل کیږي او سر دې خرييل کیږي) په مرهون سره زیات مطالب بیان شوي دي. مثلا :

۱-په حدیث شریف کښې راځي چې ماشومان د مور او پلار سپارښتنه کوي او دعفوی شفیع وي . که له شتمني لرلو سره سره څوک د ماشوم عقیقه ونکړي نو که ماشوم په ماشومتوب کښې ومري د مور اوپلار

شفاعت نه کوي . یعنې داسې ګروي (رهن راځي چې ګټه نلري . همدا ماشوم هم د مور او پلار په کار نه ورځي.

۲-له عقیقې څخه پرته د ماشوم روغتیا هم له خیر او برکت څخه بې برخې وي یعنې تر څوچې عقیقه ونشي نو ماشوم له ناروغتیا سره نژدې او له حفاظت څخه لیري وي.

۳-رسول الله (ص) یوه وزه ذبح کړه او د امام حسن (رض) عقیقه یې وکړه فاطمې (رض) ته یې امر وکړ چې د هغه سر وخریبه او دوینبتانو د وزن په اندازه یې سپین زر خیرات کړه .(ابوداؤدشریف ص۳۷ج۲)

ابوهریره رض فرمایي : د جاهلیت (تراسلام وړاندې) زمانه کښې که به ماشوم وزیږید . وزه (څاروی) به موذبح کاوو او د هغې وینه به مو د ماشوم په سروهله. خو چې په اسلام سره الله ﷻ ونازولو نو اوس هم اوومه ورځ څاروی ذبح کوو د ماشوم سر خریبو او زعفران وربانديې وهو . (ابوداؤدشریف ص۲۶ج۲)

د رسول الله (ص) ارشاد دي. ((په عقیقه کښې د ماشوم لپاره دوه وزې او دماشومې لپاره یوه وزه (څاروی)ده.دا فرق نکوي چې وزه ده که وزګوړ. (فتاوی رحیمیه ص۹۲ج۲)

د عقیقې په بدل کې د ماشوم د رهن په هکله شارحینو مطالب ویلي دي. یو دا چې ماشوم د الله ﷻ یو ستر نعمت دي . د شتمن سړي لپاره عقیقه شکرانه او فدیه (بدله) ده. ترڅو چې دا شکرانه اوفدیه اداء نکړي هغې ته کیږي او ماشوم د هغه په بدل کښې رهن پاتـه کیږي. (معارف الحدیث ص۲۶ج۶)

په عقیقه کښې د رسول الله ﷺ عمل

(له علی ابن ابی طالب (رض) څخه روایت دي وایي : عق رسول الله (ص)عن الحسن بشاة وقال یافاطمة احلقي راسه و تصدقي بزنة شعره فضة فوزناه فکان وزنه درهما او بعض درهم (رواه الترمذی)

(رسول الله(ص) د حسن(رض) په عقیقه کښې یو پسه ذبح کړ او فاطمې (رض) ته یې وفرمایل: د هغه دسر ویښتان لیرې کړه او دوېښتانو په وزن یې سپین زر صدقه کړه موږ اندازه کړل (وېښتان) یو درهم یا څه کم وو.)

(عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده قال. قال رسول الله (ص) من ولد له ولد فاحب ان ینسک عنه فلینسک عن الغلام شاتین وعن الجاریة شاة)له عبدالله ابن عمرو بن العاص (رض) څخه روایت دي چې: (رسول الله (ص) وفرمایل: د چا چې ماشوم وزیږي د هغه له لوري دې عقیقه کوي. د ماشوم له لوری دوه پسونه (څاروی) او د ماشومې له لوري دې یو پسه قرباني کړي)

تشریح : له دې حدیث شریف څخه څرګندیږي چې عقیقه د فرائضو او واجباتو په څېر لازمي نه ده. د هغه درجه د استحباب ده. والله اعلم همداسې د ماشوم لپاره هم دوه پسونه ضروري نه دي. هو که شتمني وه دوه غوره دي کنه یو کافی دي. د دنیا په ټولو قومونو کښې دا خبره سر ه شریکه ده چې د ماشوم زیږیدل یو نعمت اود خوشحالۍ خبره بولي اود مراسمو په ورځ کښې هغه خوشحالي څرګندوي. دا دانساني فطرت تقضاهم ده او یو مصلحت هم څکه په یو خورابنه تعبیر پلاردا ښکاره کوي چې دا ماشوم زما زوی دی او په خپله مېرمن په دې هکله کوم شک او شبه نلري. په همدې سره د ډېرو فتنو مخه هم نیوله کیږي. په عربو کښې تر اسلام وړاندې هم عقیقه رواج وه. د ماشوم ترز یږیدلو څوورځې وروسته به یې د ماشوم د سر هغه ویښتان لرې کول چې په پیدا ایښت کښې یې په سروو. په دې خوشحالي کښې به یې یو څاروی ذبح کاوو (دا د ابراهیمي ملت یوه نښه ده) رسول الله(ص) دا په اصولی ډول پرېښودل بلکه دې ته یې خلک ترغیب کړل په دې هکله یې مناسبې لارښوونې وکړې او په خپله یې د عقیقې عمل نمونه پرېښودله. (معارف الحدیث ص۲۲ بیاتر ۲۹ ج۶)

عقیقه سنت ده که واجب ؟

عقیقه کول مسنون او مستحب ده فرض او واجب نه ده . تر پیدا ینبت وروسته په اوومه ، څوارلسمه یا یوولسمه ورځ کیږي . تراوومې ورځې وړاندې عقیقه کول صحیح نه دي . د ویښتانو په وزن برابر سپین زر یا یې قیمت صدقه کول مستحب دي هغه حجام (نایي) ته په مزدوری کښې ورکول صحیح نه دي . دا ویښتان په ځمکه کښې ښخول هم مستحب دي
تشریح : په مشکوة شریف کښې دي چې رسول الله (ص) وفرمایل : ماشوم د خپلې عقیقې په عوض کښې ګرو دي . که په ماشوم متوب کښې ومري او عقیقه یې شوې نه وي په قیامت کښې د مور او پلار شفاعت نه کوي .
علماء وایي : که د چا وس وی او عقیقه ونکړي نو د ماشوم له شفاعت څخه به بې برخې وي . غوره داده چې د پیدا ینبت په اوومه ورځ عقیقه وشي او نوم وړاندې کښیښودل شي . د سر ویښتان یې لیرې او په سریې زعفران ووهل شي . که ماشوم وي دوه او که ماشومه وي یو پسه حلال شي . که مذکر وي او که مؤنث (مږ- میږه) عمرونه یې د اختر د قربانۍ په عمر وي . نور شرائط یې هم د قربانۍ له شرائطو سره برابر وي . (فتاوی محمدیه ص ۲۴۴ ج ۸)

عقیقه تر کوم عمر پورې کیږي ؟

د عقیقې مستحب طریقه داده چې اوومه ورځ کیږي . که ونه شوه په څوارلسمه یا یوولسمه یوویشتمه ورځ ذبح کړي . (طبرانی) ډیر علماء داوو ورځو په لحاظ تر بلوغ پورې وخت لیکي . خو نور بیا د وخت قید نه ورکوي . عقیقه کول غوره دي . په څورلسمه یا یوویشتمه دي وشي خو له مجبورۍ پرته دې تردې نه ځنډیږي . (فتاوی رحیمیه ص ۹۲ ج ۲)

مسئله : تر ډیره عمره عقیقه جائز ده خو هغه څه عقیقه ده هغه یوه خیراتي ذبیحه ده . (کفایت المفتی ص ۲۴۴ ج ۸)

د ماشوم عقيقه به څوک کوي ؟

پوښتنه : که د ماشوم والدين د نصاب څښتنان وو او د ماشوم عقيقه ماما، کاکا، نيکه ، انا او يا نورو وکړه صحيح ده ؟ عقيقه کيږي او که به يي والدين بيا کوي ؟

جواب : د چا په ذمه چې د ماشوم نفقه واجب وي. دهغه په ذمه عقيقه هم ده . که پلار مالدار نه وو مور دې عقيقه وکړي که مور هم شتمنه نه وه نو پوراخستل او عقيقه کول ضرور نه دي . (فتاوى رحيميه ص ۹۴ ج۲)

که بيا هم دوالدينو وس نه وو بل چا عقيقه کوله او والدين راضي وو نو کافي ده او بيا کولو ته يي اړتيانشته . (فتاوى رحيميه ص ۱۷۴ ج۶)

په عقيقه کښې يو څاروى کافي دي ؟

که شتمني وه د ماشوم لپاره دوه وزې يا پسونه او يا دلوى څاروى دوې برخې کافي دي. که کم وسي وه بيا يوه وزه يا يوپسه يا د لوى څاروى په اوو برخو کښې يوه برخه کافې او عقيقه کيږي . (فتاوى رحيميه ص ۹۴ ج ۲)

مسئله : د حسن او حسين (رض) په عقيقه کښې رسول الله (ص) يو ،يو پسه د دې لپاره ذبح کړ چې هغه مهال همدومره وس وو او د هغه چا لپاره چې کم وس وي يوه نمونه هم وه . (معارف الحديث ۲۸ ج ۲)

عقيقه ولې په اوومه ورځ کيږي ؟

په اوومه ورځ د قربانۍ کولو وجه دا معلوميږي چې د ماشوم د زيږيدلو او عقيقې تر مينځ څه وخت وي. په لومړنيو ورځو کښې د مور او ماشوم د پوښتنې لپاره خلک څي او راځي خپلوان مشغول وي او که د عقيقې حکم په لومړۍ ـ ـ ح سنت بلل شوې واى خلک په تکليف کېدل او همدا اووه ورځې موده يوه مناسبه موده ده. (حجة الله البالغه ص ۵۰۹ ج ۱)

بېداکېدلو په لومړی ورځ د عقیقې امر غالبا له دې امله ورکړل شوی نه دی چې په هغه ورځ ټول د ماشوم د مور د روغتیا په فکر کښې وي. او په همدې لومړی ورځ د ماشوم د سر ویښتان اخیستل زیانمن وي په یوه اونۍ وخت کښې معمولا د ماشوم مور روغیږي او ماشوم هم د دې نړۍ له هوا سره روږدي کیږي او د سر په خریلو د زیان کومه خطره نه وي.
(معارف الحدیث ص ۲۶ ج ۶)

د ماشوم لپاره ولې دوه پسونه دي؟.

ځوک چې شتمن وي او د دوو پسونو وس ولري ورته مستحب دي چې د ماشوم په عقیقه کښې دوه پسونه حلال کړي او سبب يې دا دي چې د خلکو په نزد تر نجلۍ د هلک ګټه زیاته دهٔ. دوه حلالول زیا توالی دي او د هغه له عظمت سره مناسب دي. (حجة الله البالغه ص ۵۰۶)

دعقیقې دود په یهودو کې هم شته. یوازې د ماشومانو (هلکانو) له لوري عقیقه کوي او د نجونولپاره يې نکوي. غالبا د دې وجه دا وایي چې نجونې کم وسه دي. رسول الله (ص) دا کار هم اصلاح کړ او وې فرمایل د ماشوم په څېر د ماشومې لپاره هم عقیقه کوئ. خو دا چې په دواړو صنفونو کښې فطری فرق موجود دي (چې په میراث قانوني شهادت اونورو شیانو کښې هم دا لحاظ ساتل شوي دي) په هغه اساس رسول الله (ص) د ماشوم لپاره دوه پسونه او دماشومې لپاره یو پسه په عقیقه کښې وټاکه هغه هم دوس په صورت کښې دوه که نه وه یو هم کافي دي.
(معاف الحدیث ص ۶۴ ج ۶ د کنز الاعمال په حواله ص ۲۷۲)

الله تعالی سړی ته پرښځه فضیلت ورکړی دی لکه په میراث کې چې د سړی دوې برخې دی ،دیوه سړي شاهدي له دوو ښځوسره برابره ده په لمانځه کې دمیرمنې امامت صحیح نه دی ،نوضرورده چې په عقیقه کې هم دماشوم اوماشومې توپیرشوی وی .دافرق دوه ډوله دی : یوداچې دماشوم لپاره

عقیقه وشی اودماشومې لپاره ونشي ،لکه دسړی امامت چې سم دی اودمیرمنې صحیح نه دی ،دوهمه لاره داده چې دماشوم لپاره دوه پسونه ذبح شی اودماشومې لپاره یو.لومړی طریقه خوکیدلای نه شی ځکه په حدیث کې دماشومې لپاره هم عقیقه راغلی ده ،نوداتوپیرشوی دی چې دماشوم لپاره دوه اودماشومې لپاره یوپسه مقررشوی دی . والله اعلم
(محمدرفعت قاسمی)

د ماشوم د ویښتانو په وزن ولې خیرات کیږي؟

د ماشوم د ویښتانو په وزن د خیرات کولو وجه دا ده چې ماشوم د ناپاکي له حالت څخه د ماشوم په څېر نړۍ ته راځي د دې ستر نعمت شکر واجب دي او غوره شکر دا دي چې د هغه په بدل کښې څه شي ورکړي لومړی ویښتان د ناپاکي نښه دي د هغه لیرې کول د ماشومتوب د استقلال نښه ده . له دې امله صدقه یي واجب ده او بدله یي سپین زر دي ځکه سره زر ګران دي او له شتمنو پرته له بل چا سره نه وي بل دا څه بیه نشته چې د ماشوم د ویښتانو د وزن بدل ورکړل شي. (حجة الله البالغه ص۵۰۹)

دعقیقې په لړ کښې د قرباني ترڅنګ د ویښتانو په وزن د پیسو زرو یا یي د قیمت د صدقې یادونه هم شوې ده نو هغه هم مستحب ده . رسول الله (ص) فاطمې (رض) ته د حسن (رض) د ویښتانو د بدل د سپینوزرو د صدقې وویل خینې پوهان وایي چې هغه مهال د علی او فاطمې (رض) اقتصادی وضعه کمزورې وه نو د عقیقې قرباني. رسول الله له خپله لوری وکړه خو فاطمې (رض) ته یي وفرمایل چې د ماشوم د ویښتانو په وزن سپین زر دا صدقه کړي. تر څو دوالدینو له لوري هم د شکر انې صدقه د الله ﷻ په دربار کښې وی. (معارف الحدیث ص۲۹ ج۶)

د ماشوم په سر دزعفرانو دلګولو ثبوت

(عن بريدة قال كنا في الجاهلية اذا ولد لاحدنا غلام ذبح شاة و لطخ راسه بدمها فلما جاء الاسلام كنانذبح شاة يوماسابع ونحلق رأسه و نلطخه بزعفران. ابوداؤد) (له بريدة (رض) څخه روايت دي: د جاهليت په زمانه کښې که به د چا ماشوم وزيږيد پسه به يې ذبح کاوو او د هغه په وينه به يې د ماشوم سر رنګاوو . کله چې اسلام راغی زمونږ طريقه دا شوه چې اوومه ورځ پسه ذبح کوو دماشوم سر خرييو او زعفران ورباندې وهو .) رسول الله (ص) فرمايي: ((اجعلوا مكان الدم خلوقا)) (د ماشوم په سروينه نه بلکه خلوق ورووهئ) خلوق يو ه بوی لرونکې مرکب دي چې له زعفران اونورو شيانو جوړيږي . (معارف الحديث ص۲۳ ج۶)

دماشوم له عقيقې سره خپله عقيقه کول

مسئله : که تاسوته معلومه وه چې ستاسو او ستاسو د والدينو عقيقه شوي نه ده نو د خپل ماشوم له عقيقې سره دټولو عقيقه کولای شي. د هغه لپاره لوي ځاروی حلالول صحيح دي. خو که ستاسو يا ستاسو د والدينو عقيقه شوي وه نو دوهم ځلې عقيقه کول جوازنلري. او له ماشوم سره يې په ځاروی کښې شريک کولای نشي. ټول ځاروی دې د ماشوم لپاره ذبح کړي اويادې د شغه عقيقې ته پسه (وروکي ځاروی) واخلي. دا خبره سمه نه ده چې د قرباني له ورځو پرته په نورو ورځو کښې دعقيقې لپاره لوي ځاروی نه حلاليږي. لوی ځاروی د عقيقې لپاره هر وخت حلالېدلای شي. (فتاوی رحيميه ص۱۷۹ ج۶)

د مړه شوي ماشوم عقيقه

عقيقه په ژوند کښې کيږي. تر مړينې وروسته يې مستحب والي ثابت نه دي. که يې شرکت مستحب و ګڼي او يوازې د شفاعت په هيله يې وکړي

جواز يي ليدل کيږي. لکه دا چې څوک حج ونکړي له وصيت څخه پرته ومري او وارث يي د مغفرت په هيله په خپل مصرف حج وکړي اميد دی چې الله ﷻ يي قبول کړي. په دې صورت کښې به د عقيقې خاروي څانته وي. احتياطا دې د قرباني کوونکو کسانو سره نه شريکه کيږي.
(رحيميه ص ۱۷/۳ ج ۲)

مسئله: که د څاروی تر حلالولو وړاندې ماشوم ومري او د هغه د برخې نيت بدل کړي او د قربانۍ کوونکي شريک کړي يا پرته له شريک څخه يي قرباني کړي هم قرباني کيږي او هم د عقيقې برخه د قربت ذبيحه ګرځي.
(کفايت المفتی ص ۲۰۵ ج ۸)

مسئله: که چا د ماشوم د عقيقې لپاره څاروی واخيست. ناڅاپه ماشوم مړ شو د ده اراده بدله شوه او څاروی يي بهرته خرڅ کړ او پيسې يي زده کوونکو ته ورکړې دا صحيح ده. زده کوونکي هم دا رقم اخستلای شي او تر ورکولو وروسته يي بېرته له زده کوونکي څخه اخيستلای نشوای، جواز نلري. (فتاوی محموديه ص ۳۵۱ ج ۱۱)

يادونه: خينې کسان د رسول الله (ص) او صحابه کرامو يانورو مرحومينو په نوم عقيقه کوي. دا غلط رواج دی ځکه عقيقه يوازې يوځل کېدلای شي . د مړه شوي شخص لپاره په شريعت کښې د نفلي قرباني اجازه شته چې خورا زيات ثواب لري. نفلي قرباني د ژوندي او مړ د دې دواړو لپاره کېدلای شي او چې څوک مړه کېدلای شي و د دې کړ ي خو عقيقه کولای نشي.
(رفعت قاسمی)

د دوو ماشومانو په عقيقه کښې لوی څاروی حلالول

پوښتنه: که يو شخص د خپلو دوو ماشومانو عقيقه کول. يولوی څاروی يي واخيست او د دواړو په عقيقه کښې يي ذبح کړ صحيح ده او که جوازنلري؟ ياد قرباني ورځې وې دوه، دوه برخې ... د دوو ماشومانو

عقيقه کړي او درې نوري برخې بې نوروته د قرباني لپاره ورکړي صحيح ده او کنه ؟

جواب : د دوو ماشومانو په عقيقه کښې لوی څاروی حلالول صحيح دي ضرورنه ده چې نور کسان شريک شي. که د قرباني په ورځو کښې څلور برخې په يوه څاروی کښې د درو ماشومانو عقيقه وي. درې برخې قربانې کول شرعا صحيح دي. (فتاوی محموديه ص ۳۲۶ ج ۴)

مسئله :ددووماشومانواويوې ماشومې لپاره که دګاومينبې ياغوادوه کلن خوسکی وی عقيقه ئي صحيح ده بلکه تراووبرخوپوري صحيح ده. (فتاوی محموديه ص ۳۵۱ ج ۱)

مسئله : که چا کوم څاروی نذر کړ بيا ورته الله ﷻ ماشوم ورکړ. او س هغه څاروی عقيقه کولای نشي او نه يي په واجبه قرباني کښې ذبح کولای شي بلکه هغه به په مستقل دول. له خپل نيت سره سم ذبح او صد قه کوي (کفايت المفتی ص ۲۰۲ ج ۸)

د عقيقې مسائل

د ماشوم دزيږيدلو په ا وومه ورځ به عقيقه کوي او نوم به ورباندې ږدي. که نوم تر اوومې ورځې وړاندې کښيږدي جو از لري. (کفايت المفتی ص ۲۴۲ ج ۸)

مسئله : که چا په اورمه ورځ عقيقه ونکړه بيا دې هم د اوومې ورځې په خيال قرباني وکړي. داغوره ده. طريقه يي داده چې د ماشوم تر زيږيدلو دې يوه ورځ وړاندې عقيقه کوي. مثلا ماشوم په جمعه پيدا شوی دي. د پنجشنبې په ورځ دې عقيقه کوي او که په دوشنبه زيږيدلې وو په يکشنبه دې عقيقه کوي. او داسې نور...

مسئله : داسې دستور دې چې حجام دماشوم د سر خريېل پيل کړي سمدستي څاروی حلالوي. دا يو معمول رسم دي. په شريعت کښې دواړه لوري جائز دي که اول سرخريي او که اول ذبح کوي دواړه جائز دي.
(بهشتی زیور ص ۴۳ ج ۳)

مسئله : ځينې کسان د عقيقې څاروی په منی کښې حلالوي او د ماشوم سرپه بل هېواد مثلا افغانستان کښې خريي. د دې خبرې کوم صراحت نشته. ممانعت به هم نلري خو غوره دا ده چې د عقيقې ټول امور هلته وشي چېرې چې ماشوم وي دا کار غوره او د احتياط لوري دي.
(کفایت المفتی ص ۲۴۲ ج ۸)

مسئله : د سرتر خريېلو وروسته دې د هغو ويښتانو په وزن سپين يا سره زر يا يي بيه خيرات کړي. او زعفران دې پرې ووهي.
(بهشتی زیور ص ۴۲ ج ۳)

مسئله : د ماشوم په عقيقه کښې دوه وزې يادوه اوزګوري يا دوه وزې او يا دوې ورې ذبح کول مستحب دي که وس نه وي يو کافی دي.
(کفایت المفتی ص ۲۴۴ ج ۸)

مسئله : که بالکل عقيقه ونشي هم څه حرج نشته. (بهشتی زیور ۴۳ ج ۳)

مسئله : يولوی څاروی چې قربانې يې صحيح کيږي په عقيقه کښې هم اوه برخې کيږي. (د قربانۍ په څېر اوه برخې کيږي) د يوه برخه عقيقه ده)

مسئله: په يوه لوی څاروی کښې د عقيقې په نيت څو تنه شريک کېدلای شي په دې شرط چې نيتونه يې يا د قربانۍ يا د عقيقې وي. که د ځينو نيت د قربانۍ او د ځينو عقيقې وي سره شريک کېدلای شي. بل شرط پکښې دا دي چې د چا برخه به تر اوومې کمه نه وي. يعنې اوه سره برخې به برابرې وي. (کفایت المفتی ص ۲۴۲ ج ۸)

مسئله : د عقیقې غوښه هم دریمه برخه مسکینانو ته ویشل غوره کار دي. نورې پاته دوې برخې د خپلوانو او دوستانو په میلمستیا کښې مصرف کولای شي. که ټوله غوښه په میلمستیا کښې مصرف کړي. عقیقه کیږي خو افضل کارنه دي. (کفایت المفتی ص ۲۴۴ ج ۸)

مسئله : د عقیقې په هکله مشهوره ده چې غوښه به یې مور ،پلار ،نیکه ، انا نه خوري خو دا غلطه خبره ده. په شریعت کښې د دې خبرې کوم اصل نشته. دا ټول کسان یې خوړلای شي. د عقیقې دخاروی هډوکي ماتول جائز دي ځینې خلک د عقیقې د څاروی هډوکي نه ماتوي خو د دې ممانعت کوم سند نشته. (کفایت المفتی ص ۲۴۲ ج ۸)

مسئله : که خلک دعقیقې غوښه خامه نه ویشي. پخه دې کړي له ډوډۍ سره دې ورکړي یا دې له وریجو سره ورکړي. دواړه صورته جائز دي.
(کفایت المفتی ص ۲۴۳ ج ۸)

د عقیقې غوښه خامه ویشله کېدلای شي ، پخه ورکول کېدلای شي ، میلمستیاورباندې کېدلای شي. (بهشتی زیور ص ۴۳ ج ۳)

مسئله : د قربانۍ اوعقیقې حکم یوډول دي. یعنې په لوی څاروی کښې اوه کسه د قربانۍ په څېر شریک کېدلا شي. یو لوی څاروی د اووماشومانو عقیقه کېدلای شي. لکه څرنګه چې د قربانۍ په غوښه کښې اختیار شته په عقیقه کښې هم شته. په خپله یې خوري ، خپلوانوته یې ورکوي یایې نورو فقیرانوته صدقه کوي. والدین او نور هر څوک یې خوړلای شي.
(عزیزالفتاوی ص ۷۱۶ ج ۱)

مسئله :دعقیقې اوقربانۍ غوښه کافرته ورکول صحیح دی.
(عزیزالفتاوی ص ۷۲۱ ج ۱)

مسئله : د احنافو په نزد د عقیقې دغوښې او د قربانۍ د غوښې حکم یو دي . د کور خلک او ټول خپلوان یې خوړلای شي. دالازمه نه ده چې د څاروی

سر سرخریبونکې او ورون دايي ته ورکړي. که يي ورکړي څه حرج نشته خو ضرور خبره نه ده. (عزيز الفتاوی ص ۲۱۶ ج ۱)

مسئله: د کوم څاروی چې قرباني صحح نه وه عقیقه يي هم سمه نه ده. او د کوم چې قرباني جواز لري عقیقه يي هم صحيح ده. (شامی ص ۲۹۳)

مسئله: څوک چې ليکي د عقيقې حکم د قرباني دي معنی يي داده چې که کوم څاروی قرباني کېدلای شي هغه عقیقه هم کېدلای شي. داسې څاروی دی نه ذبح کوی چې نه قرباني کيږي ،(يعنی کوم شرائط چې دقرباني څاروی لری لکه عمراونور کوم چې قرباني ورباندی صحيح نه ده دهغوئ لحاظ ساتل کیږي . (معمدرنعت قاسمی)

د عقيقې غوښه هم په خپله خوړلای شي ، خپلوانوته يي ورکولای شي او صدقه کولای شي او د عقيقې هم د هډوکو دنه ماتولو خبره داسې ده چې د امام احمد او امام شافعی (رح) په نزد مستحب ده خو د امام صاحب په نزد دا څه نشته . (فتاوی محمودیه ص ۲۲۶ ج ۸)

مسئله: عوام خلک د عقيقې د څاروی هډوکي نه ماتوي هغه ناروا گڼي. دا عقیده غلطه ده علماؤ د دې تردید کړې دي. (فتاوی محمودیه ص ۲۹۸ ج ۴)

مسئله: د عقيقې په نيت که څوک د قربانۍ په څاروی کښې شريک شي څه مشکل نلري او د اوومې ورځې رعايت يوازې مستحب کار دي . نوکه اوومه ورځ ونشی او د عقيقې نيت وکړي هم گنجايش پکښې بنکاري شاولي الله صاحب محدث دهلوي چې د اوومې ورځې کوم مصالح بيان کړي دي. د هغه د بيان غوښتنه هم دا ده . (فتاوی محمودیه ص ۳۲۲ ج ۴)

مسئله: په ښادي ، نکاح ، سنتی او عقيقې کښې د هيڅ ډول موسيقي جواز نشته. (عزيز الفتاوی ص ۷۲۹ ج ۱)

د عقیقې د څاروی د حلالولو وخت دعا

پوښتنه : د عقیقې د څاروی د حلالولو په وخت کومه دعاویله کیږي ؟

جواب : دعقیقې د حلالولو په وخت کښې (که یي یاد وه) دادعا ویله کیږي. اللهم هذه عقیقة ابنی (د ماشوم نوم) د مهابدمه وعظمها بعظمه و جلدها بجلده و شعرها بشعره اللهم اجعلها فداء لابنی (دماشوم نوم)

یادونه : که د ماشومې عقیقه وه داسې دعادې وایي : اللهم هذه عقیقة بنتی (دماشومې نوم) دمهابدمها و عظمها بعظمها وجلدها بجلدها و شعرها بشعرها اللهم جعلها فداء لبنتی (دماشومی نوم)که له پلار څخه پرته بل چا عقیقه کوله دابنی یا بنتي په ځای دې د ماشوم د پلار نوم اخلي (ابن فلان)له دعاسره دې داهم وایي : انی وجهت وجهی للذی فطر السموت والارض حنیفا وماانا من المشرکین. او بیادې اللهم منک و لک وواییي او بسم الله ، الله اکبر ذبح دې کړي .(فتاوی رحیمیه ص ۹۳ ج ۲)

یادونه : د ذبح کولو په وخت کښې که دعاورته یاده وه ودې وایي کنه ضرورنه دې پرته له دعا څخه هم جائز ده خو بسم الله ، الله اکبر دې نه پریږدي.

په ولیمه کښې د عقیقې غوښه استعمالول

پوښتنه : یو چا د ښادۍ په موقع کښې عقیقه وکړه . په میلمستیا کښې یي د عقیقې غوښه پخه کړه . خو رواج داسې ده چې په دې موقع کښې تحفې ورکولې کیږي. میلمانه تحفې راوړي او دا ضروری ګڼي. په دې صورت د همدې ښادۍ په ورځ میلمنو ته د عقیقې غوښه ورکول کېدلای شي ؟

جواب : د عقیقې غوښه له عوض او بدل څخه پرته خوړله کیږي. د ښادۍ په مراسمو کې چې میلمانه تحفې ور کوي هلته د دوډۍ د بدل اشتباه ده. نو ځان دې ترې ساتي . که تحفې ورکول رواج نه وو بیاییي په خوړلو کښې ستونزه نشته . د ښادي په میلمستیا کښې د عقیقې د غو...

کنبې يوه بله خرابي شته چې د مستحب خيال پکښې نه ساتل کيږي.
مستحب دادي چې اوومه ورځ عقيقه وشي او دريمه برخه غوښه فقراؤته
ورکړل شي. (فتاوی رحیمیه ص۱۷۲ ج۶)

مسئله: ځينې ليکي چې د عقيقې د څاروی څرمن د قربانۍ په څېر مهمه نه
ده خو هغه دې غرباؤ ته ورکوي. د نکاح در اجستر په اجوره کښې دې بيه
نه ورکوي .(فتاوی رحیمیه ص۱۷۳ ج۶)

د عقيقې دستور

د عقيقې په ورځ د ماشوم لپاره دوه څاروی او د ماشومې لپاره يو څاروی
حلالول غوښه يې پخه يا خامه ويشل. د ماشوم د سر د ويښتانو بدل سپين
زر يا يې بيه صدقه كول. سر خريل او زعفران وربانديې وهل. بس همدا
خبرې عقيقه او دثواب توكې دي. نور فضوليات بايد ترې ليرې شي ځينې
دادي.

۱- وروڼه يانور خپلوان سره توليږي شوروا چې خام حبوبات هم پکښې وي
ردی او بيانغدې پيسې اچوي او هغه د حجام (نايي ،سرخرييونکي) حق
کني او دا دکور د څښتن حق بولي.

۲- خويندې يانورې خپلوانې هم خپل حق غواړي. داله غير مسلم خلکو
سره مشابهت دی اونورې بدی هم لري.(دورکونکي نيت خرابيږي.کله هغه
وس نلري ورکړه وربانديې سخته تماميږي په نه ورکولو شرميږي او
مجبوريږي چې څه ورکړي دا زياده او دريا او شهرت لپاره د مال ورکړه
حرامه ده.

۳- په دې رواجونو کښې کله لامستحب پا ته کيږي که يې ددې رواجونو
وس نه وو عقيقه پريږدي او په کلونو عقيقه نه کيږي.

۴ يو رواج لا دا هم دی چې د ماشوم د سرپه خريلو پيل وکړي سمدستي
څاروی قرباني کوي دا هم غلطه خبره. په شريعت کښې دا قيد ...

سمدستي ذبح وشي. که ذبح لومړی کیږي او سر لومړی خرييل کیږي فرق نلري. په ښم دې ورځ دې دوارہ وشي. که وينښتان لومړی وخرييل شي او عقیقه د لوی اختر په قرباني کښې ونیسي هم جواز لري.

۵- يو عادت لادا دي چې د عقیقې د ځاروی سرنايي او ورون يي دايي ته ورکوي. دا هم لغوه خبرده. ورکول، نه ورکول يي اختيار دي. ورون دې نه وي نوري غوښه دې ورکړي څه زیان لري.

۶- څيني لا د عقيقې د ځاروی هډوکي ماتول ښه نه ګڼي او ښخول يي ضرور بولي دا هم بې اصله خبره ده. (بهشتي زيور ص ۱۲ ج ۶ د مشکوة شريف په حواله ۳۶۲مخ)

که ماشوم ته څه ورکول کيږي

مسٔله: د سنتي او عقيقې يانورو مراسمو کښې ماشومانو ته څه شي ورکول کيږي. دلته ورکړه ماشومانو ته موخه نه بلکه مور او پلارته يي ورکوي دا يوازې د ماشوم د مراسمو په خوشحالي کښې وي خو نغدې پيسې د ماشوم نه وي بلکه هغه د مور او پلار ملکيت دي. هر څه چې غواړي وربانديې کولای يي شي خو که څوک خاص ماشوم ته څه ورکوي، نيت يي ماشوم ته وي له والدينو څخه دبدل په نيت نه وي نو د هغوی مالک ماشوم دي. که ماشوم پوهيږي هغه ته ورکړه يي کافی ده او دې يي مالک دي. که ماشوم د ملکيت قابل نه وو. پلار يا نيکه دې قبض کړي او ماشوم يي مالک جوړيږي.

مسٔله: که يې پلار او نيکه موجود نه وو. نو د چا په غاړه چې د ماشوم روزنه ده هغه دې قبضه کړي. که پلار او نيکه وو، د مور انا او نورو قبضه کول اعتبار نلري. نه دې اخلي.

مسٔله: که پلار نه وو، نيکه د خپل زوی له لوري لمسي ته که څه شي ورکول غواړي په دې ويلو سره هغه هبه صحيح کيږي چې دی ووايي دا شې

ماورته ورکړ . که پلار او نیکه نه وو هغه مهال مور او ورور یانور که ماشوم ته څه شي ورکوي او هغه ماشوم د هغوی په روزنه کښې هم وي په همداسې ویلو ماشوم مالک کېدلای شي. د چا قبضې ته اړتیانشته.

مسئله : که کوم شی د نابالغ ماشوم ملکیت وي. حکم یي دا دي چې هغه ماشوم یي په خپله ښه لګولای شي. بل چا ته یې مصرف جائز نه دي. مور او پلار دې هم په خپله ګټه نه لګوي او نه دې دبل ماشوم په ګټه لګوي.

مسئله :که یې څه شی په ښکاره ماشوم ته ورکړلخو یقیني دا خبره وه چې منظور مور او پلار ته ورکړه ده یوازې د ماشوم مراسم بهانه وو اووا لدینو یې بیا بدله ورکوله هسې د کم والي او یا د لږ ګڼلو له امله یې ماشوم بهانه کړې وو نو مور او پلار یې مالکان دي. ورته وډې کتل شي که د مور خپلوانو ورکړي وو موریې مالکه ده او که دپلار خپلوانو ورکړي وو د پلار ملکیت دي. (بهشتی زیور ص ۴۶ ج ۵) د درمختار ص ۱۶۰ ج ۲ او شامی ص ۷۸۴ ج ۴ په حواله)

تمت بالخیر

ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه و لکل من سعی فیه ولوالدیهم اجمعین امین یارب العلمین

احقر محمدرفعت قاسمی

دژباړې پای ۲۶\۴۱۳۸۵ ه ش

نورو استاذانو ته هم دعاو کړئ.

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین ؛

احقر محمدرفعت (قاسمی)

ددیوبند (الهند) د دارالعلوم مدرس

محرم الحرام ۱۴۱۲ هجری

پاشلي ملغلرې

تصحيح او زياتونه

له لومړي ترځلورم ټوکه

انتخاب او ترتيب

حضرت مولانا محمد يونس

صاحب پالنپوري

ژباړن

حافظ رحمت نيازي

مكتبه رشيديه

سرکي روډ کوټه.

فون ٦٦٢٢٦٣١